**د افغانستان اسلامی جمهوريت**

**وروستي رپوټ**

**د افغانستان د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزه او**
**ولايتي شوراګانو ټول ټاکني**

**د اروپايي ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت**

دغه رپوټ په پښتو ، دری او انګليسي ژبو چمتو شوي دی ، خو يوازي انګليسي بڼه يی رسميت لري.
دغه رپوټ د اروپايي ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت له خوا چمتو شوي دی، چي د افغانستان د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ۲۰۰۹ کال د اګست مياشتي په شويو ټول ټاکنو کي ددغه څارونکي ماموريت موندني په ګوته کوي.
دغه نظريات د اروپايی کميسيون له خوا نه تاييد او نه منل شوي، او نه بايد پر دي رپوټ د اروپايی کميسيون د وينا په توګه تکيه وشي.
اروپايی کميسيون د هغو معلوماتو چي په دغه رپوټ کی راغونډ شوي دي د د قت او کر والی ضمانت نه کوي ، او نه هم ددي معلوماتو څخه د استفادي مسووليت په غاړه اخلي.

**د سرليکونو فهرست**

**I.د اجرااتو لنډيز**
**II. پيژندنه**
**III. سیاسي شالید**
A. سیاسي مفهوم

B مهم سیاسي لوبغاړي

C د حکومتدارۍ سیستم

**IV. ټاکنيزه سيستم او قانوني کاري چوکاټ**
**A.** ټاکنيزه سيستم

B. د ټاکنيزه حوزو پولي او د څوکيو د سهمي طرح

C. قانوني کاري چوکاټ

a) نړيوال معيارونه
b) د ټول ټاکنو لپاره ملی قانوني کاري چوکاټ

D. عمومي قانوني مفهوم

**V. د ټاکنو اداره**
A. د ټاکنو د اداري ترکيب او جوړښت

B. د ټول ټاکنو اداره

a) د ټاکنو د مامورينو او رايو د مرکزونو کارکوونکو ګمارنه او رزونه

b) رای ورکوونکو ته معلومات او ټولنيزي زده ګړي

c) د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون له لوري د درغليو کمول او موندنه

**IV. د رای ورکوونکو نوملیکنه**
A. د رای ورکولو حق

B. رای ورکوونکو نوملیکنه

**VII. د نوماندانو نوم ليکنه**
A. د سياسي ګوندونو نوملیکنه

B. د نوماندانو نوملیکنه او څارنه
C. د نوماندانو نا وخته انصراف
**VIII. ټاکنيزه کمپاين او له ټاکنو وړاندي چاپيريال**
A. د ټاکنو د کمپاين ارزونه

B. دولتی منابعو څخه ګټه اخيستنه

C. د کمپاين مالي منابع

D. د کمپاين پرمهال نيوکي

**IX . رسني او ټول ټاکني**
A. د رسنيو چاپريال

B. رسنيو او ټاکنو ته قانوني کاري چوکاټ

a) د ټاکنو د رسنيو کميسيون
C. د رسنيو له خوا د ټاکنو د پوښښ ارزونه

**X. د ښځو ګډون**
A. ښځي د رای ورکوونکو په صفت

B. ښځي د نوماندانو په صفت

C. ښځي د ټاکنو په اداره کي

D. ګټور نوښتونه

**XI. د ملی لړه کيو ګډون**
**XII. د مدني ټولنو ګډون**
**XIII. نيوکي او استيناف**
A. د ټاکنو شکايتونو کميسيون

B. ټاکنيزه جرايم

C. د ټاکنو په ورځ د رايو شميرني په برخه کي پر شکايتونو قضاوت

**XIV. د ټول ټاکنو ورځ**
**XV. پايلې**
A. جدول بندي او د پايلو اعلانول

B. د رايو خپرول

a). د ولايتي شوراګانو پايلي

C. د رايو بيا شيمرنه او ارزونه

D. د دوهم پړاو ټاکني

**XVI. وړانديزونه**

**د اجراااتو لنډيز**

**د اروپايي ټولني دټاکنو د څارني ماموريت** دافغانستان داسلامی جمهوريت او دټول ټاکنو دخپلواک کميسيون په رسمی بلنه د ۲۰۰۹ کال دجولای له دوهمی نيټي څخه د همدی کال دنوامبر تر شپږمي نيټي پوری په افغانستان کی شته ول ، ترڅو دافغانستان د ۲۰۰۹ کال داګست د۲۰ نيټي دولسمشريزه او ولايتي شوراګانو له ټاکنو څخه څارنه وکړي.
دبيلابيلو شتوو فشارونو سره سره چی **داروپايی ټولني دټاکنو دڅارني ماموريت** وسره مخامخ وو ، دغي ټولني دنړيوالو معيارونو او دافغانستان داسلامی جمهوريت د نافذو قوانينو په پام کی نيولوسره دافغانستان له ټول ټاکنو څخه څارنه وکړه.مونږ دافغانستان دټاکنيزه بهير په اړه دبيلابيلو مطبوعاتی اعلاميو او د ۲۰۰۹ کال داګست په ۲۲ نيټه خپله لمړني وينا څرګنده کړه.خنډونه ،نوري امنيتی ستونزي او د ټول ټاکنو د ورځي پرمهال دتاتريخوالي پيښی ددی سبب شوی چي زمونږ ناظرينو ونشوالی کړی چی د رای ورکولو ټولو مرکزونو ته لاسرسي پيدا کړي. دی مسلی ديوشمير نورو بنسټونو لکه دټول ټاکنو دخپلواک کميسيون ،د ټاکنو لپاره دملکرو ملتونو پراختيای پروګرام او دڅارني لپاره اړينو معلومات ته لاسرسي په برخه کی نا رضا يتونه هم له ځانه سره درلودل.

د افغانستان ولسمشريزه او دولايتی شوراګانو ټول ټاکني له ننګونو ډکي او په استثنايی چاپريال کی ترسره شوي.د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ ميلادی کال دټاکنو ترسره کيدو راهيسی چی دنړيوالی ټولنی له خوا تنظيم شوی وي ،د کليدي بنسټونو د پياوړی کيدو ، دقانون حاکميت او د فساد کنترول په برخه کی شته فرصتونه له لاسه لاړل. چي همدی مسآلی دمجرمينو د معافيت او د ناامنيو په ډيريدو کی مرسته وکړه او په پراخه کچه يی ديوه موثره او د يموکراتيک دولت اعتبار ته زيان ورسوه. برسيره پر دي وسلوالي نښتي د هيواد ډيرو برخو ته وغځيدي.

د۲۰۰۱ کال راهيسی کله چي د طالبانو رژيم راوپرزول شو، د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزه او دولايتی شوراګانو ټول ټاکني لمړني ټاکني وی چي پخپله دافغاني ادارو په مټ په لاره واچول شوي ،که څه هم دنړيوالی ټولنی په ځانګړي توګه دملکرو ملتونو(دصبا لپاره د قانوني او ټاکنيزه ظرفيت جوړني پروژه) پراختيايی پر**و**ګرام يا يی ،ايل سی ټي تخنيکی مرسته اوهمکاری ورسره وه .که څه هم ددغه پروګرام بريالتوب له يولړ پيښو څخه متاثره شوی وه او سره له دی چي د ۲۰۰۵ کال دټول ټاکنو پرمهال يولړ وړانديزونه شوی ول ، نړيواله ټولنه يوازي د ۲۰۰۸ کال په وروستيو کی وتوانيده چي د ۲۰۰۹ ميلادی کال دټول ټاکنو لپاره تشکيلاتي اړتياوو ته ځواب ووايي .نوموړي پروژی اوږدمهاله ژمنی په بر کی ونيولي ، اوهماغه مهال دملکرو ملتونو پراختيايی پروګرام (دصبا لپاره د قانوني او ټاکنيزه ظرفيت جوړني پروژه) په مؤثره توګه يوځای له ملی چاراواکو سره اجرات وکړل.نړيوالوسلاکارانو چي د( ي ايل يی سی ټي ) پروګرام لپاره يی کار کاوه ،هغه مهال دوی هم هماهنګي نه درلوده ، دا هغه وخت و چي **د اروپايی ټولني د ټاکنو دڅارني ماموريت** اړينو معلومات لټه کوله.

دولسمشري ټول ټاکنو لپاره ۴۴ نوماندانو د خپلواکه نوماند، قومی تعلقاتو ، شخصی او يا هم سياسی شهرت په موخه خپل نومونه ثبت کړي ول.چي دا په افغانستان کی دسياسي کوندونو ضعيفوالي په ګوته کوي.که څه هم اساسی قانون چی په ۲۰۰۴ کال تصويب شو ، دسياسی ګوندونو دجوړيدو اجازه ورکوي ، خو په ټاکنيزه کاري چوکات کی بيا افرادو ته اجازه ورکول کيږي که چيری وغواړي نوکولای شی ځان کانديد کړي.

دټول ټاکنو لپاره د ملی کاری چوکات بنسټ، دافغانستان دانتقالی دولت پرمهال او د بن د ۲۰۰۱ کال د پريکړو له پلی کيدو وروسته کيښودل شو.چي دي کار وکولای شول له تخنيکی اړخه د ديموکراتيکه ټول ټاکنو لپاره چي په نړيوالو معيارونو برابر وي لار پرانيزي .که څه هم په هغي کي ځينی نيمګړتياوی شته دی چي کولای شی دغه بهير له خطر سره مخامخ کړي،لکه دولسمشريزه ټول ټاکنو نيټی پرمهال د اساسی قانون دمقرراتو برابرول چي دکاری تکلاری له مخي ناشوني ده،دقضايی ارګانونو او دټاکنو دخپلواک کميسيون نه استقلاليت ،دټاکنو قانون په ځينی مادو کی نه وضاحت دبيلګی په ډول ( دځينی کانديدانو تيريدل او دهغي پايلی)، دټاکنيزه سيالی دمالی لګښت په بهير کی بی نظمی ،دټاکنيزه بهير پرمهال د ړونوالی ضمانت اوداسی نور اړونده مسايل. هغه قوانين چي د ټاکنو بهير رهبری کوي د يوه ځانګړي قانون له مخي توشيح شوی دی او دغه قوانين په سمه ټوګه خپور شوی نه وه، چي دا په خپله د ټاکنو په بهير کی دشفافيت ، وضاحت او ثبات دنشتوالی ښودونه کوي.

که څه هم دټول ټاکنو خپلواک کميسيون خپله دنده په مؤثره توګه سرته ورسوله اوتخنيکی ترتيبات هم د ورکړل شوی ْضرب الاجل له مخي او د پام وړ بنيادي اوامنيتی ستونزو اوننګونوسره ښه تنظيم کړی ول بيا هم دټول ټاکنو خپلواک کميسيون بی پری او شفاف ونه ګڼل شو.دټاکنو خپلواک کمسيون ونشواي کړی هغه معلومات چی د ټاکنو د اداری دمؤثره څارنی لپاره ضروری ول هغه ته لاسرسی رامنځته کړي. چی البته دغي مسلی په وروستيو پړاونو کی تشديد وموند ، دبيلګی په ډول ( درايو شميرنی او حساب ورکونی په بهير کی).دټول ټاکنو کميسيون په دی ونه توانيده چی د رای ورکونی دمرکزونو وروستي ليست دخلګو په واک کی ورکړی ،او دواړه رای ورکونکي اوناظرين يی دمؤثقو او بشپړ معلوماتو څخه چی په کوم ځای کی رای کارول شوي دي بی برخي کړل. دټول ټاکنو له ورځي وروسته دټاکنو خپلواک کميسيون د رای ورکولو د مرکزونو په اړه چی پرانيستل شوی ول ضد اونقص ، بی مؤثقه او بدليدونکی ارقام خپرول. درای ورکولو د مرکزونو ، او ددغه مرکزونو دکارکونکو او هغه کارکوونکي چی بيا وروسته کمارل شوي ول، دا چي څومره يی ښځينه وی شميره يی اوس هم نامعلومه ده. د ټول ټاکنو په کميسيون کی دجندر ځانګي رامنځته کول يوه مثبته مسآله وه، خو دهغه پيسی ناوحت واستول شول چی ونتوانيدل خپلی دندی په شه توګه سر ته ورسوی

دټاکنو دمرکزونو لپاره دښځينه کارکوونکو استخدام ډير ناوخته پيل شو ، چي دی امر دبرياللتوب موضوع تر پوښتنې لاندې راوستله.هغه ګودامنه چي په هغو کي دټاکنو دمرکزونو مهم او اساسي توکي ساتل کيدل د رای ورکوني په ورځ پرانستل شوی نه وه او دا د ټاکنو دخپلواک کميسيون ، دملګرو ملتونو پراختيای پروګرام او (صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي ظرفيت پروژي) د څارنکو کډ مسوليت وه.**په ځينو برخو کی دغه ټاکنيزه توکي په پراخه کچه ددرغليو سبب شول ، لکه درای ورکولو دخيالی مرکزونو کی رای پاڼو کاروني ښودل.**
د۲۰۰۵ ميلادی کال دتول ټاکنو دوړانديزونو سره سره دټاکنو دشکايتونو کميسيون (ايی سی سی) ډير ناوخته رامنځته شو،چي يو څه يی علت دمنابعو کموالي او امنيتی ملحوظات ول خو همدارنګه يوعلت يی په موقع اجرات نه کول ول.

دټاکنو دشکايتونو کميسيون ددی وړتيا درلوده ترڅو په مؤثره توګه يوعملياتي کاری چوکاټ رامنځته او د تيرو ټاکنو په پرتله ددی ټاکنو دشکايتونو په اړه منطقي قضاوت وکړي.د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزه او دولايتي شوراګانو تول ټاکني پرته له همغږي او رای ورکونکو دکره نوم ليکنی څخه ترسره شوی چي دي کار ددی بهير تماميت او ريښتنی ولي کمزوري کړه.

دکره نوم ليکنی درامنځته کولو په موخه دتير ۲۰۰۵ کال دتولو وړانديزونو سره سره ،يوازی معمولي بدلونونه په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونوکی تنيظم کړای شول.دنوم ليکنی په نوی پړاو کی دکابو ۴،۷ ميليونه کسانو نوم ليکنه وشوه ، چي ۱۲،۵ ميليونه کسان لا له وړاندی راجستر شوی ول، تول ټال ۱۷ ميليونه کارتونه په دوران کی ول.په دی کی کيدای شي په ميليونونو کارتونه داسی وی چي يو چا دوه ځلی اخستی وی خو درای ورکوونکو د نوي نوم ليکني بهير دټاکنو دورځي څخه وړاندی پای ته ونه رسيده.د ښځينه رای ورکونکو دقيقی نوم ليکنی موضوع په اړه واضيح شکونه موجود دي ،کوم چي ددرغليو شواهد ښي په ځينو ولايتونو کی چي ښځي له کورونو نشواي وتلی دهغي نوم ليکنه دنوموړي داستازي له خوا شوی ده.ټاکنيزه قانون کي د نوماندانو دڅارنی او پلټنی يادونه شوی ترڅو جنايی فعاليتونو او يا هم غيری مسولو وسلوالو ډلو سره نږدي اړيکی ونلري ، په داسي حال کی چي اساسي قانون هغه نوماندان چي په جنګی جنايتونو تورن دي له ټاکنو بي برخي کوي.دڅارني بهير له سياسی هيلی او ملاتړه بی برخی دی لکه څرنګه چي دبی وسلی کولو او ملکی کولو کميسيون ګډ سکرتريت کی ښکيلی نړيوالي غاړي په دی اړه دکره معلوماتو په برابرولو کی پاتی راغلي دی.

برسيره پر دي د بی وسلي کولو انتخاب لپاره ټاکل شوی کمزوری زمانی چوکاټ ، په بيساری ډول دڅارنی بهير زيانمن کړ،چي له مخی يی بايد داسی قوی انګيزه راتلونکو نوماندانو ته ورکړل شوي وي چي هغوي بي وسلي کولو بهير ته هڅول شوي وي.

ټاکنيزه کمپاين په داسي يوه چاپريال کی ، چي د تګ راتګ او د غونډو جوړونی ازادي ، د روانو پوځي عملياتو په ځانګړي توګه دهيواد په سويل کی ، د طالبانو بريدونو چي دځلګو دکډون مخنيوی او د تول ټاکنو د کډوډلو په موخه يی کولي ډيری محدودی وي ترسره شوی. که څه هم دولسمشري تول ټاکنو نوماندان او دهغوي کمپاين کوونکي د وسلوالو تر سختو بريدونو لاندی ول خو بيا هم ګڼ شمير د ولسمشري ټاکنو نوماندان وتوانيدل چی دهيواد په تقريباً ټولو ولايتونو کی کمپاين وکړي. د ولايتی شوراګانو کانديدان له محدودو امکاناتو او لږ امنيتي ملاتړ څخه برخمن ول، ډ يري دغه نوماندان له سختو امنيتی ستونزو سره لاس اوګريوان ول ، او تر ډيره بريده د دوی د کمپاين لمن به يوازی د ولايتونو او ولسواليو مرکزونو پوری راالنډه وه. چی تر ټولو ډيري ستونزي د ولايتی شوراګانو ښځينه نوماندانو درلودی ، حتی يوشمير نوماندانی په دي هم ونه توانيدلي چي ځان لپاره کمپاين وکړي.

رسنيو هم د بيلابيلو خپرونو له لاري په ټاکنيزه کمپاين کی اغيزمنه رول ولوباوه. **د اروپايی ټولنی دټاکنو دڅارني ماموريت** ارزونه ښي چي يوازي څلور اصلي نوماندان لکه( شاغلي حامد کرزي ،ډاکتر عبداله عبداله ، ډاکتر اشرف غني احمدزي او ډاکتر رمضان بشردوست) په پراخه کچه رسنيو تر پوښښ لاندی نيولي ول. دولتي رسنيو خپل ډير د سياسی خپرونو وخت په بی پلوي اومثبتي بڼه کی حامد کرزي ته وقف کړی وه ، د رسينو حق د ملی امنيت د لوی رياست د هغي پريکړي له امله سخت زيانمن شو چي له رسنيو څخه يی غوښتي ول ،د ټاکنو پرمهال د تاوتريخوالو له پيښو راپور ورنکړی ترڅو خلګ هڅول شي چي په ټاکنو کی خپلی رايی وکاروي. ډيری افغاني رسنيو دغه پريکړه عملی کړه ، خو ۱۵ افغان او نړيوال ژورنالستان هغه مهال توقيف شول کله چي دوی د ټاکنو د ورځي پرمهال په کابل کی ترهګريزه پيښي څخه راپور برابروه.

همدرانګه يو نړيوال اصل په ټاکنو کی د برخی اخيستو حق درلودل دي ،چی دا موضوع ددی امله تر پوښتنی لاندی راغله کله چي ګنو ښځو ونشواي کړای چي له خپل دغه حق څخه ګټه واخلي.کرچه د افغان ښځو مدنی او سياسي حق په اساسی قانون کی مشخص شوي دي ، د ښځو کانديدل ، رای ورکوني او په ټاکنو کی د مشرانو په توګه کارکولو شرايط محدود وو. د ښځو له خوا رهيری کيدونکي تولني ادعا کوی چي په ټاکنيزه بهير کی دښځو په وړاندی مهم خنډ دادي چي زياتره ښځي ځانونه ناتوانه احساسوي. د ځينو ښخينه ټاکنيزه مرکزونو کارکوونکی نارينه ول چي دا مسآله هم ددی سبب شوه ترڅو لږ شمير ښځي وکړای شي خپلي رای وکاروي.په عادی ژوندانه کي هغه مخالفي دوديزه مسآلی چي د ښځو په وړاندي پرتي وي او همدارنګه نالمنه چاپريال هم په ټاکنو کی د ښځو د ګډون مسآله زيانمنه کړه.ښځو په عمومی ډول د خپل د بيان او سياسی خوځښت دازادی حق څخه ګټه وانه خيسته.د ښځو په قانوني حقونو کی ډير توپير ددی سبب شو، په هغه کچه چی دوی غوښتل هغه شان ونه شول او دي مسلي پخپله د درغليو لپاره زمينه برابره کړه.

د ټول ټاکنو ورځ د تاوتريخوالو پېښنو سره مله وه هغه داسې چي ، د راى ورکولو مرکزونه او دولتى تاسيسات او همدارنګه راى ورکوونکي په ټول هيواد کې تر ګواښ او هدف لاندى ول. دامنيتى حالاتو لاپسې خرابيدل په جدى ډول **داروپايى ټولني د ټاکنو دڅارني ماموريت** دڅارني فعاليتونه متاثره کړل. خو له دى سره سره د اروپايى ټولنى د ټاکنو د څارني ماموريت څارونکي د هيواد د ۳۴ ولايتونو څخه د ۱۷ ولايتونو په (۲۶۸) راى ورکوني مرکزونو په پرانيستلو ،راى ورکونى او د رايو شميرني پرمهال موجود ول.**د اروپايى ټولني دټاکنو دڅارني ماموريت** ناظرينو له کومو مرکزونو څخه چې دوى څارنه کړى وه په هغو کى ټاکنيزه عمليات، موجوده سختو شرايطو ته په پام سره تقريباً دقناعت وړ ول.د ناامنه امنيتى چاپريال له شتوالي سره سره بيا هم د پام وړ شمير افغانان را ووتل او په ټاکنو کى يى خپله رايه وکاروله.د هيواد په شمالي برخو کى په ټاکنو کى دخلګو ګډون پراخ و ، په داسي حال کى چي د هيواد په سويلى او سويل ختيځو سيمو کى لږ او په ځينو برخو کى ډير لږ وو.

د ټاکنو د لمړني پايلو پرمهال د ټاکنو د شکايتونو کميسيون په ټاکنو کى ټول ټال ۲۵۸۴ د بى قانوني پيښنو شکايتونه ترلاسه کړل. په دي پيښنو کى د راى ورکوني بى کيفيته رنګ ، درايو دصندقونو ډکول،د کارتونو دځينو سورى کونکي ماشينونو نه کارکول،د راى ورکونکو ګواښول ،د نوماندانو په استازو او ناظرينو محدوديتونه ، د ټاکنو پر کارکونکو او سيمه ايز چاراواکو د درغليو تورنه ،د ټاکنو په ورځ د خلګو د لږ ګډون او د پايلو په ليست کى د ثبت شويو رايو ترمنځ پراخ توپير، هغه پيښني وي چي په اړه يى نيوکي شوي وي. د سپتامبر په دوهمه نيټه د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د ولسمشرۍ ټول ټاکنو لمړني پايلي د هر مرکز او محل رايو سره په خپل سايټ کى خپرى کړي. د هغو رايو سلنه چي د درغليو رايى هم په بر کى نيولي دهيواد په سويلى حوزه کى هر ورځ ډيريدلي ، هغه داسى چي ورو ورو ، ترڅو د رايوشمرني مامورين دي ته وهڅول شي چي اچول شوي رايى ومني ، که چيرى دا ټولي راى په يو ځل راڅرګندي شوى وي نو ښکاره خبره وه چي د تقلبى رايو په توګه به رد شوى وي. د اروپايى ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت څيړونکو په پرمختللى ډول د ټاکنو تازه پايلو په راښکاره کيدو سره خپلى څيړنو ته دوام وکړ ، او دا مسآله يى څرکنده کړه چي د ټاکنو خپلواک کميسيون ونشواي کړاى چي په ټاکنو کى ددرغليو دپيدا کولو او کمولو لپاره خپل معيارونه پلى کړي. د اورپايى ټولني دڅارنۍ ماموريت په دغو ټاکنو کى کابو ۱،۶ ميليونه رايى مشکوکي او يا هم تقلبي ومونډلي چى ډيره برخى يى شاغلى کرزى پورى اړه درلوده.

د درغليو د پام وړ شواهدو ته په پام سره د ټول ټاکنو خپلوا ک کميسيون د سپتمبر په ۸ نيټه د ټاکنو شکايتونو کميسيون ته لارښونه وکړه ترڅو د راى ورکولو مرکزونو پايلو له سره شميرني ته رسيده ګى وکړي. که څه هم د ټاکنو خپلواک کميسيون د سپتمبر په ۱۶ نيټه د ولسمشرۍ ټاکنو لمړني پايلى اعلان کړى چي په هغه کى دحامد کرزي کره راى( ۵۴،۶) سلنه او دعبداله عبداله راى يى (۲۷،۷۵) سلنه ښودل شوى وي. خو د پيچلو او اوږدو بحثونو په دوام ، داکتوبر په ۵ نيټه د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو دشکايتونو کميسيون ترمشرى لاندي د مشکوکو رايو صندوقونو، نمونوى څيړنه او پلټنه پيل کړه ..چي په دي څيړنه کى ومونډل شوه چي په پراخه کچه رايى غيرقانونى او سمي نه وي ، او د اوکتوبر په ۱۹ کله چي د ټاکنو خپلواک کميسيون دولسمشري ټاکنو وروستي پايلو اعلانولو پرمهال څرګنده کړه : له دى امله چي په دى ټاکنو کى يوه کانديد هم له ۵۰ سلنى څخه ډيرى رايى ترلاسه نکړى نو کيداى شى د( حامد کرزى او عبداله عبداله) ترمنځ دنوامبر په ۷ نيټه بيا ځلى يا دوهم پړاو ټاکني ترسره شى.

چي وروسته بيا( ډاکتر عبداله ) د نوامبر په لمړي نيټه په دوهم پړاو کى دنه ګډون اعلان وکړ.هغه دخپل دي دريځ دليل د ټاکنيزه بهير نه ړونوالى ،او دهغو کسانو ناپيليتوب چي ټاکني پلى کوي په ګوته او په ځانګړي توګه يى د ټاکنو دخپلواک کيمسيون دمشر يادونه وکړه .او دټاکنو دکميسيون دخپلواکى لپاره يى ددغه کميسيون دمشر ګوښه کيدل يو شرط وباله. دده د وينا په دوام د نوامبر په دوهمه نيټه دټاکنو کميسيون ددهم پړاو ټاکنى لغوه کړى او (حامد کرزي) يى دولسمشريزه ټو لټاکنو ګټونکي اعلان کړ ،په داسى حال کى چي دشاغلى عبداله پريکړه په داسى يو حالت کى د ټاکنيزه قانون د ۲۷ مادى د ۲ بند سره مطابق نه درلود، کوم چي وايى له ټاکنيزه سياليو څخه ګوښه کيدل بايد د ټاکنو له ورځي څخه وړاندي او نه
همدرانګه د ولايتى شوراګانو د ټاکنو پايلى د ولسمشرۍ ټول ټاکنو سره په يوه وخت وشميرل شوي ، خو د پنځو اوونيو په تيريدو سره بيا هم د ولايتى شوراګانو دټاکنو پايلو په اړه معلومات نه ول،چي بيا د سپمتبر په ۲۸ نيټه د ۳۴ ولايتونو له جملى څخه د ۳۰ ولايتونو د ولايتى شوراګانو د ټاکنو پايلي د ټاکنو دخپلواک کميسيون په ويب پاني کى خپروي شوي. ګڼ شمير شکايتونه د ولايتى شوراګانو ټاکنو په اړه اوس هم پر خپل ځا ي پاتي دي او د پايلو خپريدل يا نشر له هم بشپړ شوي نه دي.
د اروپايى ټولنى دټاکنو دڅارني ماموريت په افغانستان کى د ټول ټاکنو د پلى کيدو او کاري چوکاټ پياوړي کيدو لپاره يوشمير وړانديزونه کوي. ددى وړانديزونو يوشمير يى کيداى شى وخت ته اړتيا ولري.د ۲۰۱۰ کال د پارلمانى او ولسواليو شوراګانو ټاکنو په رانيږدى کيدو سره په دى وړانديزونو کى ځينى ضرورى معيارونه برجسته شوي دي چي په لنډ وخت کى په اسانى سره دهغو دپلى کيدوامکان شته دي.

**چي مهم وړانديزونه يى په لاندي ډول دي:**

- د ټول ټاکنو د کميسيون خپلواکى بايد تضمين شى، هغه کارکوونکي چي د ۲۰۰۹ کال دټول ټاکنو پرمهال په درغليو کى يى لاس درلوده بايد له دندو لرى کړاى شى، د ګمارني سيستم هم بايد اصلاح کړي شي، همدرانګه ترهغه چي په هغه کى بدلون رامنځته کيږي دګوندونو او نوماندانو استازي ،ملى او نړيوالو څارونکو ته بايد ، د ټاکنو دخپلواک کميسيون په غونډو کى د ګډون حق وکړل شى .

- درای ورکونکو د دقيقې او اعتبار وړ نوم ليکني له ترسره کولو پرته نه بايد چې ټو لټاکني ترسره کړي شي. د نوي نوم ليکنی بهير بايد په لنډ وخت کی ترسره شي. دنوی نوم ليکني بهير بايد دهغو کسانو نوم ليکنه په پام کی ونيسی کوم چې دراتلونکو ټول ټاکنو پورې د رای ورکولو قانوني عمر ته رسيږي.

- ټول هغه مقررات او اصلاحات چی دقانون مطابق وی ، بايد همغږي او د اړوندو کسانو په واک کي ورکړل شي.

- دولسواليو شوراګانو د منظمو ټاکنو ترسره کيدو څخه وړاندي بايد، دولسواليو ترمنځ د پولو يا سرحدونو دټاکلو مساله تر بحث لاندی ونيول شی او دقانون له مخي هغه تنظيم کړاي شي. دکورنيو چارو وزارت بايد د ټولو ولسواليو رسمي نوملړ چمتو او له تخنيکي اړخه له دغه بهير څخه ملاتړ وکړي.

- دټول ټاکنو خپلواک کميسيون او دبی وسلي کولو اوملکی کولو کميسيون سره تخنيکي مرستي وشي ،ترڅو دڅارني ضروريات ، ناپيلی اجراتو پروسه اومعياری موخي پياوړی کړي ،بی وسلی کولو اوملکی کولو کميسيون بايد له تخنيکی او مالی اړخه دنړيوالی ټولني له خوا حمايه کړاي شی.

- د پلټني او څيړني بشپړيدو مساله ته په پام سره بايد تجربه لرونکي کارکوونکي په خپلو دندو کی وساتل شی، دټاکنو دشکايتونو کميسيون نبايد چی د۲۰۰۹ کال په وروستيو او راتلونکو ټاکنو له پيل څخه وړاندی لغوه شی. له دی پرته دغه کميسيون بايد ديوه مهالويش له مخي راتلونکو ټاکنو لپاره رامنځته کړي شي، او يا لږترلږه شپږ مياشتي وړاندي او يا هم هغه نيټه چې دټاکنو پلی کيدو ورځې لپار ټاکل شوی رامنځته شی. د ټاکنو دشکايتونو کميسيون ته بايد لمړيتوب وکړل شي او د ۲۰۱۰ کال ټول ټاکنو لپاره له دغه کميسيون څخه بايد په پراخه کچه ملاتړ وشی.

- هغه موجود معيارونه چي په ټاکنو کي د درغليو دموندني او يا هم کموالي سبب کيږي بايد په بشپړ ډول پلی کړای شي. د درغليو دموندني او يا هم کمولو طرزالعمل يا تفصيلی شيوه بايد د ټاکنيزه بهير په لمړي پړاو کی چاپ يا طبع شي ، چي دا مساله به د پروسي سهم لرونکو او عامو خلکو ته دتحقيق فرصت په واک کی ورکړي.

- د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د جنډر څانګه بايد په ټاکنو کی دښځو دګډون په موخه خپل استراتيژيک پلان پياوړي او مؤثره کړي. سلامشوري او همغږي بايد دښځو له ډلو سره رامنځته شي ، ترڅو دهغوي له منابعو او پوهي څخه په مؤثره توګه ګټه پورته شي. ټاکنيزه کارکوونکو ته بايد پراخي زده کړي ورکړل شي ، او عام خلګ هم بايد د دبی قانوني او دنه منلو وړ پيښو لکه يو سړي دي د يوي ښځي په استازيتوب رای وکاروي په مخنيوي کی همکاری وکړي.

- هغه سهم يا څوکي چي په پارلمان ، ولايتي او ولسواليو شوراګانو کي د قانون له مخي ښځو ته ځانګړي شوي دی ، هغه بايد رسماً اعلان او خپاره شي.

- د کورنيو څارونکو ټولنو وړتيا يا ظرفيت بايد پياوړي کړای شي ، ترڅو دوی وکولاي شي له ټاکنيزه بهير څخه جامعي ارزونه وکړي بيا عامو خلګو ته ددغه بهير په اړه خپل وړانديزونه خپاره کړي. هغه ټولني چي تخنيکي مرستي برابروي نه بايد چي کورنيو څارونکو ټولنو او د ټول ټاکنو اداري ته چي دنده يی دټاکنو داداري آرزونه ده ، سلامشوري ورکړي.

## II. پيژندنه

د اروپايي ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت(EU EOM) ، دافغانستان د اسلامی جمهوريت دولت او د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون په رسمي بلنه د ۲۰۰۹ کال د جولاي له دوهمي څخه د همدی کال د نوامبر تر ۶ نيټي پوری ، په افغانستان کی شتون درلود ، ترڅو ددغه هيواد د اګست د ۲۰ نيټی د ولسمشريزه او ولايتي شوراګانو له ټاکنو څخه څارنه وکړي ، او همدرانګه د ولسمشري د دوهم پړاو ټاکنو څخه چي وروسته بيا د ټاکنو د خپلواک کميسيون له لوري لغوه کړي شوي هم څارنه ترسره کړي.د افغانستان د لمړي پړاو ټاکنيزه بهير کی د اروپايی ټولنی د ټاکنو دڅارنی ماموريت مشري د اروپايي ټولني د پارلمان پخوانی غړي **فيليپ مورغيون** چي د فرانسي له هيواد څخه دي کوله ، چي وروسته ددغه څارونکي ماموريت مشري د اروپايي ټولني پارلمان اوسني غړي ټايس بيرمن چي د هالنډ هيواد څخه دي ترسره کړه.ددغه ماموريت اساسي قيموميت دا وه، ترڅو د افغانستان له ټاکنيزه بهير څخه د نړيوالو منل شويو ټاکنيزه معيارونو ،د افغانستان د نافذو قوانينو ، د اروپايي ټولني ميتودالوژي او " د ټاکنو د نړيوالي څارني د اعلامي مقرراتو " پر بنسټ چي په ۲۰۰۵ ميلادي کال کی د ملګرو ملتونو له خوا منل شوی دي پراخه څارنه وکړی.
د ټول ټاکنو د ورځي څخه وړاندي د اروپاي ټولني دڅاروني ماموريت ۳۶ څارونکي افغانستان ته راواستول شول ، ترڅو له ټاکنو څخه وړاندي د ټاکنو چاپريال او تياري وارزوي ، او همدارنګه دغه ماموريت د ټول ټاکنو په ورځ ټول ټال ۱۲۰ تنه څارونکي چي د ناروي ، سويزرلنډ او کاناډا په شمول د ۲۲ اروپايی ټولني غړي هيوادنو پوری اړه لري افغانستان ته راواستول شول. په افغانستان کی د اروپايی ټولني د ټاکنو دڅارنی ماموريت يو د نړيوالو سترو ماموريتونو څخه وو.
د اروپايی ټولني د څارني ماموريت ، دافغانستان قانوني او ټاکنيزه کاري چوکاټ ، همدارنګه د نوم ليکني لپاره د وسايلو کيفيت او د رای ورکولو په ورځ د لوژستيکي ترتيباتو موضوع وڅيړله. د نوماندانو ټاکنيزه کمپاين او د رسنيو ازادي هم وڅيړل شوه، دغه راز د ښځو او

نارینو ازادي هم وڅېړل شوه چې دوي تر کومه بریده په دي وتوانیدل چې له خپلو مدني او سیاسي حقونو څخه برخمن شي.که څه هم د څارونکو کامله څارنه په هیواد کی دعمومی امنیتی محدودیتونو له امله یوه څه متأثره شوه ، خو بیا هم د آروپایی ټولني د ټاکنو د څارنی ماموریت څارونکي د هیواد د ۳۴ ولایتونو له ډلی څخه د ۱۷ ولایتونو په ۲۶۸ راي ورکولو مرکزونو کي ، د راي ورکولو د مرکزونو په پرانیستلو او د رایو د شمیرني پرمهال موجود ول.
د اروپایی ټولني د ټاکنو د څارني ماموریت د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۲۲ نیټه د ټاکنو په اړه خپلي لمړني موندني د یوي ویناپاڼي له لاري خپري کړي، چي په هغه کي ټول هغه مسأیل چي د ټاکنو په ورځ موجود ول ورته اشاره شوي وه ، لکه پراخ تاوتریخوالی ، د ټول ټاکنو دخپلواک کمیسیون نه استقلالیت ، د رای ورکولو د کره او یوه واحد کارت نه شتون ، د نوماندانو د انصراف د کاري قانوني چوکاټ په مقرراتو کي ضعیفوالي ، له بده مرغه د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون ناوخته رامنځته کیدل او ښځو ته په ټاکنو کی د محدودو شرایطو موجدودیت هغه څه ول چي په اړه یی مونږ اندیښنه ښودلي ده.
کله چي د شویو ټاکنو پایلي اعلان شوي ، د اروپاي ټولني د څارني ماموریت د خپلو څېړنو پر بنسټ په دغو ټاکنو کي د درغلیو شواهد رابرسیر کړل. چي په دي اړه مونږ خپل دریځ د یوي وینا له لاري د ۲۰۰۹ کال د سپتمبر په ۱۶ نیټه څرګند کړ.
د اروپایي ټولني دڅارني ماموریت د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت په ځانګړي توګه د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو څخه مننه کوي ،چي ددغه ماموریت څارونکو ته یی په پلازمینی کابل او دهیواد په ولایتونو کی د امنیت د ساتني لپاره امکانات برابر کړي ول.
د اروپایی ټولني د ټاکنو د څارني ماموریت همدارنګه د اوروپایی کمیسیون له استازي ، د سویډن له هیواد ، "EUSR" ، د غړیو هیوادونو داستازو له دوامدارو مرستو ، او همدارنګه د بریټانیا او هالنډ له سفارتونو څخه چي په ولایتونو کی د دوي د استوګني لپاره د ولایتي بیارغوني ټیمونو کی یی مونږ ته اسانتیاوي برابري کړي وي ډیره مننه کوو.
همدارنګه د هغو نړیوالو څارونکو ډلو او هغو ملی او نړیوالو اړخونو سره چي ددغه ماموریت په ترسره کولو کي له مونږ سره همکاري ترسره مننه کوو.

### III.سیاسي شالید:

### A – سیاسي مفهوم

د افغانستان اسلامي جمهوریت د اسیا په زړه کی پورت او په وچه کی ایسار هیواد دي.
دغه هیواد سره له دی چي د ختیځ او لیودیځ ترمنځ نښلونکي سیمه ده ، له ځانګړي جیو سراتیژیک موقعیت د درلودلو له امله ډیري وخت له ننګونو سره مخامخ وي.
دغه هیواد له انګریزانو سره د افغان – انګلیس د ریمي جګړي په ترڅ کي په کال ۱۹۱۹ کی خپله بشپړه خپلواکي ترلاسه کړه، چي لمړي د شاهي او وروسته بیا په ۱۹۷۳ کال کي په جمهوري نظام بدل شو. د ۱۹۱۹ کال راهیسي افغانستان کابو ۲۰ کاله جګړي وځاپه ، لمړي ۹ کاله د پخواني شوروي اتحاد او افغانانوترمنځ او بیا د افغاني ډلو ټپلو ترمنځ جګړي دوام پیدا کړ، ترهغه چي د ۱۹۹۰ لسیزي په نیمایی کی طالبانو ددغه هیواد کابو بشپړ کنترول ترلاسه کړ.
بیا د ۲۰۰۱ کال راهیسي کله چي د طالبانو رژیم را وپرزول شو، افغانستان د ولسواکي په لور مهم کامونه پورته کړل. د ۲۰۰۱ کال د دسمبر په ۵ نیټه د مطرحو افغاني ډلو ترمنځ د ملکروملتونو تر ملاتړ لاندي د بن غونډه جوړه شوه ، چي په خپله د انتقالی دولت په لور ګام اینبودل ول.
په ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون جوړیدل ، بیا د ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۵ کال پوري د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټول ټاکنو ترسره کیدل د بن د پریکړو اساسي او مهمي لاسته راوړني وي.
د ۱۹۶۰ لسیزي راهیسي افغانانو په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ میلادی کلونو کي ، د ملکرو ملتونو او افغانان له لوري د ټاکنو د ګډ کمیسیون په هلو ځلو ددي فرصت ترلاسه کړ ، ترڅو د ولسمشري او پارلماني ټول ټاکنو له لاري خپل استازي وټاکي .
په ۲۰۰۴ زیږدیز کال شاغلي کرزي ولسمشري ټول ټاکنو له لاري د 55,4 سلنه رایو ( 4.4mln) په ګټلو سره ولسمشر وټاکل شو، هغه ته ډیري رایی پښتانو او همدارنګه تاجکانو او هزاره ګانو ورکړي وي. په دغو ټول ټاکنو کی له هغه سره ۱۶ تنو نورو هم ځانونه نوماند کړي ول ، خو هغوي یوازي له خپل قوم او قومي ډلو څخه راي ترلاسه کړي

د 10,5 میلیونه راجستر شویو کسانو څخه 70 سلني یی د ۲۰۰۴ کال په ولسمشریزه ټول ټاکنو کی برخه اخیستي وه، په داسي حال کي چي بیا وروسته د پارلماني او ولایتي شوراګانو په ټول ټاکنو کي چي د راجستر شویو کسانو شمیر هم 12,4 میلیونو ته رسیده یوازي 50 سلني یی په دغو ټاکنو خپلي راي کارولي وي. د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو ټول ټاکنو ثابته کړه چي افغانان د ولسواکي بهیر ته هلیمن دی ، او غواړی چي د دي لاري په خپل هیواد کی سوله او ثبات ټینګ کړي. خو وروسته بیا د مهمو ادارو د تقوي ، د قانون او حاکمیت پیاوړي کولو او فساد په قابو کولو کي شته فرصتونه له لاسه لاړل ، چي دی کار پخپله له مجازاتو څخه د معافیت او نا امني سره مرسته وکړه، او په جدی توګه یی د یوه ولسواکه او اغیزمنه حکومتداري حیثیت ته تاوان ورسوه.
د۲۰۰۹ زیږدیز کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټول ټاکني په تیرو څو لسیزو کي لمړنی ټاکني وي ، چي پخپله د افغاني ادارو له خوا د نړیوالی ټولني د تخنکي همکاري په مټ ترسره شوي. دا هم څرګنده ده ، چي د تیرو ټول ټاکنو په پرتله ، د دي ټاکنو پر مهال سیاسي او ټولنیز حالات ډیر خراب شوي او ډیری ننګوني هم دي ټاکنو ته متوجي وي.

**B. مهم سياسي لوبغاړي:**

په دغو ټول ټاکنو کې کابو ۴۴ تنو ځانونه کانديد کړي ول، چي ډيري يې دخپلواکو نوماندانو، قومي تعلقاتو،سيمه ايزو ، او ډيرو نور يې بيا شخصي او سياسي شهرت ته رسيدو لپاره ځانونه نوماند کړي ول. د نوماندانو تعدد پخپله د پلورليسم ښکارندوي کوي، که چيری د يوه پرتليزه سيتم له نظره ورته وکتل شي، نو د دوي ډير لږ شمير د محدودو سرچينو او لږ ولسي ملاتړ له کبله د بريالتوب ريښتني چانس درلوده.
دوي کي ډيرې پخواني وزيران ، د پارلمان غړي او يا هم جګړه ماران ول ، او ولس دهغو له ځيرو سره ښه اشنايي درلوده . په دغو ټاکنو کي يوازي څلور تنه يی لکه د شاغلی کرزي د کابينی پخواني وزيران ډاکتر عبداله عبداله ، ډاکتر اشرف غني احمدزی او شاغلی رمضان بشردوست ول، چي د کرزي سيالان ګڼل کيدل.

- شاغلي حامد کرزي د پوپلزي له قوم څخه دي ،کوم چی د پښتنو پخوانی شاهي کورني سره اړيکه لري. دی د امريکی د متحده ايالتونو له لوري انتخاب او بيا د ۲۰۰۲ کال د جون په ۲۲ نيټه د افغانستان د لوي جرګي له لوری ، د افغانستان د لنډ مهالي اداری د لمړنی ولسمشر په توګه وټاکل شو.ده هغه مهال د پښتنو د قومونو سخت او رسښتني ملاتړ له ځانه سره درلوده، خو د تيرو ۷ کلونو پر مهال د ضعيفي حکومتداري ، او ددی امله چي وي نشواي کړاي په پښتون ميشتو سيمو کی امنيت ټينګ کړي ، يو څه ملاتړ يی له لاسه ورکړ.ولسمشر کرزي هڅه وکړه ، چی ځان د ملی يووالی او پخلاينی ضامن څرګند کړي ، او همدارنګه يی مخالفو مشرانو او نوماندانو ته په راتلونکي کي د مهمو پوستونو او همدارنګه ولايتونو د وکړي هيلی ورکړي.

- د باندنيو چارو پخواني وزير ډاکتر عبداله عبداله ، د ملی جبهي له لوری په ولسمشري ټاکنو کي د نوماند په توګه را څرګند شو. دی پخواني شمالي ټلوالي او په ځانګړي توګه د پنجشير ډلو سره کوم چي د احمد شاه مسعود له خوا يی رهبري کيدله نږدي اړيکي لري. شاغلی عبداله همدارنګه د پخواني جمهور ريس رباني وياند هم پاتی شوی دی ، او د ډيرو افغانانو له نظره ، دی د تنظيمی جګړو پرمهال په کابل کی له شوو جنګی جنايتونو څخه چي د رباني د واکمني پرمهال شوی دي، ځان بوي خوا ته نشي کولاي. سره له دی چي شاغلی عبداله پښتني او تاجک قبيلو پوری اړه لری ، خو بيا هم شاغلی عبداله د تاجک قوم د استازي په توګه پيژندل شوی دي. د شاغلي عبداله د سياسي شخصيت يوه برخه يی د ملی جبهي د پنجشير ډلو پوری اړونده ده، او يوه برخه يی د خپلو هلو ځلو په نتيجه کی نورو قومونو په ځانګړي توګه پښتنو پوری هغه هم دده دملاتړ په سيمه کی اړه لری.

- ډاکتر رمضان بشر دوست د افغانستان هزاره قوم څخه دي ، او دي هيڅ يوي سياسي ډلي پوری تړلي نه دی. دی د ولسمشر کرزي په پخواني کابينه کي د پلان وزير پاتي شوي دی. نوموړی د ولسمشر کرزي او د هغه د کورني يو له سختو منتقيدنو څخه دی ، او خپل ټاکنيزه کمپاين يي په ډير ساده ډول ترسره کړ او د ولسي جرګي يوه استوکنځي ته نږدي په کيږدي کي ميشت دی. ډاکتر بشر دوست دافغانستان له ټولو قومونو څخه پرته د فشار واردولو راي ترلاسه کړي.
- شاغلي اشرف غني احمدزی پښتون قوم پوري تعلق لري، د افغانستان په پخواني کابينه کی د مالی وزير پاتي شوی او د نړيوال بانک يو له باتجربه لرونکو کارکونکو او همدرانګه په افغانانو او نړيوالي ټولني کی وتلی او برجسته روڼ اند يا روشنفکر پيژندل شوی دی. دي يو څه ټولو افغانانو ته نه دی پيژندل شوی. شاغلی اشرف غني لمړی د ټاکنيزه منډوتړو پرمهال له دريو وتلو نوماندانو په ډله کي شميرل کيده ، خو وروسته بيا ډاکتر بشردوست له ده څخه وړاندی شو.

قوی نوماندان د نورو قومونو برجسته مشرانو سره د ايتلاف جوړلو په لټه کي شول ، لکه څرنګه چی ولسمشر کرزي خپل مرستيالان شاغلي مارشال فهيم او شاغلی خليلي چی هر يو يی په خپل وار د تاجک اوهزار لړه ګيوه استازي توب کوي وټاکل.
د شاغلی کرزي دواړه مرستيالان او همدارنګه هغه نور مهم ملاتړي لکه ازبک جنرا ل عبدالرشيد دوستم ، د بشر له حقونو څخه په سرغړاوي ، جنګي او پرمختللو جنايتونو په ترسره کولو کی ګرم پيژندل شوی دي. دغه تاکتيکي جوړجاړي يا ايتلاف ته د يو شمير افغانانو له خوا په منفي نظر کتل کيږي.

ځينو لږ مشهورو نوماندانو که څه هم په خپلو کي د ايتلاف جوړولو هڅه وکړه ، خو د هغوي د دي نوښت د بريالی کيدو چانس ډير محدوده وه. نوماندان که کمزوري وي او برجسته او قوي د دوی د ايتلاف کولو اړتيا ، د سياسي ګوندونو کمزوري او پر رايو د قومی او سمتي تآثيراتو نفوذ درلودلو سره ارتباط لري.په افغانستان کی د ساسي ګوندنو کمزوري يو لامل دا وو ، چی د ۱۲۰ سياسي ګوندنو څخه ۸۵ يی په ټول ټاکنو کی يو ډول نه يو ډول برخه درلوده، او دي کار د ولسمشری او ولايتي شوراګانو نوماندانو ته دمالي امکاناتو

شرايط ډير محدود کړي ول. د سياسي ګوندونو له خوا په ټاکنو کی د پام وړ رول نه ترسره کيدو يو بل لامل د قومي او سمتي هويت تعلقاتومسآله پوری اړه لري ، له څرنګه چي د کمونيستي د وري پرمهال د خلق او پرچم ګوندونو ته منفی القاب ورکول کيدل.

په داسي حال کي چي اساسي قانون د سياسي ګوندونو د جوړولو حق ورکوي ، او ټاکنيزه کاري چوکاټ بيا يوازی انفرادي نوماندانو ته ترجيح ورکوي.
د دغو بي شميره ګوندونو په ډله کي ، هغو اسلامي ګوندونو چي د ۱۹۶۰ لسزي پرمهال د سيکولاريزم بهير سره د مخالفت او پخواني شوروي اتحاد په وړاندي د جهاد پرمهال ډير اهميت ترلاسه کړ. په هغو کي ډير پيژندل شوی اسلامي ګوندونه ، حزب اسلامي چي ګلبدين حکمتيار يی مشری کوي ، اتحاد اسلامي چي رسول سياف يی مشري کوي ، او بل اسلامی ګوند چی د محمد يونس خالص له خوا يی مشری کيدله ول.
د ولايتي شوراګانو په ټول ټاکنو کي د ۴۲۰ څوکيو لپاره ټول ټال ۳،۱۹۳ نوماندانو چي له هغي جملي څخه ۳۳۳ تنه يی ښځينه وي سيالي کوله. ولايتي شوراګاني د افغانستان په ټولو ۳۴ ولايتونو کي ولايتي مشرانو او ولاياتو ته چي د حکومت له خوا ټاکل کيږي ،سلا مشوری ورکوی او همکاري ورسره کوي.

## C. د حکومتداري سيستم.

د افغانستان د اسلامی جمهوريت د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له مخي ولسمشر ، او د پارلمان غړي او سيمه ايزه شوراګانو استازي د خلګو له خوا چي عمرونه له ۱۸ ټيټ نه وي د پټ، او مستقيمو رايو په ذريعه ټاکل کيږی. جمهور ريس د دي هيواد مشر ، د پوځ د سر اعلی قومندان او د مرکزی دولت د اجرايوي قوو په راس کي قرار لري.مقننه قوه چي هغه ولسی جرګه او مشرانو جرګه ده ، ولسی جرګه په مستقيم ډول د خلګو د رايو پربنسټ ټاکل کيږی ، په داسی حال کی چی مشرانو جرګه په غير مستقيم ډول ټاکل کيږي.
د اساسي قانون د ۱۳۸ مادي د نهم بند پر بنسټ د ولسي جرګي غړي په تير ۲۰۰۵ کال د پنځو کلونو لپاره د خلګو له خوا ټاکل شوی دي.

د ۲۰۰۷ کال د ولايتي شورا ګانو قانون د ولايتي شوراګانو د نده ، د ولايتونو پرمختيا او اداری چارو د ودي لپاره په همکاری ټينکار کوي.

د دي ترڅنګ چی په مرکزی دولت کي د ولايتی شورا استازيتوب کوی، د ولايتی شوراګانو اصلی دنده مشوره ورکول دي. ولايتی شوراګاني همدرانګه د ولسواليو شوراګانو د غړيو په نه موجوديت کی چي تراوسه نه دي تشکيل شوی ، د مشرانو جرګي دوه پر دريمه برخه جوړوي. د مشرانو جرګی غړي د يوه ګډ سيستم پر بنسټ ټاکل کيږي[1]، هغه داسي چي د مشرانو جرګی يوه برخه غړي د ولايتي شوراګانو له خوا معرفي کيږي ، بله برخه يی د ولسواليو له شوراګانو او بله برخه يی هم د ولسمشر له خوا په انفرادي ډول ټاکل کيږي[2].
تر ټولو مهمه دا چي ولايتي شوراګاني بايد د لوي جرګي په جوړيدو کی موجود وي ، او دا حق دوي ته په اساسي قانون کی وکړل شوي دی، چي د نورو موضوعګانو ترڅنګ دوي کولاي شي په لويه جرګه کی د اساسي قانون په اصلاحاتو کی پريکړه وکړي[3]

### ۳ ټاکنيزه سيستم او قانوني کاري چوکاټ.

### A- ټاکنيزه سيستم

په اساسي قانون کي د ولسمشريزه ټاکنو لپاره د ټاکنيزه سيستم تعريف شوی دی ، په داسي حال کي چي ولايتي شوراګانو ټاکنيزه سيستم د ټاکنو قانون کی طرح شوي دی. ولسمشر کولاي شي د پنځو کلونو لپاره دوه ځلی ولسمشر شي. ټاکنيزه سيستم ، دوه پړاويزه سيستم دي، په دي منعي چي د ولسمشر کيدو لپاره بايد يو نوماند د عمومي ټول ټاکنو له لاري اکثريته راي خپلي کړي. پرته له دي بايد د هغو دوو نوماندانو ترمنځ د دوهم پړاو يا بيا ځلی ټاکنی ترسره شي کوم چي په لمړي پړاو کي يی تر نورو ډيری رايی ترلاسه کړي وي. د ولايتي شوراګانو غړي د انفرادی او نه انتقال کيدونکی رايو ټاکنيزه سيستم له لاري په ۳۴ ولايتونو کی په ټاکنيزه حوزه کی ټاکل کيږي. د هر ولايت د ولايتي شوراګانو غړي د هغه ولايت د وګړو يا نفوس شميري پر بنسټ ټاکل کيږی او دغه څوکي له ۹ او ۲۹ ترمنځ دي او ټول ټال ولايتي شوراګانو لپاره ۴۲۰ څوکي په پام کی نيول شوي دي(۴). د ولايتي شوراګانو غړي د هری څلور کلنی دوري لپاره ټاکل کيږي.

[1] د اساسی قانون ۸۴ مادي پربنسټ هری ولايتی شورا غړيو څخه يو يی ددوی له خوا د څلور کلنونو لپاره ټاکل کيږي.
[2] د ولايتی اوولسواليو د استازو په اړه په مشرانو جرګه کي دغړيتولپاره دولسمشر د ۲۰۰۵ کال د دسامبر د ۲۶ نيټي د فرمان پر بنسټ هره ولايتي شورا له دی امله چي تراوسه دولسواليو شوراګاني نه دي ټاکل شوی دوه استازي ټاکلي شي.
[3] د اساسی قانون ۱۱۱ مادي دريم بند دمشرانو جرګي صلاحيتونه او ۱۱۰ ماده ددوي تشکيل مشخصوي.
د ټاکنيزه حوزو د سرحدونو او هغوی ته د څوکيو سهمي طرح. دا موضوع په راتلونکی پاڼه کي د B په برخه کی موندلي شي(۴)

د ولايتي شوراګانو ټاکنو کی د انفرادي او د رايو د نه انتقال کيدوله سيستم کارونه، د ټاکنيزه حوزو او هغوي ته ځانګړي شويو څوکيو په پام کی نيولو سره يو متناسبه حالت رامنځته کوي. دا سيستم د هر ولايت لړه کيو ته د استازي توب امکان په لاس ورکوي. دا سيستم د اساني شميرنی او رای ورکونکو ته بی ستونزي امکانات برابروي.په داسي حال کی چي دغه سيستم يو لړ جدی ستونزي هم لري. په ولايتي شوراګانو کی د دغه سيستم پلی کول ، د دی امکان محدودوی چي، ټاکل شوي نوماندان ، د رای ورکونکو د نفوس استازيتوب وکړي.په حقيقت کي دغه د نوماندانو د نوملیکني ځانګړي انتخاب شوي سيستم بی شمير نوماندان په بر کی نيسي.

په داسي يوه حالت کي " انفرادي او د رايو نه انتقال کيدلو سيستم" نوماندانو ته اجازه ورکوي چی د نسبتآ د کمو رايو په ذريعه وټاکل شي،چي دا کار په ټوله کي د ټاکنيزه حوزي د مامورينو خلګو هيلی له خطر سره مخامخ کوي. له داسی يوه سيستم سره چي هلته سياسی ګوندونه کمزوري وي، په دغه ډول حالاتو کی نوماندانو ته د ايتلاف کولو او يا هم سياسی ګوندونو کی د ځانونو تنظيم کولو لپاره ډيره لږه هڅونکي انګيزه موجوده وي، ځکه چی د ولايتی شوراګانو څوکي په انفرادي ډول ګټل کيږي.د سياسي ګوندونو د قانون د ځينو مادو ترڅنګ ، د انفرادي او نه انتقال کيدونکو رايو سيستم ، په جدي ډول په دی کي پاتی راغلي ،چي د سياسي ګوندونو پرمختيا لپاره هڅونکي شرايط په پام کی ونيسي. دا کار د رايو ورکوونکو تمايل هغو سيمه ايزو مشرانو ته زياتوی ،کوم چی د وړو ډلو د شخصي ګټو استازيتوب کوي، نه هغو نوماندانو ته چي د ايتلافونو پرمختيا او د پراخو پروګرامونو او ګټو پلوي دي. د قوي سياسي ګوندونو نه شتووالي دولسي جرګي په فعاليتونو هم جدی اثر پري باستلي دي، کوم چی له يوه ټاکنيزه سيستم له مخی اداره کيږي. دي کار په پارلمان کي د ولسواکی د غوړيدو او په همدي شکل يی د افغانستان سياسي چارو لپاره فرصتونه محدود کړي دي. که څه هم په ولايتي شوراګانو ټاکنو کي د انفرادی او نه انتقال کيدونکي سيستم اثر ، لږ تعيين کوونکی دی ، ځکه چي دغه شوراګاني د قانون جوړوني له صلاحيته بي برخي دي، ددغه ډول سيستم څخه کار اخيستل په سيمه ايزه کچه د يوه ولسواکه بهير لپاره فرصتونه ضايعي کوي.

**B- د ټاکنيزه حوزو د سرحدونو او هغوی ته د څوکيو سهمي طرح :**

د ولسمشرئ ټولټاکنی د انفرادي ټاکنيزه حوزي پر اساس چي د افغانستان ځمکني بشپړتيا په بر کی نيسی ترسره کيږي.
د ۲۰۰۴ کال راهيسی د افغانستان د ۳۴ ولايتونو د حدود تعيين بدلون نه دی کړي ، که څه هم وروسته بيا پنجشير او دايکندي هم د ولايتونو په ډله کی ورګډ کړای شول. د ټاکنيزه حوزو د پولو يا سرحدونو په اړه کومه ستونزه تر اوسه نه ده رامنځته شوي، او ددغه ډول ستونزو د هوارولو صلاحيت د افغانستان د کورنيو چارو وزارت لري. د افغانستان د وګړو د کره شميري د معلوماتوو نه شتون ، ولايتي شوراګانو ته د ځانګړي کړای شويو څوکيو کره ټاکل يوه څه ستونزمن کوي ، ځکه چي ټاکنيزه قانون هر ولايت ته د هغي د وګړو د شميري په تناسب څوکي په پام کي نيسي. قومي تاوتريخوالي چي د هيواد د تاريخ په اوږدو کی ملی يووالي ته صدمه رسولي ، دا پوښتنه رامنځته کوي ، چي د وګړو د کره شميري د معلوماتو نه شتون ، کيداي شي د افغانستان د اصلی قومی ډلو د اندازي په اړه سياسي موضوعاتو پوري تړلي وي. د ۱۹۷۹ کال راهيسي په افغانستان کی د وګړو ملی سر شميرنه نه ده شوی ، او اوسنی شته شميرني د هيواد د ودي د اندازي او د احصاييي د مرکزي دفتر د محاسبو پربنسټ ولاړي دي. د ۲۰۰۹ ميلادي کال په لمړيو کی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د احصاييي د مرکزي دفتر څخه د وګړو د تازه سرشميرني غوښتنه وکړه ، چی ورته وسپارل شوه.

دغه راز ټاکنيزه قانون د (۲۰) مادي د دوهم بند پر اساس د وګړو د شمري په خپريدو موضوع کوم چی د ولسي جرګي غړو ته دهغي پربنسټ په ولايتونو کي څوکي په پام کی نيول کيږي قيدوي.او په عين شکل صريحآ دغه کار د نورو ټول ټاکنو ټاکنيزه حوزو لپاره چي ګڼ غړي پکی ټاکل کيږی ، تمديد نکړای شو. دغه راز دغه معلومات خلګو ته خپار نه شول، او د هری ولايتي شورا د څوکيو په شميری کي هم بدلون رامنځته نه شو. د احصاييی مرکزي دفتر په خپله هم د هغو سر شميرنو په کروالی شک وښود کله چی دوي نشرولي ، او د وګړو د کره شميري د رامنځته کولو لپاره يی د سر شميرنی پر اړتيا ټينګار وکړ.

د ولسواليو شوراګانو راتلونکو ټاکنو ته په پام سره ، په داسی حال کي چی د ولسواليو رسمی نوملړ نشته ، او د بيلابيلو ملی او نړيوالو ادارو له خوا بيل بيل نوملړونه کارول کيږي دا په خپله ستونزمن کار دی. د قانون له مخي د ټاکنوڅخه وړاندی د ولسواليو رسمي نوملړ په خپل وخت ډير اړين دي.

**C. قانوني کاري چوکاټ**

**a) نړيوال معيارونه.**

د افغانستان اسلامی جمهوری دولت د ټولټاکنو اړوند ګڼ نړيوال سندونه تصويب کړي دي،لکه د کال ۱۹۸۳ په اپريل کي د ۱۹۶۶ د مدني او سياسی حقونو نړيوال پريکړه ليک (ICCPR)، د ۱۹۸۳ کال په اګست کی د ټولو نژادی توپيرونو د له منځه وړلو ۱۹۶۶ نړيوال پريکړه ليک ( CERD)، د ۱۹۷۹ نړيوال پريکړه ليک(CEDAW) چي د ښځو په وړاندي هر ډول توپير او تعبيض منع کوی او افغانستان هغه د ۲۰۰۳ کال په مارچ کی تصويب کړ. نړيوال تړونونه افغانستان لپاره لازم الاجرا دي، او اساسي قانون صريحآ دا بيانوي ، چی دا افغانستان د دولت دنده ده چي له دغو ټولو نړيوالو سندونو د ملګرو متلونو د ۵ منشور په شمول چی دافغانستان دولت

هغه تصويب کړي دی له هغو څخه څارنه وکړي.دا موضوعات د بشر حقونه او بنيادی ازادی چي د خپلواکو او رېښتني ټول ټاکنو لپاره اړين دی په بر کي نيسي.

د (ICCPR) ۲۵ ماده د بشر د حقونو له نړيوال حق څخه په ځانګړي توګه د ټول ټاکنو په ارتباط يادونه کوي، کوم چی د بشر د حقونو د ۱۹۴۸ کال نړيوالي اعلاميي کي هم هغه ته ځای ورکړل شوی دی. په دغه ماده کی راغلي دي ، ټول ټاکني بايد په دوره يی ډول ترسره شي، ټاکني بايد په واقعی ډول په لاره واچول شي، د رای ورکولو د نړيوال حق پر بنسټ ټول وګړي بايد د رای کارونی مساوي حق څخه برخمن اوسي، رای ورکوونکو هيلو او پټو رای کاروني ته بايد درناوي وشي.(۵)

د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د نړيوالي کميټي د ۲۵ مادی عمومي تفسير ،چي د (ICCPR) پريکړه ليک د ۲۵ مادی پربنسټ رامنځته شوی په عمومی چارو کي د برخی اخيستو پر حق ډير تفصيل ورکوي.(۶)

**b) د ټول ټاکنو لپاره ملی کاری چوکاټ.**

د ټول ټاکنو ملی کاري چوکاټ چي د ۲۰۰۱ کال د انتقالي دوري پرمهال جوړ شو ، هغه مهال پارلمان ټاکل شوی نه وو، نو له دی امله دغه کاري چوکاټ د ولسمشر د فرمانونو پربنسټ د نافذ قانون په ډول د اجرا وړ وو. دا کاری چوکاټ بيا وروسته د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون او د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو د قانون په رڼا کی د پرنسيب له نظره ترتيب کړاي شو. نور مهم قوانين لکه د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون جوړښت( د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون) ، او د ۲۰۰۵ کال په جنوري کی د ټاکنو کميسيون لپاره د تشکيل او کاري تګلاري جوړيدل ،په ۲۰۰۳ کال کی دسياسی ګوندونو قانون او ۲۰۰۹ کال کی د جمهوری رياست له خوا د ټول ټاکنو په ټاکنيزه چارو کي د نه لاسوهني منل کيدل ،کوم چي په ځانګړي دول دولتی مامورين ته راجع کيږي ، هغه قوانين ول چي منل شوی دي. په اساسی قانون کی د مدنی او سياسی حقونو اوهمدارنګه د ټول ټاکنو په برخه کی بنيادي حقونه تضمين شوي دي او همدارنګه نور قوانين هم ددغو حقونو په پلی کيدو ټينګار کوي.**(۷)**هغه مهم قوانين چي ټاکنو پوری اړه لری هغه د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د مقررو او پريکړو پر اساس بشپړ شوي دي.**(۸)**برسيره پر دی څلور نوري تګلاري د سياسی ګوندونو ، نوماندانو او د هغوی د استازو ، ټاکنيزه کارکوونکو ، د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون او څارونکو رول ټاکي.

دغه قانوني کاري چوکاټ په ټوله کی د ۲۰۰۹ کال د ولسمشري او ولايتي شوراګانو ټول ټاکنو لپاره له تخنيکی اړخه ولسواکه او په نړيوالو معيارونو او د افغانستان د نافذو قوانينو په پام کی نيولو سره د مناسبو شرايطو رامنځته کول ښيي. ددغه کاری چوکاټ ځينی برخي که څه هم ستونزمني دی او ځينو نړيوالو معيارونو سره سمون نه خوري. خو اوس هم دا مهمه ده چي ټينګار وشي سره له دی ستونزو په ټاکنيزه بهير کی د عمده نيمګړتياوو اصلی دليل دا نه وه چی ګنې قانوني کاري چوکاټ دی کمزوري وي بلکی ددغه موجوده قانوني کاري چوکاټ مقرري او مادي پياوړی نه کړای شوی . ډيري عمده ستونزمني مسالي د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون( ) په هغه بي اغيزه قانوني مادو کي وو کوم چی ددغه کميسيون دخپلواکي او شفافيت سره ارتباط لري

**(۹)**.لکه د نوماندانو د نوم ليکنی په ميکانيزم کی د شفافيت نه تضمين ( نور معلومات 7 فصل په B برخه کی ، دنوماندانو د ټاکني او څارنی نوم ليکني بهيرتر سرليک لاندي موندلي شي) د ټاکنيزه منډوټرولو دمالی سرچينو لپاره د مقرري او د مصارفو د شفافيت لپاره د قوانينو د پياوړي کيدو دميکانيزم نه شتون ( ډير و معلوماتو لپاره د کمپاين موضوع وګوري) د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون (د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون) د صلاحيتونو نه وضاحت، د ټاکنو د لمړنيو پايلو د اعلان د پروسي لپاره د يوه شفافه او معين ضرب الجل او همدارنګه د قانون د مظمو احکامو نه شتون، او په ټاکنيزه بهير کي د قضاوت کولو لپاره داستيناف غوښتني په برخه کی د قضايی قوی د رول نه وضاحت( نور معلومات په دی اړه د شکايتونو په برخه کی موندلي شي).بر علاوه ددي ، د ټاکنيزه قانون ګنې مادي ننګونو سره مخامخ وي ، چي علت يی د اساسي قانون له مقرراتو څخه دهغي جلا والي ، او يا هم دا چی هغه د ټاکنو د بهير ګډوډلو وړتيا لرله.

د اساسی قانون ۷ ماده
عمومی نظر لمبر ۲۵ په عامه چارو کی ګډون
نور اضافی قوانين لکه د شوراګانو مظاهرو لپاره
د ټول ټاکنو د قانون ۵۶ ماده

اساسي قانون پخپله داسی ماده په بر کی نيسي چي څه وخت بايد ټول ټاکني په لاره واچول شي ، چي په واقعي ډول د پلی کيدو امکان يی نشته .د اساسي قانون ۶۱ ماده وايی چي د ولسمشر دنده تر ټول ټاکنو وروسته د پنځم کال د غبرګولی په لمړي او د عيسوی مي مياشتي په ۲۲ نيټه پاي ته رسيږي او د جمهور ريس د کار تر پای ته رسيدو دمخه د نوي ولسمشر د ټاکلو لپاره ټول ټاکنی ، له ديرشو تر شپيتو ورځو پورئ موده کی بايد ترسره شي، چي دا په خپله ستونزمن کار دی ځکه چي د تقويمی کال په لمړي مياشت کی حالات د ټاکنو لپاره د تياري نيولو اجازه نه ورکوي(۱۰).د ټاکنو د قانون پر اساس د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د ۲۰۰۹ کال د جنوري په ۲۹ نيټه پريکړه وکړه ، چی ټول ټاکني ددغه مهالويش له مخی نه شي ترسره کيدلي له دي امله دغه ټاکنی به د ۲۰۰۹ کال د اګست په ۲۰ نيټه ترسره کړي(۱۱). د ټول ټاکنو دخپلواک کمسيون اقدام د خلګو د خوشبينه کول لپاره چي ددي فرصت ترلاسه کړي خپلی رايی وکاروي په ځاي پريکړه وه. په داسي حال کی چي دي کار د پنځو کلونو څخه د ولسمشر د زياتي مودي لپاره په دنده کی د پاتی کيدو له امله يولړ شکونه رامنځته کړل ، چی وروسته بيا دغي مسالي ته دستري محکمي له لوري قانوني بڼه ورکړل شوه. او د ستري محکمي دي کار په يوشمير نهادونو کی ستونزي او دا پوښتني وزيږولي چي ايا ستره محکمه د دا ډول پريکړو صلاحيت لری.او کله چي د ستري محکمی څخه په دی اړه پوښتنه وشوه ، نو وويل چي په واک کی د جمهور ريس پاتي کيدل د سياسي ګړګيچنو د مخنيوي سبب کيږي .

اوسني قانون په کافي اندازه د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون خپلواکي نه تضمينه وي.که څه هم اساسي قانون ، او ټاکنو قانون او همدارنګه د ټاکنو د مامورينو داخلی کړنلاري احکام د ټول ټاکنو د کميسيون خپلواکي ،ګمارني او بر طرفه کول قيدوي خو د ګمارنی او ګوښه کولو پروسه په دغه کميسيون کی د قانون له مقرراتو سره سمون نه خوري. په دغه کميسيون کی د کميشنرانو بر طرفه کولو په برخه کی قانون وايی ، دغه کار هغه صورت ونډلي شي کله چي ددغو کميشنرانو په وړاندي د جرم او يا د ټاکنو له قانون څخه د سرغړاوی دوسيه موجوده وي ، او که چيري ددغو کميشنرانو دوه پر دريمه برخه يی ولسمشر ته د خپل همکار د ګوښه کولو وړانديز وړاندی کړی هغه مهال دغه کار شوني دي.(۱۲)

د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون قيموميت د اساسي قانون ( ۱۵۶ او ۱۹۵ مادي د دريم بند) کی واضح شوی دي او له جزيياتو سره په ټاکنيزه قانون او د ټاکنو خپلواک کميسيون پوري اړونده دوه نورو قانونو کي توضيح شوی دي .(۱۲)

دغه د قانون احکام د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ته د ټاکنو د اداره کولو په برخه کي پراخ صلاحيتونه ورکوي.که څه هم د ټاکنو د کميسيون صلاحيت اوترکيب په عمومي شرايطو تنظيم شوی دی ، پرته له تفسيره چي دغه کميسيون يی له ځانه څخه لري، ددغه کميسيون په قيموميت کي قسماً دنه شفافيت د شتون له امله ،د ټاکنو کميسيون د لمړنيو پايلو د اعلانولو پرمهال د رايو باطلولو په برخه کی متفاوت دريځ څرګند کړ او دا په خپله د هغه قانون له احکامو سره په تضاد کي وو کوم چي په خپله يی دمخه مطرح کړي.(۱۳) د ټاکنو د قانون يو شمير مادي ستونزمني دي او دا چي د اساسي قانون سره سمون نه خوری نو له دي امله ټاکنيزه بهير ته ستونزي ولاړولي شي. په ځانګړي ډول د ټاکنو قانون د ۱۸ مادي څلورم بند ، وايی که چيري د ټول ټاکنو پرمهال د ولسمشري ټاکنو يو نوماند مړ کيږي نو ټاکني دي بايد له سره ترسره شي. که څه هم ددی مادي موخه د نوماندانو د ترور دهڅو مخنيوي وه، خو دا ماده دهغو کسانو لپاره هڅونکي فکتور کيدای شو کوم چي د ټاکنيزه بهير د کډوډولو غوښتونکی ول ، او دا ګواښ د ۲۰۰۹ کال ټاکنو ته په جدي ډول متوجي وو.(۱۴)

د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون() د ټاکنو څخه وړاندي د ټاکنو د پروسي لپاره د مقررو په وضع کولو لاس پور نکړ، او ډيري سيمي ددغه ډول قوانينو د پلی کيدو تر پوښښ لاندي را نه غلي، چي دي کار پخپله د مشاجرو لپاره لار پرانيسته. د ټاکنو د پايلو د تاييد په برخه کي د ټاکنو د کميسيون قانون ، د بيلګی په ډول د پايلو اعلانولو ته کره ضرب الاجل ټاکلو په برخه کی واضح ميکانيزم رامنځته نه کړ، او نه يی د مشکوکو رايو دفع کولو لپاره د باور وړ ضمانت امکان برابر کړ.( ۱۵) د نوماندانو د انصراف يا ګوښه کيدو په پروسيجر ( ددي موضوع لپاره VII فصل وګوريږ ) کوم چي د ۲۰۰۹ کال د ټول ټاکنو لپاره ډير اهميت درلوده وضاحت نه وو.

---

دغه اصل د نورو مقرراتو ترڅنګ د ولسواکي د خپريدو په برخه کی دملکرو ملتونو دعمومي اسمبلي د منشور په په اړونده ماده کی ځاي کړاي شوی دي.(۹)
د اساسي قانون ۶۱ ماده وايی جمهور ريس دنده تر ټول ټاکنو وروسته د پنځم کال دغبرګولي په لمړي نيټه چی د عيسوي مي مياشتي ۲۲ کيږي پای ته رسيږي.(۱۰).
د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنيزه عملياتو دپل کولو د ملاحظي وړ فکتور څرګنده وي لکه، امنيتي وضيعت ،د جوی حالاتو په پام کی نيولو سره دهيواد کنو غرنيو سيمو ته په اپريل او مي مياشيتو کي محدوده لاسرسي او د ټول ټاکنو عملياتو ترسره کيدو ته محدوده مهالويش.د ټاکنو قانون ۵۵ ماده د ټاکنو خپلواک کميسيون ته حق ورکوی ،که چيري د امنيتي ، مالي او يا تخينکي حالاتو له امله ټول ټاکني شوني نه وي ، ټول ټاکني دي وځنډوي.(۱۱)

## D . قانوني عمومي جوړښت:

د قانوني کاري چوکاټ د ځينو نيمګړتياوو د پوره کولو هڅي وشوي، په ځانګړي ډول د کال ۲۰۰۸ په جنوري کی پارلمان ته د ټاکنو د قانون د مسودي وړاندي کول ، او په ۲۰۰۹ کال کی د ټاکنو خپلواک کميسيون په اړه د قانون د مسودي منل کيدل. په داسي حال کی چي اداري ستونزو د قانون جوړني او د افغانستان د ټاکنو لپاره د کاري قانوني چوکات د انکشاف ورکولو بهير په وړاندی خنډونه ولاړ کړي ول.

په اجرااتو کي دستري محکمي نه خپلواکي په ګڼو راپورنو کی ثبت شوي دي. همدارنګه د اهم د حقايقو پر بنسټ تاييده شوی ، چي دولتی مامورينو صريحاً د واک د ويش قانوني اصولو په ځاي کولو څخه ډډه کړي او يا خو يی رد کړي دي. چی دا پخپله د قضايي قوي کمزوري ، د محکمي د اغيزمنه سيستم نه شتون او همدارنګه انصاف او عدالت ته نه لاسرسي چي کولاي شي د ټولني په غوڅ اکثريت تاثير پري باسي ښکارندوي کوله.

که څه هم دي موضوع په مخامخ ډول د ټاکنو پر پروسي اغيز ونکړ، د ټاکنيزه شکايتونو اوريدو په ميکانيزم نه اعتماد کول ، د يوي خپلواکه او اغيزمني قضايی سيستم نه شتووالی سره تړلي وه . په افغانستان کي د قانون د حاکميت او د بشر دحقونو تقوي او د جرمونو او سرغړوني لپاره د يوي حساب ورکونکي مرجع د شتون لپاره د خپلواکه قضايی سيستم رامنځته کول ډيره اړينه موضوع ده.

همدارنګه دا د پام وړ او ډيره با ارزښته موضوع ده چي د ولسمشريزه ټاکنو د پروسي له پای ته رسيدو د افغانستان لوي څارنوالی د حکومتي او له حکومته بهر کسانو د اداري فساد په دوسيو د پلټنی کار پيل کړ. دغه ډول اقدامات د مثبتو فعاليتونو نښه ده ، ګرچه اوس هم قضايی سيستم نور ملاتړ او د وړتيا جوړوني په برخه کی نورو مهمو اقداماتو ته اړتيا لري.

پر قضاييه سيستم د اجراييه قوي بی ځايه اغيز ددي سبب شوي چي د قانون تدوين ، چي کولاي شواي په حکومتي سيستم کی د کنترول او مقابلی قاطع وړتيا رامنځته کړي وي ، رامنځته نه شوه.

ستري محکمي په حقيقت کي داسي پريکړي ونيولي ، چي زياتره يی په واضع ډول د اجراييه قوي په پلوي وي. دي کار اوضاع نوره هم خرابه کړه ، او هخوا پارلمان وار دمخه په وړو وړو ډلو د ويشل کيدو او په پارلمان کی دځينو مختل کوونکو غړيو شتون له امله د غوڅ دريځه بی برخي وو. ددغو ستونزو شتون له امله د نوماندانو د څارني لپاره کار اوهلی ځلی ونشوي.

دغه اداري عيب په پايله کی ددی سبب شو ، چی په ۲۰۰۹ کال د ټاکنو قانون د مسودي د څارني مسآله له بن بست سره مخ شي خو د ګڼو ستونزو سره سره ، د ټاکنو قانون مسوده د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو پرمهال د شويو ځينو وړانديزونو په پام کی نيولو سره جوړه شوه.

دټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د جوړښت او طرزالعمل په اړه د ولسمشر له لوری د ۲۰۰۵ کال د جنوري په ۲۱ نيټه فرمان صادر شو.(۱۲)
دټول ټاکنو دخپلواک کميسيون احکام دټاکنو دپايلو دتصديق اويا د رايو دباطلولو امکان په بر کی نيسي ، په داسي حال کي چي په ۱۳۸۸ کال د خپلی ۶۱ پريکړي پر بنسټ د رای ورکولو ۴۴۷ مرکزونه قرنطين او دټاکنو د شکايتونو کميسيون ته يی د قانوني بهير لپاره راجع کړل.**(۱۳)**
دقانون دغه ماده د ۲۰۰۴ کال ټاکنو په درشل کي د ستري محکمي له خوا تفسير کړاي شوه ،چی ددغه مادي حدود يی ډير رالنډ کړل. په داسي حال کی چی دستري محکمی له خوا ددغي مادی رامنځته کولو ته اوس هم اړتيا شته **.(۱۴)**
دا په عمومی ډول منل شوي چي "د ټاکنو قانون بايد د قانون حکم ولري " قوانين او تفسير کول ، په ځانګړي ډول په تخيکي پوښتنو او د وضاحت غوښتلو په برخه کي کيداي شي چی قانونی چوکاټ کی ترتيب شي.**(۱۵)**

په دي مسوده کي په ټاکنيزه سيستم کی د سياسی ګوندونو د رول د معرفی کولو په څير ځيني بدلونونه رامنځته شوي ول.
د پارلمان غړيو په داسي حال کی چي د اساسی قانون له مخي د پارلمانی ټول ټاکنو وخت رانږدی کيدو کي دی يعني په ۲۰۱۰ ميلادي کال کی ترسره کيږي ، د ټاکنو ددغه نوي قانون يوازي ۹ مادو پرسر مباحثه وکړه.(۱۶)

له شتوو ستونزو سره سره پارلمان په تيرو کلونو کي د ګڼو قانونو مسودي تصويب کړي ، په ځانګړي ډول د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د ترکيب ، دندو او صلاحيتونو مسوده ، د رسنيو قانون او د اساسي قانون د څارني او پلی کولو د کميسيون د قانون مسوده تصويب کړه **(۱۷)**. چي وروسته بيا اجراييوي قوي د قانون دغه مسودي د ستري محکمي له لوري پکی له اصلاحاتو راوستلو وروسته له سره چاپ او نشر کړي. په دغو اصلاحاتو کی دا مسالی ذکر شوی وي ، چي د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون او ملی راډيو تلويزيون مشران د پارلمان د رايو په ذريعه نه ټاکل کيږي ، هغه احکام چي کولاي شی ددغو کسانو بشپړه خپلواکي وساتي هغه به د جمهوري رياست له خوا تعيين کيږي. برسيره پر دي دا چي د قانون د مسودو په برخه کی ستره محکمه د اساسي قانون له مخي د پريکړو صلاحيت لری او که نه هم ډير مباحثي شوي دي. د بيلګی په ډول کله چی داساسي قانون له مخی د ولسمشر ټاکل شوی دوره پای ته ورسيده ،او ستري محکمي هغه د يوي مودي لپاره وغځوله ، دغه کار د پارلمان له مخالفت سره مخامخ شو، او پارلمان د ستري محکمي ددي پريکړي په اړه ، د اساسي قانون د پلي کولو او څارني کميسيون ته ځانګړي امتياز ورکړ ، ترڅو په دی برخه کی داساسی قانون تفسير وکړي.

د اساسي قانون ۱۰۹ ماده: د تقنينيه دورې په وروستي يو کال کي د ټول ټاکنو د قانون د بدليدو وړانديز د ملي شورا دکار په فهرست کی نشي نيول کيدلاي.**(۱۶)**
د ټاکنو قانون دليکل کيدو پرمهال ستري محکمي داساسي قانون خلاف د ځينو مادو حکم ورکړ، او ولسمشر کرزی د قانون مسوده وروسته له دی چي پارلمان تصويب کره، هغه رد کره.**(۱۷)**
او ستري محکمي حکم ورکړ چي نوموړي کميسيون دخپلو محدودو صلاحيتونو پر اساس کولاي شوي داساسي قانون تفسير وکړي.
ددغه کميسيون دصلاحيتونو په برخه کی د ستري محکمي د پريکړي مندرجات د ۲۰۰۹ کال د سپتامبر مياشت کی په رسمی جريده کي چاپ شوي.
ددغه کميسيون له لوری د اساسي قانون د تفسير د صلاحيت در لودلو په برخه کی د اساسي قانون نه وضاحت جدي حقوقي کړکيچ رامنځته کړ.
په محکمه کی د قانون د تجديد او په يوه وخت دهغه خپرول ،هغه د قانون جوړوني بهير څخه جلا کوي. ( ۱۸)

## V. د ټاکنو اداره

### A. دټاکنو د اداري جوړښت او ترکيب

د اساسي قانون د ( ۱۵۶) مادي پربنسټ د افغانستان د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټول ټاکني، د ټاکنو د خپلواک کميسيون له لوري ترسره شوي. د ټاکنو خپلواک کميسيون (د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون) د تير ۲۰۰۵ کال په جنوري کي د ولسمشر د يوه فرمان پر بنسټ رامنځته شو، دا دايمی کميسون دی ، کوم چي غړيتوب يي ، صلاحيتونه او دندي يی د اساسی قانون او د ټاکنو د قانون له مخي تنظيم شوي دي. د ټاکنو خپلواک کميسيون د افغانستان په اسلامی جمهوريت کي د ټول ټاکنو لپاره د تياريو نيولو، تنظيم ،پلی کولو او څارني با صلاحيته مسووليت لري، او همدارنګه په تشکيل کي رييس ، مرستيال او پنځه کميشنران لری چي د ولسمشر له لوري د دريو کلونو لپاره ټاکل کيږي ،او پرته له شکه چي دغه موده نوی کيدای هم شي. د قانون له مخي د ټاکنو خپلواک کميسيون د حکومت له نورو ادارو جلا او خپلواکه دي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون دندي په دي ډول دي: د باقاعده کاري چوکاټ رامنځته کول، د خپلی دار لانشا له لاري د ټاکنو د تنظيم او تطبيق د چارو اداره کول، د نوماندان ثبتول، د اړوندو شکايتونو او ستونزو هوارول او د ټاکنو د څارني لپاره د کورنيو او نړيوالو څارونکو رابلل. او همدارنګه د ټاکنو د پايلو داعلان مسوليت هم ددغه کميسون په غاړه دي.

د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دارلانشا اداره (د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون) يو مشر (CEO) او دوه مرستيالان لري. د ټاکنو د دارلانشا مشر د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ورځنيو فعاليتونو د تنظيم مسؤل دی.

په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ ميلادی کلونو کی د ولسمشرۍ ، پارلماني او ولايتي شوراګانو ټول ټاکني د افغانانو او ملګروملتونو په ګډو هڅو په لاره واچول شوي، په داسي حال کي چي د ۲۰۰۹ زيږديزکال ټاکني د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د نړيوالی ټولني تخنيکی مرستي په مټ ترسره شوې. د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ۱۸۰۶ پريکړه ليک پربنسټ چي په ۲۰۰۸ کال کي تصويب شو ، د افغانستان سره د ملګرو ملتونو د مرستي رسوني ماموريت د جوړيدو اجازه ورکوي،ملګرو ملتونو "د صبا لپاره ټاکنيزه او حقوقي وړتيا " صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه پرامختيايي پروګرام تاسيس کړ،دغی اداري د پروګرام جوړني، اداري سمون،د مرستندويه هيوادونو د مرستو تنظيمولو په برخه کی تخنيکی همکاري ، او ټاکنيزه مامورنيو په ځانګړي ډول د ټاکنو خپلواک کميسيون ته سلامشورو ورکولو په برخه کی همکاري کړي ده.

ددغه پراخ ملاتړ په ترڅ کي د صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه() پروژي نړيوالي مالي مرستي تنظيم کړي او د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ، د ټاکنو شکايتونو کميسيون ، کورنيو څارونکو او د مدني ټولنو ډلو او پروګرامونو ملاتړ لپاره مالي امکانات برابر کړل.

د هغو وړانديزونو باوجود کوم چي د ۲۰۰۵ کال پرمهال شوی وي ، نړيوالي ټولني د ۲۰۰۹ کال ضروري اداري اړتياوو ته د ۲۰۰۸ کال په وروستيو کی ځواب ووايه. له دی امله د صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه() پروژه ډيره ناوخته پلی شوه. برسير پر دي ، دغي پروژي داسي قانون رامنځته کړ چي له مخی يی هغو ارګانونو ته مشوري ورکول کيدلي چي ګمان کيده خپلواکه دي، او همدارنګه هغه کسانو ته چي دنده وسپارل شوی وه ترڅو يو بل وڅاري ، په بر کی نيول .

د صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه() پروژي له لوري کابو ۱۴۰ تخنيکي مرستي د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ته برابري کړاي شوي وي.

(۱۸ د اساسی قانون ۱۵۷ ماده: داساسی قانون د پلی کولو پر څارني خپلواک کميسيون دقانون له حکم سره سم رامنځته کيږي.

په دی صورت کي بايد "د صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړوني"پروژي کار ستايل شوی وي ، ځکه چي دخپل سخت طرزالعمل مهمي برخي يی په اغيزمنه او مناسبه توګه پرځاي کړي، منجمنت او اداره او همدارنګه ځيني پرسونل يی د مهمو ټاکنيزه معلوماتو په برابرولو ، او د اروپايی ټولني د ټاکنو څارونکي ماموريت لپاره د باور وړ ټاکنيزه معلوماتو په برابرولو او نه شريکولو په برخه کی نه يوازي بی ميلي ښکاره کړه بلکی خپل کار يی ړونوالی هم ونه ښود، چی د اړتيا پرته يی د اروپايی ټولني د ټاکنو د څارونکي ماموريت د څارونکو ستونزي نوري هم زياتي کړي.

**B. د ټول ټاکنو اداره**

د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون (د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون) د ټاکنو تر وځي پوري پراخ مسووليتونه او واک درلوده ، چي په مسوله توګه يی خپل ډيری

مسئليتونه سرته ورسول. د ټول ټاکنو مامورينو تر سختو امنيتی فشارونو لاندی او د دوي ژوند ته ګواښونه هم متوجي ول خپل ماموريت ترسره کړل ، د دی کار لپاره بايد د ټول ټاکنو کميسيون وستايل شي. د ټول ټاکنو په درشل کی ددغه کميسيون ۱۳ اداري مامورين ووژل.

په ټوله کي د ټول ټاکنو کميسيون د ټاکنو تر ورځی پوري خپلی دندي په اغيزمنه ، له تخنيکی اړخه تنظيم شوی او له مهالويش سره سم ترسره کړې، سره له دي چي بنيادی او امنيتی ننګوني په خپل قوت موجودي وي.په لمړي ځل د ځانګړي رای ورکوني ترناهه لاندی مقرره ددغه کميسيون له خوا جوړه شوه ، چي په هغه کی په روغتونونو کی بستری وکړو ، د پوځ پرسونل او همدارنګه بنديانو ته د رای ورکولو امکان برابر کيده. د اروپايی ټولني د ټاکنو دڅارني ماموريت دغه ګام ته د رای ورکولو نړيوالو اصولو ته په پام سره ښه راغلاست ووايه.د ټول ټاکنو په خپلواک کميسيون کي د جندر څانګي يا واحد رامنځته کول يو مثبت ګام وو.که څه هم دغه څانګه د ټول ټاکنو له ورځی څخه دري مياشتي وړاندی يعني ناوخته رامنځته شوه او همدی امله دغه څانګه ونه توانيدله چي خپل کارونه له وخت سره سم ترسره کړي.

دټول ټاکنو کميسيون په پراخه کچه خپلواکه ، ناپيلی او همدارنګه په بشپړ ډول شفاف ونه بلل شو. د ګمارني موجوده طرزالعمل په شمول د ټاکنو د کميسون د کميشنرانو ټاکل چي د ولسمشر له خوا کيږي ، د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون داستقلاليت له مفهوم سره مرسته ونه ګړه. برسيره پر دي د ځينو ولايتونو څخه مؤثق راپورنه شته دي او اروپايي ټولنی د ټاکنو د څارني ماموريت له خوا څيرل شوی ، چي ښي د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون په خپلو کارکوونکو داسي فشارونه راوستيل ول ،چي امله يی ددغه کميسيون ناپيليتوب په اړه جدي پوښتني را ولاړي کړي. د ټول ټاکنو د ځينو مامورينو ناپيليتوپ په اړه ډير اتهامات وارد شول، چي حتي په دوو برخو کی د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ، د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د يوشمير مامورينو د ګوښه کيدو حکم صادر کړ.که څه هم د اروپايی ټولنی د ټاکنو څارني ماموريت د ټول ټاکنو له کميسيون څخه بيلابيل او باوری معلومات ترلاسه کړي ، چي د تياريو په وروستيي پړاو کی جدي استثنات موجود ول.

د ټاکنو کميسيون په ښه ډول هغو معلوماتو ته دلاسرسي زمينه برابره نه کړه ، کوم چي د ټاکنو اداري د مؤثره څارني لپاره ورته اړتيا وه.

په ځانګړي ډول ، د ټاکنيزه توکو د بيرته را انتقالولو طرزالعمل ، د اروپايي ټولني څارونکو ته په معين وخت د رايو د شميرنی او د ټاکنو د پايلو د ارزولو کاري کړنلاري نه برابرولو ترڅو دغه څارونکي ورځخه په معين وخت څارنه وکړي.

همدارنګه د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون مقرراتو ته شفاف لاسرسي موجود نه وو،دا ځکه چی اړونده توکي په خپل وخت چاپ نه کړاي شول، او دغه راز په دي اړه هم هيڅ معلومات موجود نه ول چي دغه مقررات په کومو نيټو د ټاکنو د خپلواک کميسيون له لوري منل شوي دي. د ټاکنو د کميسيون په احکامو کی ناوخته بدلون د نړيوالو معيارونو د پامه غورځولو سبب وګرځيد،چي دی کار پخپله په قانوني کاري چوکاټ کی ،راي ورکوونکو ،ملی او نړيوالو څارونکو ته نور ګيچوالی رامنځته کړ(۱۹ ) . که څه هم د اروپايي ټولني څارونکو ته د ۲۰۰۹ کال د جولاي مياشتي په درشل کي د ټاکنو د کميسيون د مقرراتو په اړه وروستي معلومات په واک وکړل شوي ول، خو د يوشمير څارونکو ډلو په ګډون نور اړونده برخه لرونکو ته د ټاکنو خپلواک کميسيون له لوري د پخوانيو مقرراتو معلوماتي متن هغه هم ناوخته په واک کی ورکړل شوي وو.

د مقرراتو دغه زوړ متن بيا د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون په ويب پاڼه کی هم په هماغه پخواني نموني سره خپور شو.
د نوي او زړو مقرراتو ترمنځ رامنځته شويو بدلونونو ډير مهم مسايل په بر کي نيول . د بيلګي په ډول، هغه مقررات چي د څارونکو په واک کي وکړل شوي ول هغه کی څارونکو ته ناسم معلومات ورکول او هغوي يی د ولايتي شوراګانو ټاکنو رايو شميرلو ته راجع کول ، چي دي کار يو شمير څارونکو څخه لار ورکه کړي وه.

د ټول ټاکنو ټاکنو خپلواک کميسيون د طرزالعمل قوانين وايي چي د دوي پريکړي علني او وروستي دي ،خو د ټاکنو د قانون د ۳ او ۱۱ مادو پر اساس د استيناف غوښتولو اجازه شته ده، او همدارنګه د همدی قانون ۳، ۹ او ۱۰ مادو له مخي د ټول ټاکنو د کميسيون دارلانشا بايد ټولي پريکړي او راي ثبت کړي. په داسي حال کي چي څارونکو د ټاکنو د کميسيون د مشوروي غونډو کي د ګډون اجازه نه درلوده ، او برسيره پر دي د ټول ټاکنو کميسيون د لمړنيو پايلو د خپرولو پرمهال په دي کی پاتي راغي ترڅو خپلی پريکړي علني کړي، چی دي کار د ټاکنيزه بهير له نه شفافيت سره مرسته وکړه. امنيتی فشارونو د تياريو وروستي پړاو سخت اغيزمن کړ، او حتي په ځينو برخو کی ددی شونتيا نه وه ،چي د ټولو رای ورکولو مرکزونو امنيت تآمين شي. دغه راز د رايو د حوزو او مرکزونو په موقعيتونو کی د تعديل راوستل ، د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون له کنترروله وتلي وه، په حقيقت کي د رای ورکولو د حوزو او مرکزونو ليست په علني ډول رامنځته نکړاي شو،په دی معني چي نه رای ورکوونکو او نه هم څارونکو باوري او مکمل معلومات درلودل چی راي ورکونه چيري ترسره کيږي. برسيره پر دې د ټاکنو له جريانه وروسته ، د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دا چي د ټول ټاکنو په ورځ په کوم شمير د رايو حوزي او مرکزونو پرانيستي ول ، په دي اړه متناقص ، بی باوره او بدليدونکي معلومات ورکول( ۲۰ ).واقعي شميره اوس هم څرګنده نه ده ، او همدارنګه دا چي کوم شمير د رای ورکولو مامورين په دنده ګمارل شوي ول او دا چي د يوشمير رايو مرکزونو د لغوه کيدو پرمهال کوم شمير ټاکنيزه مامورين د جندر مسالي ته په پام سره ګمارل شوی ول هم دقيق معلومات ورنکړل شول. د رای ورکولو حوزو او مرکزونو لپاره د مهمو اساسي توکو د ساتني ځايونه او ډيپوګاني د ټاکنو په ورځ پرانيستل شوي نه وي او دا د صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا پروژي (صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه) د څارونکو او د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون ګډ مسووليت وو ، هماغه شان چي ولايتونو ته اضافي اړين ټاکنيزه توکي چمتو کړي ول ، دا کار يی هم بايد په ورته حالت کی کړي وي.په هغو ولايتونو کي چي (صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه) څارونکو شتون درلوده ، د طرزالعمل له مخي دا ضروري وه ، ترڅو د ټاکنو کميسيون ولايتي مشر (PEO) د صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه() نړيوال څارونکي په ګډه بايد ددغو مسالو څارنه کړي وي،چي د څارونکي په نه شتووالي کي دغه کار بيا د( PEO ) او لوژستيک مشر ګډ مسؤليت وو. د ټاکنيزه توکو د ساتنی ځيني مرکزونه چي د ټاکنو اړونده هغه اړين توکي چي د رای ورکولو حوزو او مرکزونو ته په پام کي نيول شوي ول پرانيستل شوی نه ول او کله چي د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون ولايتي مرکزونو ته انتقال کړاي شول ، د رايو د صندقونو ډکولو او د رايو وکولو په خيالي مرکزونو کی تری استفاده وشوه ، چي د ا کار د جدي درغليو سبب شو.د اروپايی ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت د ۲۰۰۹ کال دسپتمر په ۸ او ۱۶ نيټو دغه عمل وغانده.

د اروپا دامنيتی همکاريو دسازمان د ټول ټاکنو په اړه د قانوني کاري چوکاټ رهنمود دغه مهم عمل داسي بيانوي: قانوني کاري چوکاټ بايد جوړ شي اودغه راز په اساني سره عامه خلګو ته د لاسرسي وړ وي ،شفاشف او ټول هغه برخي پکی په ګوته شي چی د خپلواکه ټول ټاکنو د تامين لپاره اړيني دي.**(۱۹)**
د,۲۳۳۱۴ ټاکنيزه حوزو وروستي نوملړ د اکتوبر مياشتي په لمړيو کی چاپ شو، په داسي حال کي چی دټول ټاکنو خپلواک کميسيون داروپايی ټولني دټاکنو څارني ماموريت ته 26,276 ټاکنيزه حوزو چي دټول ټاکنو په ورځ پرانيستي وي پرته له کوم وضاحت په واک کي ورکړي وو.(۲۰)

**a) د ټاکنو دماموړينو او ټاکنيزه مرکزونو دکارکوونکو ګمارنه او روزنه**
ولايتي روزنکو د ولسواليو ۳،۱۵۰ سيمه ايزه سمون ورکوونکي وروزل ، او دغو روزل شويو کسانو بيا دهيواد په ۳۵۶ ولسواليو کي د ټول ټاکنو د تنظيم کوونکو په صفت دنده ترسره کړه. په دغه پاسني شميري کي يوازي ۲۳ سلنه يي ښځينه کارکوونکي وي. له دي سره سره په هيواد کی د ښځينه کارکوونکو ګمارنه ستونزمنه وو، په ځانګړي توګه د کابل په ځينو برخو او د هيواد په سويل او سويل-ختيځ سيمو کي دغه مسآله ستونزمنه وو. همدا امنيتی فشارونه ددي سبب شول چي په ډيرو برخو کي د ښځينه ټاکنيزه ماموړينو پر ځاي نارينه وګمارل شي. د اروپايي ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت د کارکوونکو د روزني موضوع وارزوله ، په ټوله کي دغه ځانګه ښه تنيظم شوي او په جدي ډول پلی شوي ، او همدارنګه د روزنی توکي هم ډير ښه بلل شوی دي.په ټوليزه توګه د اروپايی ټولني څارونکو د رای ورکولو مرکزونو د کارکوونکو اجرااَت د قناعت وړ ،ښه او په اکثريته برخو کي ډير ښه ارزولي دي.

**b) رای ورکوونکو ته معلومات او ټولنيزي زده ګړي**
د ۲۰۰۵ کال د ټاکنو پرخلاف ، په ۲۰۰۹ کال کي د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون په بشپړه توکه د رای ورکونکو د معلومات مسؤل وو او ټول ټاکنيزه پيغامونه يی د کمسيون د کارکوونکو او ټولنيزه مربيانو په ذريعه مرکزي کړل.
د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د رای ورکوونکو معلوماتو لپاره په لوړ کيفيت د بيلابيلو وسايلو لکه راډيو او تلويزون ، پوسترونو،او نورو اړوندو رسنيو څخه ګټه پورته کړه. خرابيدونکي امنيتي وضعيت ګنو ولسواليو ته د ټولنيزه زده کړو مربيانو په کارونو منفي سيوری غوړولي وه،حتي په ځينو کليوالو او لرو پرتو سيمو ته د دوي تګ ناشوني کړي وه ، ترڅو رای ورکوونکي د ټاکنيزه اړينو پروګرامونو څخه خبر کړي.

**c) د ټول ټاکنو دکميسيون له لوري د درغليو کموال اومونډنه**
د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ښکيلو اړخونو ته په ټاکنو کي د درغليو موندني او کموالو لپاره خپل مقررات په ډاګه کړل.
په دي مقرراتو کي ، ټاکنيزه توکو د کيفيت ساتنه ، د حساسي توکو د ليږدوني کنټرول، د درغليو په مخنيوي او شفافيت د ټينګار طرزالعمل،د نوماندانو د استازو، څيرونکو او رسنيو په مرسته د قانون خلاف او دغلطيو موندني مساله په برکي نيوله . په داسي حال کي په هغو سيمو کي چي امنيتی ستونزي موجودي وي ، د نوماندانو استازي ، څيرونکو ، رسني او راي ورکوونکي په لږ شمير کی موجود ول ، د درغليو کولو هڅي په پراخه اندازه بريالی وي.
د درغليو د کمولو اقداماتو کي چي د ټول تاکنو دخپلواک کميسيون له خوا رامنځته شوي ول ، د پلټني لپاره د قوانينو په لاره اچول هم شامل ول (۲۱). له بده مرغه دغه قوانين چي په خپله ددغه کميسيون له لوري رامنځته شوي ول عملي نکړاى شول، او دغه سيستم د پراخو درغليو سيل کی راګير شو، درغلي وموندل شوی خو د رای ورکوني په حوزه کی سمي نکړاي شوي ، ترهغه چي د اروپايی ټولني د ټاکنو دڅارني ماموريت او د ټاکنو شکايتونو کميسيون له لوری د درغليو د شواهدو په فشار په پايلو کی يو څه ښوالي را وستل شو.

د ډيرو معلوماتو لپاره دپايلو ځانګه وګوري.(۲۱)

### VI. د رای ورکوونکو نوم ليکنه

#### A) د رای ورکول حق

د اساسي قانون ۳۳ ماده د اتباعو د رای ورکولو دحق ضمانت کوي. د اساسي قانون ۶۱ ماده د ولسمشرئ او ولايتی شوراګانو ټول ټاکنو کي د ازادو ، عمومي ، پټو او مخامخ راي اچوني ضمانت ورکوي، همدارنګه په پاسنيو اصولو د اساسي قانون په ۱۳۸ مادي او د ټول ټاکنو په دوهمه ماده کي هم ټينګار شوي دي.د ټاکنوقانون ټينګار کوي رای ورکوونکی بايد افغان اوسي-
او د نوم ليکني په ورځ بايد ۱۸ کاله او يا له هغه څخه زيات عمر ولری او نه بايد چي شرعاً د کومي با صلاحيته محکمي له لوری د خپل ټولنيزاو سياسي حق څخه بي برخي شوي اوسي، او همدارنګه د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون له لوری بايد د رای ورکوونکي په صفت ثبت او راجستر شوې اوسي.

#### B) د رای ورکوونکو نوم ليکنه

د نوم ليکنی بهير د رای پاڼو کارولو لپاره د افرادو قانونيت معلوموي، د ټاکنو په ورځ يی هويت يی او د ځو ځلی رايو کاروني او جعلي هويت پيژندني لپاره حفاظتي ترتيبات رامنځته کوي.د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزه او ولايتي شوراګانو ټول ټاکني د واحد او کره نومليکني ،کوم چي د ټاکنو د بهير مشروعيت يی کمزوری کړ ترسره شوي. د ولسمشرئ ، پارلماني او ولايتي شوراګانو ټول ټاکنو ته د تياريو نيولو لپاره ، نوم ليکنه په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ ميلادي کلونو کي ترسره شوي ، چي ټول ټال ۱۲،۵ ميليونه کسانو د رای ورکولو کارتونه ترلاسه کړي ول. د ۲۰۰۵ کال راهيسی د کره نوم ليکني رامنځته کولو لپاره له وړانديزونو با وجود، د کره نوم ليکنی ليست رامنځته کولو لپاره د وروستي پريکړي تعهد ونه شو ، او دغه کار د ۲۰۰۸ کال د جولاي په مياشت کی د ټاکنو د کميسيون او د ولسمشر په مشوره ترسره شو.

برسيره پر دې په څلور پړاونو کی د نوم ليکنی بهير ترتيب کړای شو، ددي کار موخه د هغو وګړو نوم ليکنه وه کوم چي د ۲۰۰۹ کال ټاکنو پوري د رای ورکوني قانوني عمر ته رسيدل ، هغو وګړو چي د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو راهيسي خپل د رايو کارتونه ورک کړي ول او هغو وګړو نوم ليکنه وه چي د اوسيدو سيمي يی بدلي کړي وي. چي دغي تازه نوم ليکني سره 4,7 ميليونه د رای ورکولو نوي کارتونه چاپ شول ، او په دي ډول د پخوانيو هغه ۱۲،۵ ميليونه کارتونو سره ټول ټال له ۱۷ ميليونو څخه ډير د رايو کارتونه په دوران کی وغورځيدل. کيداي شي چي په ميليونونو يی داسي وي چي يو چا دوه ځلي د رای ورکولو کارت ترلاسه کړي وي.

د ځو ځلي نوم ليکنی د کشف اوموندني لپاره د ۲۰۰۹ کال په درشل کي د ګوتي د نښي اخيستو ميکانيزم په کار وغورځول شو.
د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د اړيکو او معلوماتي ټيکنالوژئ څانګي ( ) د ټول ټاکنو خپلواک کميسيونCIT's د ۴،۷ ميليونو اضافي رايو ورکوونکو لپاره د معلوماتو مرکز يا ډيټا بس په توليدولو کار پيل کړ، چي د رای ورکوونکي عکس، د ګوتي نښه او دا يی ذخيره کول چي رای ورکوونکي کومي ټاکنيزه حوزې او ولايت پوری اړه لري. په داسي حال کي چي د ټاکنو د اړيکو او معلوماتي ټيکنالوژئ څانګي ددي ظرفيت نه درلوده ، چي د معلوماتو مرکز ( Database) کار له نورو شتوو کارونو سره يو ځای ترسره کړي، او د رای ثبتولو دغه ډيټابس له څو مياشتو راهيسي مختل شوی ، چي نشوای کولاي د ټاکنو پايلي پروسس کړي. ددغه سيستم له مختل کيدو وړاندي د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون د اړيکو او معلوماتي ټکنالوژئ څانګي څرګنده کړي وه ،چي دوي په بريالتوب سره له دري ميليونو څخه زيات نومونه دغه ډيټابس ته پروسس کړی دي، چي په دي کی ډير لږ يی د نه استفادی وړ فرمونه يعني يو نه تر دوه سلنه پوری ول او همدارنګه په لسو ګونو زره دوه ځلی اخيستل شوی فورمي يی تشخيص کړي ، چي د معلوماتو د مرکز يا ډيټابس له بشپړولو وروسته به يی و ارزوي.
امنيتی ستونزو په خيالي ډول د زياتو ښځينه نومليکني سره مرسته وکړه، دغه مساله د نوم ليکنی نوي بهير پرمهال کشف شوه. په اتو ولايتونو کی د ښځينه نومليکني شمير شاخوا ۵۰ سلنه شوي وه، په داسي حال کی چی په دريو ولايتونو ( لوګر، خوست او پکتيا ) کي دغه شمير ۶۰ ته رسيدلي وه **(۲۲)**. کومه نوم ليکنه چي د رای ورکوونکو د نوي نوم ليکني بهير کی په ۲۰۰۹ ميلادي کال کي وشوه -،

نورستان ، پنجشير،دايکندي ،کاپيسا، لوګر،بادغيس ، خوست او پکتيکا (۲۲).

نشواي کولاي چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ میلادي کلونو له ثبت شوي شميري سره يې سمون خوړلي وي، او دا هم نا شوني وه چې د ۲۰۰۹ کال ټول ټاکنو لپاره يې د راى ورکولو کافي نوملړ رامنځته کړی وي. د راى ورکوونکو لیست د هیواد په هیڅ یوه سیمه کي چاپ اوخپور نه شو، چي راى ورکوونکو ته ګټور تمام شي او د درغليو په مخنيوي کي مرسته وکړي.

**V11.دکانديدانونوم ليکنه ::**

الف: دسياسي تنظيمونو ثبت کول:

دافغانستان اساسي قانون ددسياسي تنظيمونودجوړولوحق تضمينوي، چی ددغه ترتیب شوو قوانینونو باید احترام وشي. دسياسي[23]تنظيمونو ثبت کول دسياسي تنظيمونو دقانون له مخی صورت نيسي چی د قانوني مستحق توب مشخصات يی باید دنړیوالومعيارونوسره سمون وخوري.
اګرچی دسياسي تنظيمونودثبت کړنلاره کوم چی دقانون لخواوضع شوی ده دسياسي مداخلی لپاره ليازه پريږدي اوکافي تفصيلات نلري چی دپروسی شفافيت اوبی طرفي تضمين کړي، او دقانون له مخی داهم یوشرط دی چی باید دغه سياسي تنظيم دمتعددوډلولخوا داعتباروړوبلل شي. دمثال په ډول دسياسي تنظيمونودثبت ددرخواستونوداخري ضرب الاجل لپاره کومه خاصه اخطاريه نشته.

اګرکه ۲۰۰۸ کال داګست په مياشت کی ۱۳۸ سياسي تنظيمونه ثبت شوي وو مګردغه تنظيمونودافغانستان په سياسي اواداري ژوند کی ډيرلږ رول اداکړو.داچی دسياسي تنظيمونودرول په هکله په څرګند ډول څه شی نه وو موجود نوځکه دسياسي تنظيمونوثبتول په انتخاباتي پروسه باندی څه واقعي اغيزه نه درلوده. هغه کم رول چی دی دسياسي تنظيمونو لخوا اجراشوهغه يو فکتوردی چی دپارلمان څخه دباندی دجمهوري رياست دواک په ټاکنه کی وه

.

ب: دکانديدانوثبت اوارزونه:

دافغانستان اساسي قانون اودانتخاباتوقانون دهغه کسانولپاره چی درياست جمهوري اوولايتي انتخاباتولپاره مبارزه کوي رسمي لازمه شرايط وضع کوي چی دغه شرايط بی له تبعيضه دي اودنړيوالوکړنوسره په سمون کی دي.درياست جمهوري کانديد بايد حداقل ۴۰ کاله عمرولري اود ولايتي شورا کانديدبايد ۲۵ کاله عمرولري. ټول کانديدان بايد افغاني تابعيت ولري اودقانون له مخی دخپلومدني حقوقوڅخه محروم نه وي. ټول کانديدان بايد دافغانستان دخپلواک کميسيون له خوادرايه اچوونکوپه حيث ثبت شوي وي اودرياست جمهوري کانديدان بايد دبل هيوادتابعيت ونلري (۲۵). اوولايتي کانديدان بايد دهمغه ولايت اوسيدونکی وي. دنوماندۍ د ورقودتسليميدوڅخه مخکی بايد د رسمي وظيفی څخه چی په دولت ، انتخاباتودفتر اوياهم په محاکموکی لري استعفا ورکړي(چی دادانتخاباتودقانون په ۱۵(۱) ماده کی هم لست شويد ي).درياست جمهوري کانديدانودنوماندۍ ورقی بايد د ۱۰۰۰۰ (لس زره)کسانوپه نومونواوامضاګانوسره تقويت شي اودولايتي شوراګانوکانديدان(۲۶) بايد خپلی دنوماندۍ ورقی د ۲۰۰ (دوه سوه) کسانوپه نومونواوامضاګانوسره چی په همغه ولايت کی اوسيږي تقويت کړي.درياست جمهوري کانديدان بايد د۵۰۰۰۰ (پنځوس زره ) افغانۍ پاسره کيږدي اودولايتي شوراګانوکانديدان بايد د۴۰۰۰ (څلورزره) افغانيوپه اندازه پاسره کيږدي. دغه پاسره هغه کانديدانوته چی انتخاب شي اوياد اعتباروړرايو ۱۵٪ رياست جمهوري کانديد ترلاسه کړي او ۲٪ دولايتي شوراکانديد يی ترلاسه کړي دوباره ورکول کيږي. دنوماندۍ دوره درياست جمهوري اوولايتي کانديدانولپاره د۲۰۰۹ کال داپريل د ۲۵ څخه دجون تر۱۲ نيټی پوری وه چی پدغه دوره کی دمۍ دمياشتی د۱۶ او ۲۱ نيټوپه منځ کی لنډه موده دنيوکو لپاره مختص شوی وه.

---

د قبيله ژبی او نورو تبعيضونو پر بنسټ د حزب جوربښت منع دی د اساسی قانون سره سم
د اساسی قانون ۶۲ او ۸۵ ماده
د اساسی قانون ۶۲ ماده
د اساسی قانون د ۳۵ مادی ۲ بند

اساسي قانون اودانتخاباتوقانون دکانديدانودارزونی لپاره يوقانوني بنياد ږدي. دانتخاباتوقانون هغه کانديدان نااهله ګڼي څوک چی دناقانونه

مسلح ګروپونوسره نږدی اړيکي لري اواساسي قانون هغه خلک چی دجرايمومرتکب شوي وي دنوماندۍ څخه اوباسي. دعمومي مصونيت دزميني په رڼاکی هغه کسان چی مخکی هم په جرايمومرتکب وو داساسي قانون دپورتنۍ مادی څخه ډيرلږاغيزمن شوي دي اګرکه دغه پخواني ناجايزه کارونه يی دملل متحد، مدني ټولنو،ملي اونړيوالوبشري حقوقودادارو لخوادرج شوي وو. عموماً رايه اچوونکوداتوقع درلوده چی بدنام کسان کوم چی په جرايمومشهورووګرکه دمحکمی لخواورباندی کوم جرم نه وي ثابت شوی بايد د نوماندانودلست څخه وايستل شي. دداسی انزوا وړاندوينه په قانون کی نده شوی اوښايي دهغواصولوسره په ټکرکی واقع شي کوم انفرادي کسان دجرمونو څخه دهغوی دشخصي مسوليت په رامنځ ته کولو کی دقانوني پروسی څخه برخمن کوي. په هغه هيوادونوکی چی هلته تازه شخړه وي اوياداچي په پړله پسی دشخړوسره لاس اوګريوان وي محاکم پکی ضعيف وي. پداسی حالاتوکی دانتقالي عدالت اقدامات دهغه کوشش يوه برخه ګڼل کيږي چی دقانون حاکميت په ځای کوي اوتيرو جرايموته ځواب وايی اوپه عين وخت کی دپخلاينی اوسولی پراخه اهداف هم تعقيبوي. دارزونی غوښتنه اوکه ضروري وي د کانديدانوانزوا داسی بريښي چی د افغانستان دشرايطوسره سم ددموکراتيکوبنيادونود جوړونی سره تړاو ولري. په عام ډول سره خلکودارزونی دپروسی دمحدودولوپه وړاندی نارضايت وښود، تريوحده ددی نارضايت لپاره ځانګړی حمايت هم حاصل وه ، اوبرعلاوه دغه اميد چی خلکوداتقع کوله چی د دغه انتخاباتوپه نتيجه کی به يو حسابده دولت منځته راشي.ارزونه ددولت د ۲۰۰۶ کال دسولی، عدالت اوپخلاينی په کاري پلان کی دمنل شوودانتقالي عدالت اقداماتو په لمن کی پريوتله. ددی پلان اغيزه صرف دومره وه چی په هغه وخت کی يوموټی دولتي مامورين چی دناقانونه وسلوالوډلوسره يی اړيکی درلودی منفک شول اويوموزيم جوړشو چی په هغی کی دهيوادترښه سابقه ښودله. درشتياويلويوميکانيزم هم منځ ته راغی،په بنيادي ډول دافغانستان دخپلواک بشري حقوقودکميسيون لخوا، کوم چی په تيروخت يعنی ۲۰۰۴ کال کی دعدالت لپاره داواز په نامه يوراپورهم خپورکړی وه.

د ټول ټاکنو قانون ۱۵ مادی ۳ بند
د بشر د حقونو خپلواک کميسيون اوس يو کار پيل کری ده

دانتخاباتوخپلواک کميسيون دکانديدانودارزونی په پروسه کی برخه ونه اخستله ځکه چی دی هغه مقررات وضع نکړل دکوموله مخی چی بايد دکانديدئ لپاره ورکړشوي درخواست پاڼی تصديق شوي وي. بلکه په ځای يی داسی شرط کيښودچی کانديد بايد يوه قسم پاڼه امضاکړي په کوم کی چی دااليکل شوي چی زه (کانديد) ټول هغه اړونده شرايط پوره کوم، کوم چی ددی انتخاباتوپوری اړه لري. دغه کاردانتخاباتوخپلواک کميسيون دهغه انتقاد څخه وساته چی دسياسي فيصلوپه کولوسره ورسره مخامخ کيده. دارزونی دغه ټول باردشکاياتوپه کميسيون باندی پريوته.دغه کميسيون پدی مکلف شوچی بايد معلومه کړي چی ايا کانديدانودنوماندئ لپاره ټول مشروع شرايط پوره کړي اوکه پکی پاته راغلي دي چی پدی کی دکانديدانو هغه ارزونه هم شامله وه چی ايا دوئ خو به دناقانونه وسلوالوډلوسره اړيکي نلري.

دشکاياتوپدی هکله داسی فيصله وکړه چی بايددوئ دخلع سلاح کولواودبيارغونی دکميسيون DRCپه فيصلواتکا وکړي چی ايادغه نوماند دناقانونه وسلوالوډلوسره اړيکه لري اوکه نه يی لري. DRC هم ديوی اوږدی پروسی له مخی چی پدی کی ددی کميسيون مشترکه سکرتريت، دداخله چاروورارت، دڊفاع وزارت، دملي امنيت رياست، دملل متحد دعمومي منشي دسکرتردفتر، اودايساف قوماندان، کوم چی دغه ټول د ناقانونه وسلوالوډلودمنحل کولو پروګرام (DIAG) دچوکاټ لاندی راځي څخه دامعلومات ترلاسه کول. دلست څخه ويستل شوي کانديدان ياهم کولای شول چی خپلی ناقانونه اسلحی تسليم کړي اوځان خلع سلاح کړي اويايي هم هغه دعوه چی پری شوی چی دغه کانديد دناقانونه وسلوالوډلوسره اړيکه لري بايد تصفيه کړی وای ترڅودهغه حالت ددوباره غورلاندی نيول شوی وای. ليکن چون هغه وخت چی په هغی کی دلست څخه ويستل شوی کانديد دوباره خپل تخريب شوی حالت بيا اعاده کړي اويا هم خپله ناقانونه اسلحه مربوطه مرجع ته وسپاري ډيرکم وه نوځکه پدغه حالته کی د ارزونی پروسی ته دټاکل شوی پروسی سره دناموافقت له کبله زيان ورسيده. همدارنګه دغه کار دارزونی دپروسی اغيزه يی چی دخلع سلاح سره دتوافق له کبله يی کانديد ته امتيازات ورکول محدوده کړه.

دشکاياتوکميسيون دنوماندئ په وړاندی ۳۰۲ انتقادونه ترلاسه کړل چی پدی کی ۵۰ درياست جمهوري نوماندانوپه خلاف وو او ۲۵۲ دولايتي شورادنوماندانوپه خلاف وو. په انتقادونودقضاوت څخه وروسته درياست جمهوري دکانديدانوشميره ۴۱ تنوته ورسيده (چی ددوئ سره ۸۲ معاونين وو) او دولايتي شورادکانديدانوشميره ۳،۱۹۵ تنوته ورسيده.(۲۹) دشکاياتوکميسيون جملتاً ۵۶ نوماندان دقانوني مقرراتوسره دعدم توافق په وجه لری کړل چی پدی کی دوه درياست جمهوري کانديدان وو ، يو درياست جمهوری لپاره معاون کانديد وه او۵۳ دولايتي شوراکانديدان وو. ددی کانديدانوڅخه يی ۵۴ کانديدان پدی خاطردلست څخه وويستل شول چی هغوئ دناقانونه وسلوالوډلوسره اړيکی درلودی،يوکانديد پدی خاطردلست څخه لری شوچی دافغانستان داساسي قانون د ۶۲ او ۸۵ مادوله مخی په جرايمومرتکب شوی وه اواخري يويی ددوه ګونی تابعيت ددرلودلوله کبله د نوماندانو دلست څخه وايستل شو.

د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون دغه فيصله چی د DRC دکميسيون په معلوماتوباندی دارزونی په هکله اتکا وکړي تريوحده پوری قسماً ددی وجه نه ووچی د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون کميسيون ناوخته تاسيس شو اوبله وجه يی داوه چی پلټنه په مکمله توګه ترسره شي چی دغه کارد د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون دولايتي دفاترو په وس کی نه وه. همدارنګه دغی فيصلی د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون پدی وتوانوله چی دنوماندانولخوادقوي تورونوڅخه ځان ګوښه کړي اوصرف په هغه واقعي معلوماتو باندی چی موجودوو اتکا وکړي.
اګرچی ارزونه بياهم په بعضی مواردوکی ددی کبله دتنقيد لاندی راغله چی د DRC معلومات خپله هم دبعضی سياسي ډلواودبعضی مدني ټولنولخوا نيمګړی ونومول شوی.
دارزونی پروسه دسياسي ارادی اوحمايت دنه درلودلو له کبله دډيرزغم سره مخامخ شوه چی ورسره نړيوال ملګري چی په مشترکه سکرتريت کی موجووو هم ونشوکولای چی دافرادوداړيکو په هکله چی دناقانونه وسلوالوډلوسره يی درلودلی معلومات وړاندی کړي. دغه کوم معلومات چی دلته په کاراچول کيده اساساً ددولت څخه ترلاسه کيدله کوم چی نشوای کولای دبدناموجنګ سالارانوپه هکله داسی معلومات ورکړي. همدارنګه دغه پروسه دهغه مخوروسپين ږيرو اومحلي مقاماتودمداخلی له کبله چی ددپاګ دفاتريی داغيزی لاندی راوستل اغيزمنه شوه چی دااقلاً په پينځوولايتونوکی ترسره شو. همدارنګه هغه ميکانيزم چی ددی پروسی دپرمخ وړلولپاره په کاراچولی وه نه په کافي اندازه شفاف وه نه واقعي وه اونه هم شامل وه. مهمه خبره پکی داوه چی ددی تعريف تراوسه معلوم نه وه چی يوناقانونه وسلواله ډله چاته وييلی شي ياداچی دغه ډله په کوم ډول منځته راځي. د DRC کميسيون هم دډيروجوانبوڅخه دجدي فشارونولاند ی راغئ چی داسی راپورونه هم شته ويستل شوي کانديدان تللي اوددی کميسيون دفيصلوڅخه يی شکايت کړی دی اودکميسيون په اداره يی سخت فشارونه واردکړيدي. ددی باوجود چی DRC په بعضی مواردوکی په ميرانی سره فيصلی وکړي اوکانديدان يی لری کړل خو بيا هم بعضی زورورکانديدان په مبارزه کی پاتی شول چی دغه کار دخلکوپه وړاندی ددی پروسی اعتبارداغدارکړو. دهغه کانديدانوڅه چی دانتقاداتوباوجودچی دوئ دناقانونه وسلوالوډلوسره ښکيل دي بيا هم په مبارزه کی ځای په ځای پاتی شول دوه يی هم دربيس جمهورمنتخب شوي معاونين وو اويوڅه دولايتي شوراکانديدان هم وو، څوک چی دابتدايی نتايجو په دوران کی هم معلوميدل چی دوی به انتخابيږي.

د EU EOM ټولو برخه والويا غړيو ددی اهميت يی اظهارکړوچی د۲۰۱۰ کال دپارلماني انتخاباتولپاره د ارزونی پروسه ډيره بااهميته اوحساسه ده. متوقع ده چی دولسي جرګی لپاره به مقابله ډيره دسيالۍ څخه ډکه وي. چی په لوړ شمير سره به کانديدان پکی برخه اخلي نوځکه ددی ضرورت احساسيږي چی دناقانونه وسلواله ډلوپه هکله معلومات دسره راټول شي.

۳۱۹۵ تعداد د ملل متحد ځانګری استازی پواسطه در جون په اووم نيټه خپور شو

C. د نوماندانو ناوخته انصراف

د جولاي په لمړيو کي يو شمير نوماندانو اعلان وکړ چي دوي د نورو نوماندانو په پلوي له خپلی نوماندۍ لاس په سر کيږي، چي ددي اعلان قانونيت او په ټاکنيزه بهير د هغه د پايلو پر سر بحثونه را وپارول شول.د اگست په ۶ نيټه د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون( ) د ټاکنو قانون د ۳۷ مادي د دوهم بند په استناد پريکړه وکړه **(۳۰ )**. چي له مخي يی د نوماندانو ناوخته انصراف تنيظم کيده. په دي کی ويل شوی ول که چيري يو نوماند د نوم ليکني بهير له پای ته رسيدو څخه وروسته د ټاکنو له سياليو څخه د انصراف هيله لري بايد په رسمي ډول د ټاکنو خپلواک کميسيون ، د خپلی دي پريکړي څخه خبر کړي ، ترڅو هغه رای يي چي دده په پلوي کارول کيږي هغه غيري قانوني کړاي شي. او د ټاکنو کميسيون ته په دي برخه کي د خبر نه ورکولو په صورت کي ، دشته طرزالعمل له مخي هغه رای به د ټاکنو د خپلواک کميسيون له لوري د نومورړي نوماند په نوم وشميرل شي. ددغه قانون وضاحت اړين وو، ځکه چي دغه پريکړه د نوماندي او رايو شميرولو په برخه کی کوم چي د انصراف لپاره ضرب العجل وضع کوي او کوم تعريف چي د سمو او باطلو رايو د شميرني په هکله کوي ، د ټولټاکو دخپلواک کميسيون له قوانينو سره په تضاد کي وه. برسيره پر دې ، دا چي انصراف شويو نوماندانو ته رای ورکول کيږي هغه به د رايو په مرکزونو کی د سمو رايو په توګه شميرل کيږي خو کله چي د رايو شميرلو مرکزونو ته راځي هله ته به باطليږي چي دي کار شفافيت ته يو څه صدمه هم ورسوله. په داسي يو حالت کی دا نوره هم ګرانه کيدله چي د رايو شميرلو په کروالي د صحت کرښه راوکاږل شي. برعلاوه له دي ځينو داسي نظري درلودي چي د ولسمشري په ټاکنو کي د کارول شويو رايو په مجموع کی کمښت ، به وکولاي شي چي د ولسمشر کيدو لپاره په لمړي پړاو کی يوه نوماند ته لازمو رايو اندازه راټيټه کړي. ترڅو دوهم پړاو ته د ټاکنو غځيد امکان پيداشي

## VIII. ټاکنيزه کمپاين او له ټاکنو وړاندي چاپريال

A. د ټاکنيزه منډوتړو ارزونه

د ولسمشرئ او ولايتي شوراګانو ټول ټاکنو لپاره ټاکنيزه کمپاين په رسمي ډول د عيسوي جون مياشتي په ۱۶ نيټه پيل او د اګست تر ۱۸ نيټي يی دوام وکړ **(۳۱)**. د مجلسونو ، بيان او غونډو ازادي په اساسي قانون او د ټاکنيزه منډو تړرو نوي قانون کی محفوظه دي، دغه قانون د ۲۰۰۹ کال په مي مياشت کي د قانوني اساسي کاري چوکاټ په توګه اصلاح کړي شو.خو يوازي دري سياسي ګوندونه : جنبش ملي **(۳۴)**، حزب وحدت او ملي جبه په سحنه کی ليدل کيدل (۳۴).

د ولسمشرئ نوماندانو په خپلو کمپاينونو کي، د امنيت راوستلو، د ملی جوړ جاړي له لاري د سولی او ثبات ټينګښت ،د فساد ورکولو او اقتصادي پرمختيا په برخه کی ورته ژمني کولاي. په دوي کی تر ټولو د لوړو پروګرامونه ، چي ښځينه رای ورکوونکو ته هم پاملرنه پکی شوي وه ، د شاغلی اشرف غني احمدزي له خوا مخکته کيدل.
په داسي حال کي چي شاغلي عبداله بيا په خپلو ټاکنيزه منډوتړرو کي په هيواد کی د اوسني سياسی جوړښت د بدلون او پارلمانی سيستم ته ترجيح ورکوله. دغه راز ډيري د ولسمشرئ ټاکنو نوماندانو په هيواد کی د سولی او ثبات ټينګښت لپاره له اوربکو سره د پوځي اقداماتو پر ځاي د سلامشورو هلي ځلی غوره بللي.
ټاکنيزه منډی تړري په داسي چاپريال کی ترسره شوي چي د طالبانو بريدونو چي د ټاکنو د کډوډولو لپاره يی کول او روانو پوځي عملياتو په ځانګړي توګه دهيواد په سويل کي د تک راتک او غونډو جوړلو شرايط ډير محدود کړي ول.
که څه هم يو شمير نوماندان او کمپاين کوونکي د مخاليفينو تر سختو بريدونو لاندي راغلل، خو بيا هم يو شمير نوماندان په دی وتوانيدل ترڅو د هيواد په کابو ټولو برخو کی خپل کمپاين ترسره کړي. د ولايتي شوراګانو نوماندان له محدودو منابعو او لړ امنيتي ملاتړ له کبله له ډيرو امنيتي ستونزو سره لاس او ګريوان ول ، او په ډيرو ځايونو کي د دوي ټاکنيزه منډي تړري يوازي د ولايتونو او ولسواليو مرکزونو پوري راالنډي وي.
ډيره سدمه د ولايتي شوراګانو ښځينه نوماندانو ته ورسيدله ، حتي داسي رپوټونه دي چی يو شمير ښځينه نوماندو کمپاين هم ونکړاي شو.

---

که څه هم د ټاکنو قانون د انکليسي بڼي ۳۷ مادي ۲ بند وايی: که چيری يو نوماند د نومليکني له بهير وروسته انصراف کوي او يا هم مړ کيږي ،او د ټاکنو د شکايتونو کميسيون له لوري دهغه نوم د نوماندانو له نوملړ څخه لري کيږي ، نو هغه رای چي دهغي په ګټه کارول کيږي هغه بايد د رای شميرلو پر پروسي اغيز ونلری. له درئ څخه ژباړل شوې بڼه بيا وايی : چي دغه رای بايد د رای شميرلو بهير کی ځای ونلري. د ۳۷ مادي دويم بند دواړو ټاکنو لپاره د اجرا وړ دی.**(۳۰)**
د کمپاين کولو په اړه د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون پريکړه کوي ، او داسي چی دغه بهير بايد د ټول ټاکنو له ورځي څخه ۴۸ ساعته وړاندی پای ته ورسول شي. ( دټاکنو قانون ۳۸ ماده لمړی بند) ( ۳۱).
د جنبش ملی ګوند د جنرال رشيد دوستم له خوا رهبری کيږي کوم چی د ټاکنيزه کمپاين د وروستي پړاو پرمهال له شاغلي کرزي څخه ملاتړ اعلا کړ.**(۳۲)**
حزب وحدت د محمد کريم خليلي له خوا رهبری کيږی کوم چي ورته د دوهم مرستيال په توګه د شاغلي کرزی له خوا بيا فرصت ورکړل شو.(۳۳)
ملی جبهه يو ايتلاف دي چي د افغانستان دپخوانی جمهور ريس شاغلی ربانی له خوا رهبري کيږي . دغي جبهي د ټاکنو پرمهال د ډاکتر عبداله ملاتړ وکړ.(۳۴)

دغه راز ددغه بهير پرمهال په نوماندانو ، د ټول ټاکنو اداری او ټاکنيزه حوزو پر کارکوونکو د ويرولو ، ګواښولو او مخامخ بريدونو رپوټونه هم ورکړل شوي دي **(۳۵)**.
د ټاکنيزه بهير پرمهال د ولايتي شوراګانو ۵ نوماندان ووژل شول او ۵ نوريې يرغمل کړاي شول**(۳۶)**.
د ولسمشرۍ نوماندان او د دوي د ټاکنيزه حوزو کارکوونکي او دغه راز د فترونه ۱۹ ځلی په نښه او بريدونو سره مخ شوی دل. که څه هم ډير ګواښونه او بريدونه د دولت ضد مخاليفينو پوري اړه لري، خو يو شمير عامه خلګ بيا د هغو سيمه ايزو مشرانو له خوا هيرول کيدل کوم چې ولايتي شوراګانو لپاره يې نوماندان وړاندي کړي ول.
په داسي حال کی چي با امنه سيمو کی بيا ټاکنيزه کمپاين پرته له کومو جدی ستونزو سرته ورسيده، په ډيرو هغو سيمو کی چې امنيت يی ډاډمن نه وو په ټوليزه توګه هيڅ کمپاين ترسره نه شو، ا و يا خو په ډيري کمي کچي هغه هم د تبليغاتي توکو دويشلو له لاري.

**ب. له دولتي سرچينو څخه ګټه اخيستل:**

معتبر ګزارشونو له دې څخه ډك دي، چي ښاغلی کرزي او دواړو مرستيالانو د پوليسو او ملي اردو په ګډون له دولتي سرچينو څخه استفاده کړي ده. داسي ګزارشونه رارسېدلي، چي وايي ښاغلي کرزي د امنيتي ځواکونو له لوژستيکي ځانګي څخه د خپل کمپاين د ټيم د غړيو په وړلو او راوړلو ( حمل و نقل) او د رايي ورکونکيو په راټولو او د هغوی لپاره د اوسېدلو د آسانتياوو په برابرولو کې له دولتي مېلمستونونو او نورو ځايونو څخه چي په صلاحيت کې وو، په پراخه کچه ګټه پورته کړي ده. د بيت المال له سرچينو څخه ګټه اخيستل په ټولټاکنو کې د نوماندانو ( کانديدانو) په ملاتړ منع دي، ولې د هغې د پلي کولو لپاره هيڅ کوم مېکانېزم شتون نه لري. ددې باوجود چې د دولتي کارکوونکيو قانون د جمهوري رياست له کانديدانو (38) او يا کوم بل يو له ملاتړ څخه منع کوي. ولې له دې سره يو شمېر دولتي مقاماتو په ځرګنده ډول له حامد کرزي ( 39) څخه او يو شمېر نورو له ډاکټر عبدالله څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. (40) همدارنګه حامد کرزی د دولتي مقاماتو لخوا د واليانو، دولتي دوايرو رئيسانو او د پارلمان د غړيو په ګډون ملاتړ وشو.

**ج. د کمپاين مالي مسائل:**

د کانديدانو او انتخاباتي رقيبانو د کمپاين په مالي مسأله کې په پراخه پيمانه د نظر اختلاف وجود درلود.د کانديدانو په مالي مسائلو کې ناغوره لارو چارو د زياتره کانديدانو د کمپاين فعاليتونه محدود کړي وو، چې دغې مسئلي د پام وړ نقطي ته د هغوی خونديتوب او لاسرسی اغېزمن کړی وه. پداسي حال کې چې د ولسمشرۍ اصلي کانديدان له کومو جدي مالي ستونزو سره مخامخ نشول. (41)، ولې د ولسمشرۍ د ټولټاکنو يو شمېر نور رقيبان او يو زيات شمېر د ولايتي شوراګانو کانديدانو وکولی شول، چې ډېر واړه کمپاينونه په لاره واچوي او ددې کمه وړتيا يې درلودله چې له امنيتي ستونزو او ګواښونو سره مقابله وکړي.

---

تر ټولو ډير معمول يی له شبي له خوا تيلفون کول او دليکونو په ذريعه کواښول ول.
دا کار په ټولو ولايتونو په ځانګړي ډول په خوست، وردګو ،لوګر، لغمان ، کونړ، ننګرهار، پکتيکا او پکتيا کی رامنځته شوي دي. اورېکو د راډيوګانو له لاري لکه د شريعت غږ راډيو کوم چي د ننګرهار او يا هم کنړ دهغو سيمو څخه چی نا امنه دی او دولت پکی کنټرول نلري ، هڅه کوله خلګ وهيروي ترڅو په ټاکنو کی برخه وانخلي.**(۳۵)**
دغه شمير د ۲۰۰۹ کال دمي مياشتي راهيسی د ولايتي شوراګانو د ټاکنو د نوماندانو دوژنی پيښي چي ځرګندي شوي دي په برکی نيسي.**(۳۶)**
د اګست په لمړي نيټه د کنړ په غازي اباد ولسوالي کی ناپيژاندو ولسوالو ميلشو په هغي ټاکنيزي غونډی د سبکو او درنو وسلو بريد وکړ کوم چی د نوماند ډاکتر عبداله په ګټه راټول شوي ول.په دی پيښه کی چا ته تلفات اوزيان ونه رسيد. برسيره پر دي د ټاکنو اړونده داسي نوري پيښي هم ثبت شوي دي : د جولاي په ۳۰ نيټه د جوزجان ولايت په قلعه لندني سيمه کی د کرزي دکمپاين پر مامورينو د واټ د غاړی ماين وچاودید چی له امله يی په دغه ولايت کی دکمپاين ددفتر مشر ووژل شو.
د ولايتي شورا د نوماندانو برمته کول د بيلګي په ډول د لوګر په ازري ولسوالي کی د جولای په ۳۰ نيټه د ولايتی شورا ديوه نوماند برمته نيونه ، د جولاي په ۳۱ د جوزجان د درزاب ولسوالی په سردره کلی کي د يو بل نوماند برمته کيدل، د اګست مياشتي په لمړي نيټه د ميدان وردګو ولايت په چک ولسوالي کی د ټاکنو دسيمه ايزه سمون ورکوونکی برمته کول، د جولاي په ۳۰ نيټه د کابل په ده سبز ولسوالي کي د رای ورکولو مرکز سوځونه، د جولاي په ۲۹ نيټه په هرات ولايت کی د شاغلي کرزي د کمپاين په دفتر کی چاودنه او په همدی ورځ د پکتيکا ولايت په ارګون ولسوالي کی د ډاکتر عبداله د کمپاين دفتر په بمونو والوزول شو.
سرچينه UN DSS,UNAMA,EU EOM Observers.

د هغو قوانينو په پرتله چې د ۲۰۰۴ ميلادي کال د جمهوري رياست د ټولټاکنو لپاره وضع شوي وو، د ټوکټاکنو خپلواکه کميسيون هيڅ ډول محدوديتونه ددې دور د جمهوري رياست په ټولټاکنو کې وضع نه کړل. چې دارنګه محدوديتونه کولی شي چې د ډېرو کانديدانو د رقابت په منځ کې انصاف مراعات کړي او کولی يې شول چې له نړيوالو معيارونو سره سموالی يې ورپه برخه کړای وای. (42)

د کمپاين د پروسي په پلي کولو کې قوانين فقط له څو شيانو پورې محدود پاتې شول لکه د بېلګې په توګه د کمپاين لګښتونه، له بيت المال څخه ګټه نه اخيستل، د بهرنيو مالي او يا غير قانوني مرستو نه ترلاسه کول د کمپاين د موخو لپاره وو. ولې هيڅ ددې قانون د څارني او تطبيق لپاره کوم دقيق مېکانيزم جوړ نه شو.

اګر چې د کمپاين د مالي مصارفو افشا کول،کانديدان پدې مکلفوي، چې د خپل کمپاين د مالي مسائلو په اړه جزئيات وړاندې کړي او هغه خپاره کړي، ولې هيڅ مېکانيزم وجود نه درلود چې په اصولي توګه دغه مسئله بررسي کړي. ولې له دې سره بيا هم د جمهوري رياست د ټولټاکنو د کانديدانو د مالي مصارفو نشر او اعلان ددې لامل شو، چې د ټولټاکنو د شکاياتو د اورېدلو دفتر د هغو امرونو په اړه چې رسماً نشر شوي وو، ډك شو.

د جمهوري رياست اته کانديدان اصلاً د خپلو کمپاينونو د مالي لګښت اعلانولو ته حاضر نشول، چې دا د پورته اعلان شويو اصولو سره په مغايرت کې قرار درلود. هغه د شکاياتو د اورېدلو دکميسيون لخوا په ګوته کړل شول ولې ليدل کېږي، چې دا قانون اصلاً نشي کولی چې په سمه توګه اغېزمن واقع شي.

### د. د کمپاين په جريان کې شکايتونه:

د کمپاين په جريان کې په تکراري ډول د رسنيو له لوري شکايات نشرېدل او په غېر رسمي توګه د شکاياتو اورېدلو له کميسيون سره کتبي او يا ټيلفوني پيغامونو له لارې شرېکېدل. ولې صرف يو محدود شمېر شکايتونه په رسمي توګه نوموړي کميسيون ته تحويل شول. ځينې ټاکنيزې تېروتنې د ګډ نظارتي ټيم پواسطه چې له يوناما او د افغانستان د بشر د حقوقو له کميسيون څخه مرکب وه، په انتخاباتي پروسه کې د دولت له لوري د مداخلې او د وحشت او وېرې اچونې په اړه ادعاوې او همدارنګه د تبعيض د موجوديت او يا نورو بشري حقوقو د تخلفاتو ګزارش ورکول شو. په افغانستان کې د ټولټاکنو لپاره د اروپايي ټولنې د څارنې د ماموريت د معلوماتو پر اساس د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواك کميسيون له لوري هيڅ شکايت ته رسېدګي نه ده شوې.

د ټولټاکنو له ورځې نه مخکې د شکاياتو اورېدلو کميسيون د ۴۶۷ درج شويو شکايتونو له جملې څخه د ۱۸۱ شکايتونو په اړه، چې زياتره يې د کمپاين د موادو د مباحثاتو، له بيت المال څخه ناوړه ګټه پورته کولو او په ټاکنيزو چارو کې د دولتي مقاماتو مداخلې په اړه خپل تصميم اعلان کړ. د جمهوري رياست کانديدان او مرستيالان او يا د ټاکنيزو کمپاينونو غړي يې په ۱۱۸ شکايتونو کې چې د شکايتونو د اورېدلو کميسيون ته سپارل شوي وو، شامل وو. د شکايتونو د اورېدلو کميسيون ۱۵۱ هغه شکايتونه چې د قانوني اساس او يا د شواهدو او کافي معلوماتو د نه درلودلو پراساس وو، باطل اعلان کړل. (43)

38- مهرباني وکړئ د ټولټاکنو د کمپاين د قانون 6 او 7 مادې ته مراجعه وکړئ. (نوموړی قانون د ۲۰۰۹ م کال د مئ په مياشت کې اصلاح شوی دی.)
39- له بل پلوه هغو کسانو چې د حامد کرزي ملاتړ يې وکړ، په هغوی کې د ننګرهار والي، په کندهار کې د ټولټاکنو د خپلواك کميسيون رئيس او د سيمه ييزه ارګانونو د خپلواك کميسيون رئيس هم شامل دي. دولتي ټيټ رتبه کسانو ته هم پيسې ورکول شوې وې، چې له حامد کرزي څخه په آزادانه ډول ملاتړ وکړي.
40- د بلخ والي ښاغلي عطا محمد نور او د پنجشير والي حاجي بهلول دواړو د ډاکټر عبدالله ملاتړ اعلان کړ.
41- د ملل متحد سازمان د مرستې ددفتر يا يوناما د معلوماتو پر اساس، د ښاغلي کرزي او ډاکټر عبدالله عبدالله د ولايتي دفترونه لګښت تنها په لغمان ولايت کې د 100000 و 50000 زره امريکايي ډالرو په حدود کې وه.
42- د ملل متحد د بشر د حقوقو د سازمان د کميسيون د نړيوالو سياسي او مدني حقوقو د پيمان ۲۵ مادې د عمومي نظرياتو ۲۵ شماره، ۱۹ پاراګراف: د کمپاين پر مصارفو باندې د جامع محدوديتونو وضع کول ممکن تصديق کړل شي، چې تر هغه بريده چې امکان وي د رايي ورکونکي د آزادۍ حق له اغېزمنولو څخه مخنيوی وشي او يا د نا مناسبو مصارفو دموکراتيکه پروسه د هر کانديد او يا حزب په استازيتوب تحريف کېږي. د بېلګې په توګه د ايکواس په ۱ مادې سره، د دموکراسی او د ښې حکومت دارۍ په اړه پروتوکول، ۲۰۰۱م کال ( دا ماده د افغانستان د ټولټاکنو په موضوع کې د پيداکېدلو وړ نه ده)

پرته له دې چې د ولايتي شورا د هغه دوه کانديدانو نومونه يې حذف کړي، چې خپلې دولتي دندې يې نه ترک کولې، د شکايتونو د اوربدلو کميسيون د ځينو قوانينو د ماتولو په مقابل کې چې د ټاکنيزو کمپاينونو په ګډون د جمهوري رياست يوې ښځينه کانديدې شخصيت ته په سپکاوي، د جمهوري رياست د کانديدانو د کمپاينونو د مالي لګښتونو نه افشا کول، د ولسمشر په ګټه د دولتي مقاماتو لخوا کمپاين کول، د خپلو کمپاينونو لپاره له دولتي سرچينو او بيت المال څخه ناوړه ګټه اخيستلو په مقابل کې عکس العمل وښود.

د پورته مواردو په اړه مهمترين تصميم د ډاکټر عبدالله د ټيم او ولسمشر د مرستيال ښاغلي خليلي په مقابل کې ونيول شو. اخطاريه او نقدي جريمي په تخطي ګانو باندې وضع شوې. د شکايتونو د اوربدلو کميسيون پخپل ابتکاره څېړني پيل کړې. ويل کېږي، چې ممکن جدي عکس العملونه په دې اړه رامنځته شوي وي او د اوضاع د بدلون لامل ګرځېدلي وي. وروسته له دې ټولو څېړنو څخه هيڅ تصميم پدې اړه ونه نيول شول.

## IX. رسنۍ او ټولټاکنې:

### الف. مطبوعاتي فضا:

په افغانستان کې مطبوعاتي څانګه له دولتي او شخصي رسنيو څخه جوړه ده او په تېرو ۷ کالونو کې دا څانګه د پام وړ پرمختګونو شاهده ده، چې پدې ځای کې يې لري ترڅو د نړيوالي ټولني له مالي مرستو څخه مننه وشي.اوسمهال ۲۰ تلويزونونه او ۱۰۰ صوتي او يا راديويي رسنۍ په افغانستان کې د خبري شبکو په ګډون فعاليت درلود. د ۲۰۰۴ م کال راپديخوا په سلهاوو ورځپاڼې د اطلاعات او کلتور وزارت په چوکاټ کې تاسيس شوې، مګر زياتره له دغو څخه فعالي نه وې او يا فقط د ټاکنو د تبليغاتو او خبرونو د نشرولو لپاره ترې ګټه اخيستل شوې ده. په افغانستان کې د رايي ورکوونکيو لپاره راديو د معلوماتو د اصلي سرچيني په توګه پاتې شوې ده.روان حالات او يا د قانون د حاکميت ضعيفول دواړه يوځايي په افغانستان کې د مطبوعاتو خپلواکۍ اغېزمنوي.د وضعيت خرابوالی او معلوماتو ته د لاسرسی محدوديت د ژورناليستي فعاليتونو او خبري پوښښ لپاره يو له اصلي لاملونو څخه، په ځانګړي توګه د ټاکنو په وخت کې شمېرل کېدل. پرته له دې د بيان آزادي او د فکرونو شريکول کاملاً او په منفي ډول د غيرمسلکي او ناپوهه ژورنالستانو لخوا اغېزمن شوي دي.(44). په افغانستان کې د ټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني ماموريت او همدارنګه د مطبوعاتو د آزادئ په اړه داخلي او نړيوال ګزارشونه، دولتي مقامات او امنيتي مسائل په ژورنالستانو باندې د وېرې او فشار له اصلي سرچينو څخه دي. چې دا په هغو ژورنالستانو کې خصوصاً چې په ولايتونو کې هستوګنه لري، د وېرې فضا د رامنځته کېدو لامل ګرځېدلي دي.

ملي او نړيوال ژورنالستان د ټاکنو په ورځو او له ټاکنو څخه مخکې ورځو کې له جدي ستونزو سره د وېرې او ډار له جملې څخه مخامخ شول، د ځينو ګزارشونو پر اساس ژورنالستان د ولسمشرئ د دوو وتليو کانديدانو د ملاتړو لخوا يو شمېر پورتيني موارد ياني فشارونه هم تحميل کړي دي.(45) په ژورنالستانو باندې د ډار زياتره موارد مخفي او پټ پاتې دي او مقاماتو ته ګزارش نه دی ورکول شوی ځکه چې ژورنالستانو په دولتي ارګانونو باندې د نه باور خبرې کولې.

43- د شکايتونو زياتره جزئيات د شخص د کارونو په اړه وه او زياتره شواهد د کافي پوهي د نشتوالي په اړه د کاري چوکاټ او قضايي ميکانيزم ته لاسرسی نه وه.

د اګست په ۱۹ مه نېټه، او د افغانستان د ملي امنيت د شورا د تصميم په تعقيب، د بهرنيو چارو وزارت پر مطبوعاتو يو قانون صادر کړ، چې د هغې پر اساس د ټاکنو په ورځو د پېښو له ګزارش ورکولو څخه، چې د خلکو د بې علاقګۍ لامل کېدل، مطبوعات له خبر ورکولو څخه منع کړل شوي وو. د صادر شويو اوامرو په اړه دولت وويل، چې د ټاکنو د ورځې په جريان کې دا کار د ملي ګټو د ساتلو او امنيت د تامينولو په خاطر شوی دی.

زياتره کورنيو رسنيو ددې امر اطاعت وکړ او د ټاکنو په ورځ يې د هيڅ ډول زورزياتي، حملو او امنيتي مسائلو ګزارش ورنکړ.(46) نورو هغو رسنيو چې خپلو ګزارشونو ته يې ادامه ورکوله، دغه کارېې د بيان د آزادۍ او معلوماتو ته د افغانانو د نه لاسرسۍ اساسي حق مخالف عمل بللو او تقبيح يې کړ.د ټاکنو په ورځ ۱۵ تنه داخلي او بهرني ژورنالستان چې غوښتل يې له يوې مسلحانه جريان څخه ګزارش تهيه کړي، ونيول شول. چې د قيد په دوران له ډېرو سره نامناسب او سخت برخورد شوی او له ټاکنو وروسته له قيد څخه خوشي شوي دي.
د هېواد د داخلي امنيت په اړه د دولت لخوا منل شوې زيمه دارياني، په افغانستان کې د ټاکنو لپاره د اروپايي ټولنې د څارنې ماموريت لخوا د ټاکنو په ورځ رسنيو ته ښوول شوې لارښوونې له اساسي قانون، د بيان د آزادۍ حق لپاره نړيوال معيارونه او معلوماتو ته د خلکو لاسرسۍ سره په ټکر کې بولي.

**ب. د رسنيو او ټولټاکنو لپاره قانوني کاري چوکاټ:**

د رسنيو لپاره د ټاکنيز کمپاين د مطبوعاتي پوښښونو د تنظيم لپاره واضحه لارښوونې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د داخلي وظايفو په اصولو کې تشريح شوي دي. (47) پرته له دې ټاکنيز قانون يو لړ پرنصيبونه د ټاکنيز کمپاين اړونده خبري پوښښ لپاره د مطبوعاتو پواسطه ايجاد کړي او په همدې منظور يو موقت کميسيون د **ټاکنو د رسنيو کميسيون** تر نوم لاندې رامنځته کوي.(48). د ولسمشرۍ د ټاکنو ټولو نوماندانو ترمنځ د يو وړ توازن ساتلو او لاسرسي لپاره د ټاکنو د رسنيو کميسيون د دولتي رسنيو لپاره يوه لايحه تصويب کړه. (49) تنها د ټاکنو د رسنيو کيمسيون او د اطلاعات او کلتور وزارت د رسنيو قانون مکلف دی چې د خبري پوښښونو په اړه شکايات د خپلو داخلي وظايفو له اصولو سره سم بررسي کوي.
اګرچې هغه قوانين چې ددغو دواړو مرجعو له لوري د خپلو داخلي وظايفو له اصولو سره سم تعيين شوي وو، د هيڅ رسنيوو پواسطه مراعات نشول، چې د ځينو رسنيو په وينا د هغوی لپاره د ولسمشرۍ د ټاکنو اړونده خبري پوښښ له خبري نقطې نظره زيات اهميت لري او د خبرونو د پوښښ لپاره د توازن اصول د هغوی لپاره فرق نه کوي. دولتي رسنۍ چې د خبرونو د پوښښ لپاره يې لومړنی امتيازحامد کرزي ته مختص کړی وه، او بالافاصله د داخلي وظايفو اصول يې نقض کړي وه او د خپلو خبرونو په پوښښ کې يې کوم بدلونونه تر هغو پورې رانه وړل، ترڅو چې د ټاکنو د رسنيو کميسيون يو تصويب نه کړه. له ټاکنو وروسته، د ټاکنو د رسنيو کميسيون پر دولتي رسنيو باندې يو رسمي شکايت (50) چې ددې کميسيون د څلورم حکم پر تخطيو باندې مبني وه، د شکايتونو د اورېدلو کميسيون سپارلی دي. (51)
د ۲۰۰۹ م کال د ولسمشريزو او ولايتي ټاکنو په جريان کې د رسنيو حقوق او د هغوی مسوولیتونه، د ۲۰۰۴ م کال په مطبوعاتي قانون کې، چې ويل کېدل د هغې اصلاح شوې مسودې په نسبت چې د ټاکنو په جريان کې نشر شوله، اغېزمن وه، تعيين شوی وه. په افغانستان کې د ټاکنو لپاره د اروپايي ټولنې د څارنې د ماموريت د مطبوعاتي څانګې زياتره غړيو د رسنيو د قانون مسوده د دولتي رسنيو د تعريف لپاره د يو ارګان په توګه د لايحې ټاکنو ته په کتلو سره د خلکو په خدمت کې اغېزمن بللي وو. اګر چې ژورنالستان هم ددغې مسودې له ځينو قوانينو څخه د بيان آزادۍ، د مطبوعاتو د عالي شورا تشکيل (52) او مبهمو او مجموعي مواردو ته په کتو غېر مؤثر ګڼل. ځينو دولتي مقاماتو د رسنيو د قانون پر مسودې باندې د اساسي قانون پر اساس (53) نيوکې کړې وې او يو شمېر يې غير اسلامي ګڼله.
د رسنيو استازي ددې قانون د نشرولو ځنډول د ولسمشرۍ د ټاکنو د کمپاينونو علت پېژني، اګرچې د کابينې دوه تنه وزيرانو ددې قانون ځنډول د ادارې يو جزئي ستونزه وبلله.

44- په پراخه کچه د ژورنالستيکي مهارتونو نشتوالي ته د ژورنالستيکي تخصصي سطحې ټيټوالی، د تخصصي سطحې ټيټوالی او د تخنيکي مرستو له نشتوالي سره اړه لري.
45- د انترنيوز د خبري شبکې د ګزارش له مخې(" د افغانستان رسنۍ– د سيمه ييزو رسنيو له لوري د ټاکنو په اړه خبري پوښښ" د ۲۰۰۹ م کال د اګست ۲۰) د نړيوالې عفوې د سازمان مطبوعاتي اعلاميه، نېټه د ۲۰۰۹ م کال د اګست ۱۲ او د بشر د حقوقو د څارنې سازمان ګزارش په نشر ورسېده.
http://www.hrw.org/en/news/2009/08/17/afghanistan-human-rights-concerns-run-صبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونهions
46- په افغانستان کې د ټاکنو لپاره د اروپايي ټولنې د څارنې ماموريت په ۵ ولايتونو کې له ۲۷ رسنيو سره مصاحبه شوې، چې له دې جملې څخه ۲۲ وويل، چې هغوی د ټاکنو په ورځ له قيوداتو څخه اغېزمن شوي دي او ځينو دا عمل په هېواد د رسنيو داخلي اصول او د قانون يوه برخه وګڼله. دا بېلګه د اروپا د کميسيون د ماموريت او د رسنيو د سکوت د دورې د دفتر له لوري د اګست په ۲۳مه نېټه د ټاکنو د خپلواک کميسيون په مطبوعاتي مرکز کې نشر شول.

**د ټاکنيزو ( انتخاباتي) رسنيو کميسيون:**

د ټاکنيزو رسنيو کميسيون مکلف دی چي د انتخاباتي کمپاينونو او شکايتونو د تخطيو له جريانه د هر مطبوعاتي ارګان او د شخصي او دولتي مطبوعاتو د سرکشي په اړه د خبري پوښښونو او مناسبو ګزارشونو د داخلي وظايفو د اصولو له مخې څارنه وکړي. د ټاکنيزو رسنيو کميسيون د ټاکنو له کېدو څخه دري مياشتي وړاندي جوړ شو، ياني د ۲۰۰۵ م کال له پارلماني ټاکنو څخه لږ مخکي ايجاد شو(54). دغه کميسيون د ۲۰۰۹ م کال د مۍ د مياشتي په ۱۰مه نېټه هغو قوانينو ته په کتلو سره چي د ملل متحد د پرمختيايي سازمان – د سبا لپاره د انتخاباتي او قانوني ظرفيت تخنيکي پروژې په مرسته جوړ شوی وه، په کار پيل وکړ. ددې کميسيون بېړني ايجاد يو مثبت پرمختګ تلقي کېده اما د انتخاباتي رسنيو د مؤقت قانون پر اساس ددې مرجه کار د ټاکنو له کېدو څخه يوه مياشت وروسته پای ته رسېږي، ددې کميسيون د اغېزمنو فعاليتونو د سرته رسولو لپاره يو زماني چوکاټ ټاکل شوی دی. د ۲۰۰۹ م کال د انتخاباتي رسنيو د کميسيون قانون همدارنګه د نورو نويو دندو او مسووليتونو په اخيستلو سره د رسنيو په اړه هم دنده درلودلې وه.

د جولای د مياشتي راپېڅوا، د انتخاباتو د رسنيو کميسيون نوي ګزارشونه او اطلاعات د رسنيو د څارني په اړه پخپلو اوونيزو مطبوعاتي کنفرانسونو کي د زياتو داخلي او بهرنيو رسنيو په حضور کي نشروي. د انتخاباتي رسنيو کميسيون نظارتي ګزارشونه د رسنيو (55) په اړه جامع او ګټور وي، لکه څرنګه چي هغوی د انتخاباتي کمپاينونو اړونده خبرونو پوښښ جرياناتو ته په مناسب وقت کي انعکاس ورکوي، په ټوله کي د رسنيو د څارني قوانين په افغانستان کي د ټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني له ماموريت سره مطابقت کاوه. د رسنيو له څارني څخه لاسته راغلي معلومات په افغانستان کي د ټاکنو لپاره د اروپايي ټولني د څارني ماموريت په خبري پوښښونو کي د توازن منلو په خاطر دخلکو د تحريك لپاره يو رينبتيني اساس وړاندی کړ. (56) چي مطبوعاتي کنفرانسونه د انتخاباتي رسنو د کميسيون پيغامونو ته د رسېدلو لپاره په انترنيتي صفحې باندې د يوې تختې او يا نورو شکلونو باندې د خبرونو خپرولو نشتوالی وه.(57)
د انتخاباتي رسنيو کميسيون د ولسمشريزو ټاکنو د ټاکنيزو کمپاينونو له دفترونو څخه د مطبوعاتي شکايتونو ۱۶ مورد مونډلي وو. په ولايتونو کي شکايتونه د ټاکنو د خپلواك کميسيون د ولايتي دفترونو له لارې درج کېدل ولي ټول شکايتونه په مرکز کي درج او د داخلي رسنيو په اړه وو. يو ګزارش قسماً نشر شو او په هغې کي د ټولو مطبوعاتي تخطيو او د انتخاباتي رسنيو د کميسيون د تصميمونو په اړه يادونه شوې وه. تقريباً نيم شکايات له دولتي رسنيو څخه وو، چي د ولسمشريزو نوماندو په برخه کي يې د خبرونو د پوښښ توازن په پام کي نه وه نيولی. له دغو ۱۶ شکايتونه څخه چي د انتخاباتي رسنيو کميسيون لاس ته ورغلي وو، د ډاکټر عبدالله د انتخاباتي کمپاين د دفتر لخوا دغه کميسيون ته سپارل شوي وو. له ټاکنو څخه يوه اوونۍ وروسته د مطبوعاتو په مورد د شکايتونو په اړه د انتخاباتي رسنيو دکميسيون تصاميم د ټاکنو د خپلواك کميسيون په انترنيتي پاڼه نشر نشو، چي د انتخاباتي رسنيو د کميسيون له خبري کنفرانسونو سره سره دا هم ددې کميسيون د نشراتو يوجزء وه.د انتخاباتي رسنيو کميسيون ډېر محدود صلاحيتونه (58) ددې کميسيون د لاسته راوړنو په لاره کي يو له غټو خنډونو څخه وه، چي دا نهاد د هغو کسانو په اړه چي ددې قانون له تصاميمو څخه يې سرغړونه کوله، د قانوني مېکانيزم له نشتوالي سره مخامخ وه.
د بېلګي په توګه د افغانستان د ملي راديو تلويزون د مسئلې په اړه چي د انتخاباتي رسنيو کميسيون له لوري د ټاکلو معيارونه وه، چي اصلاً اغېزمن نه وو. ځکه چي د افغانستان ملي راديو تلويزون د انتخاباتي رسنيو کميسيون تصاميم د خپلو تخطيو په اړه، چي د يوې غوښتنې پر اساس چي د يو مقام لخوا صورت نيولی وه،نشر نشو.(59).

47- د هغه قانون پراساس د انتخاباتي قانون په ۵۶ مې مادې کي راغلي، د ټاکنو خپلواك کميسيون د داخلي دندو د اصولو قانون د رسنيو حضور د ټاکنو په ټولو پروسو کي د قانوني والي په خاطر تصويب کړی دی. ټولي رسنۍ چي د ټاکنو له خپلواك کميسيون څخه د رسنيو د کارت غوښتونکي وي، مکلف دي چي د رسنيو د داخلي دندو اصول د انتخاباتي کمپاينونو د مناسب او متوازن خبري پوښښونو ته د لاسرسۍ لپاره لاسليك کړي.
48- ټاکنيز قانون، ۵۱ مه ماده: د ټاکنو خپلواك کميسيون بايد لږ ترلږه ۶۰ ورځې مخکي د ټاکنو له نېټي څخه ايجاد شي. د رسنيو کميسيون د ټاکنو د خپلواك کميسيون په چوکاټ کي مناسب خبري پوښښ د انتخاباتي کمپاينونو په اړه وځاري او د انتخاباتي کمپاينونو د ټولو شکايتونو او تخلفاتو په اړه بايد د رسنيو د داخلي دندو د اصولو برابر رسېدګي وکړي.
49- انتخاباتي قانون، د ۵۰ مادې دويم او درېيم بند
50- ملي راديو تلويزون، هېواد ، اصلاح او انيس ورځپاڼې، د انتخاباتي قانون ۵۳ مه ماده نقض کړې ده.
51- د سبا لپاره د حقوقي او انتخاباتي ظرفيت پروژې وروستي ګزارش پراساس/ د ملل متحد د پرمختيايي سازمان پروګرام، د ۲۰۰۹ م کال د اګست ۲۵-۳۱
52- د شورا د تشکيل په برخه کي د ددرېيو وزيرانو نوم اخيستل شوی دی.
53- ددې قانون د مسودې د نه نشرېدلو له لاملونو څخه يو د حامد کرزي لخوا ددې قانون لېږل ستري محکمي ته د ۱۳مې مادې د تفسيرپه خاطر.

د اطلاعات او کلتور وزارت وليدل شو، چې د انتخاباتي رسنيو کميسيون د تصميم په مقابل کې د ستونزو په رامنځته کولو کې هم فعال رول لوبولی دی، چې د افغانستان پر ملي راديو تلويزون يې د جريمې واردولو لپاره سرته رسولی دی. (60)
ددې ځانګړو اړخونو په موجوديت سره معلوم شو، چې د انتخاباتي رسنيو کميسيون وادار شوی دی، ترڅو يو له نهادونو څخه زيات پُرحرف د خبرونو د پوښښ په برخه کې د ټاکنو اړوند کړي.

چې د راتلونکيو مواردو په اړه عمل وکړي: د اخطارونو صادرول، له متخلف څخه د تېروتنو د اصلاح کولو په اړه غوښتنه، له متخلف څخه د انتخاباتي رسنيو کميسيون د تصاميمو د نشرولو غوښتنه، پر متخلف د خپلو ادعاوو د بيرته اخيستلو په اړه حکم کول او هغوی ته د ځواب ويلو حق ورکول.

54- د انتخاباتي رسنيو کميسيون په ۲۰۰۵م کال کې د انتخاباتي کمپاينونو په اوله ورځ ياني ۶۰ ورځې د ټاکنو له کېدو څخه ايجاد شو.
55- د رسنيو نظارتي خدمات، د افغانستان لپاره له رسنيو څخه د څارني پروژې تر سرليك لاندې ، د انتخاباتي رسنيو کمسيون په چوکاټ کې له يو افغاني شرکت سره په مشوره ايجاد شو.
56- د انتخاباتي رسنيو کميسيون د بررسيو پايلې ښيي، چې ملي راديو تلويزون د حامد کرزي او ځينو نورو رسنيو د ډاکټر عبدالله په ګټه خپروني کولې.
57- د انتخاباتي رسنيو کميسيون د ټاکنو د خپلواک کميسيون د انترنتي پاڼې له لارې يوه پاڼه ترلاسه کړه، چې داسې يې ښودله چې دا کميسيون بايد يوه اوونۍ وروسته له ټاکنو څخه خپل کار پای ته ورسوي.
58- هر کله چې تخلفات تشخيصېدل نود انتخاباتي رسنيو کميسيون کولی شول،

## ج. په مطبوعاتو کې د ټاکنو د اړونده خبر له پوښښ څخه څارنه

په افغانستان کې د ټاکنو لپاره د اروپايي اتحاديي د څارني ماموريت له ۱۲ خبري رسنيو څخه د جولای له ۱۹ مي نه د اګست تر ۲۰ مي نېټي پورې د نموني په توګه څارنه وکړه او بررسي يې کړې. په پايله کې د دې اتحاديي مطبوعاتي څانګې د څلورو ټلويزيوني شبکو (۶۴) چې يو يې هم دولتي ټلوېزيون و او څلور راديويي شبکې (۶۵) چې له دې جملې څخه هم يوه يې دولتي او نورې يې شخصي وې، د ټاکلو پروګرامونو د کيفيت او کميت څرنګوالی په ډاګه کړ. همدارنګه څلور ورځپاڼې (۶۶) چې دوه يې دولتي او نورې يې شخصي وې هم په دې ارزونه او بررسي کې شاملې کړې. د رسنيو د کميت د پوښښ د بررسی سربېره د نطاقانو لهجي هم بررسي کېدې، څو مالومه کړي چې هغوی په منفي، منځني او يا هم مثبت حد يا حالت کې قرار لري که نه. د ټاکنو د کمپاين په ترڅ کې تصويري مطبوعاتو هم د ټاکنو په اړونده خبر کې مهم د بېلا بېلو پروګرامونو په جوړولو لکه خبرونه، ځانګړي خبري سروېسونه، مرکې، د ورستيو جريانونو څخه پروګرامونو، د ګردي مېز په ډول مناظرو او نورو ځانګړو پروګرامونو کې يې د راډيويي اورېدونکو لپاره د پام وړ رول لوبولی دی (۶۷).

د ټاکنو د خبري رسنيو د کمېسيون د کاري اصولو ترڅنګ دولتي رسنی لکه ملي راډيو ټلوېزيون په عمومي توګه مکلف و څو په ځانګړي پروګرام کې ټولو نوماندو ته برابر وخت ورکړي. خو د ټاکلي وخت د ورکولو په برخه کې قوانين نه وو موجود او همدارنګه په دوامدار ډول نه تعقيبېدل. په ځانګړي توګه د نوماندو د موجوديت او د وخت د ټاکلو اړتيا نه رعايت کېده. راډيو ټلوېزيون به په خپلو څرګندونو کې د نوماندانو د ټاکنيزو کمپاينونو د فعاليتونو او د هغوی د موجوديت او يا د نه چمتووالي په برخه کې د اړينو تغيراتو لپاره ځای ورکولو. له دوو اصلي سيالانو (ښاغلی کرزی او ډاکتر عبدالله) هېڅ يوه يې هم د ملي راډيو ټلوېزيون څخه وړيا ګټه نه ده اخېستې.

59- د افغانستان راديو د اګست په ۱ نېټه د انتخاباتي رسنيو کميسيون تصاميم د ملي راديو تلويزون او دو نورو دولتي رسنيو د تخلفاتو په اړه نشر کړل. ولې دا مورد د منلو نه دی، ځکه د افغانستان ملي راديو تلويزون بايد دا تصميم په سمه درسته بڼه خپورکړای وه. همدارنګه، کله چې ملي راديو تلويزون د يو نوماند په اړه يو ناسم او غير صحيح خبر خپور کړ او د انتخاباتي رسنيو کميسيون لخوا امر وشو، چې دا مسئله بايد تصحيح شي ولې ملي راديو تلويزون ۴۱ ورځې وروسته ددې کميسيون غوښتني ته ځواب ووايه.

60- د انتخاباتي رسنيو د کميسيون د رئيس ښاغلي توحيدي په وينا، دې نهاد زياتره شکايتونه د ملي راديو تلويزون په اړه موندلي وو، ولې د اطلاعات او کلتور وزارت د مداخلي له لامله ونتوانېدل چې تصاميم يې د عمل جامه واغوندي.

د رسنيو لخوا د مطبوعاتو د کورنيو دندو د اصولو د نه منلو په صورت کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون صلاحيت لري چې د رسنيو مطبوعاتي کارتونه له دوی څخه واخلي. که څه هم چې دواړو ياني د ټاکنو خپلواک کمېسيون او د ټاکنو مطبوعاتي کمېسيون دا طريقه اغېزمنه بولي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسيون دې ته ترجيح ورکوي چې څو د دې د عملي نه هم د ټاکنيزو کمپاينونو په جريان کې او نه هم د ټاکنو په ورځ له هېڅ رسنۍ څخه د مطبوعاتي کار کارت نه دی اخيستل شوی. د عامه اړيکو د يو شمېر پروګرامونو موجوديت، مالوماتو ته د خلکو لاسرسی او هغه هڅې چې په ترڅ کې يې مناسب مطبوعاتي کارت د ولسمشرۍ د هر نوماند لپاره په پام کې نيول شوي وو، د ټاکنيزو رسنيو کمېسيون د نوماندو تر منځ ټلويزيوني او راډيويي مناظرې په لار واچولې. نومورې کمېسيون اته ټلويزيوني

(61) اوه د ګردي مېز ۴۰ دقيقې مناظرې چې تر ټاکلي وخت د ۲۴ د جلانی نه بيا د اګست تر ۱۷ مي نېټي پورې دوام وکړ او د پنځو ټلويزيوني شبکو لخوا خپرېدلي په لار اچول شوي وې

(62). د هغې بلنې له مخې چې د ټاکنو د مطبوعاتي کمېسيون لخوا ترسره شوې وې چې د ولسمشرۍ ډېرې نوماندو د دې توان نه درلود چې خپل ټول پروګرامونه احتوا کړي د ولسمشرۍ ۳۳ نوماندانو په دې مناظرو کې ګډون کړی وو

(63).د نوماندانو لپاره دا يوازينی خو مطرح فرصت و څو خپل پروګرامونه د خلکو تر غوږونو ورسوي.

ټول رسنیو خپل ټول پام د ټاکنیزو کمپاینونو رپوټونو او پروګرامونه ته اړولی و او د ولایتي شوراګانو ټاکني یې تر ځپل پوښښ لاندې نه وې راوستلي. د اروپایي اتحادیې ماموریت د څپلي څارني په ترڅ کې یوازې څلور نوماندان په پراخ ډول تر پوښښ لاندې راوستل شوي وو او نورو ټولو نوماندانو ته پاملرنه نه وه شوې. دولتي رسنیو د یوې ناپیلې او مثبتې رسنۍ په توګه ولې خپلې زیاتې خپرونې د کرزي په ګټه کولې. ملي راډیو ټلوېزیون د خپلو خپرونو ۶۳٪ سیاسي خبر د حامد کرزي، ۱۱٪ د ډاکټر عبدالله، ۸٪ د اشرف غني احمدزي او ۲٪ د ښاغلي میرویس یاسیني په اړوند سیاسي خبرونه وړاندې کول. د ملي راډیو ټلوېزیون او راډیو ۵۶٪ د سیاسي خبرونو پوښښ د حامد کرزي په ګټه و. په داسې حال کې چې ډاکټر عبدالله ۱۵٪، اشرف غني احمدزي ۷٪ او میرویس یاسیني ۴٪ سیاسي اخبار ترلاسه کولو. همدارنګه خصوصي رسنیو هم په همدې شان وې، یانې خپل زیات تمرکز یې پر څلورو عمده سیالانو باندې و او ډېر لږ یې پر نورو هغو نوماندانو و چې د رسنیو پر وړاندې به ډېر نه راتلل.

61- د اریانه او اینه ټلوېزیون، د افغانستان ملي راډیو ټلوېزیون، د شمشاد او طلوع ټلوېزیون
62- د سلام وطندار راډیو، سهر، بامیان، د سولې پیغام، زهره، رابعه بلخي، آمو، کلید، محرم، نوا او د افغانستان راډیو
63- د ټاکنو د مطبوعاتو کمېسیون د عامه اړیکو د دفتر د مالوماتو پر اساس ټول نوماندان بلل شوي وو، خو له دوی څخه یې یو شمېر دا بلنه نه وه منلې. او د دې دلیل او د هغوی نومونه افشا نه شول.
64- ملي راډیو ټلوېزیون، طلوع ټلوېزیون، شمشاد، آریانا (د سهار له ۶:۰۰ څخه د شپې تر ۹:۰۰ بجو پورې او ۶:۰۰ بجو نه تر ۱۲:۰۰ پورې)
65- د افغانستان راډیو، د کلید راډیو، د سلام وطندار راډیو، د ارمان راډیو (د سهار له ۶:۰۰ بجو څخه تر ۹:۰۰ بجو پورې او د ۶:۰۰ بجو څخه بیا تر ۱۲:۰۰ بجو پورې)
66- انیس، هېواد، ارمان ملي، چراغ. ټولې هغه ورځپاڼې چې څارل کېدې د جمعې په ورځ نه چاپېدلې. .

تر څارنې لاندې چاپي مطبوعاتو کمپاین تر پوښښ لاندې راوست او د ټاکنې د پروسې په هکله یې متفاوت نظرونه وړاندې کول. دولتي چاپي رسنۍ اړې وې چې د ولسمشر مقام ته په کتو سره هغه په اخبار کې ځای ورکړي او طرفداري یې وکړي. د انیس او هېواد ورځپاڼو تر (۷۵٪) پورې د کرزي په ګټه خپرونې کولې. ولې په مجموع کې چاپي رسنۍ ناپېیلې وې. آرمان ملي یوازینی ورځپانه وه چې څېړنیز موضوعات یې خپرول او کله به یې هم د ښاغلي کرزي سیاسي پرېکړې تر نیوکو لاندې نیولې.
د ټاکنو لپاره د اروپایي اتحادیې د څارني ماموریت د څارنې په جریان کې د تلو تلوېزیون، د سلام وطندار راډیو او چراغ ورځپاڼه د هغو رسنیو له جملې څخه وې چې زیاتره به یې تجارتي اعلانونه خپرول. که څه هم سیاسي حزبونه او نوماندان په خصوصي رسنیو کې د اعلانونو په ترخ کې له هېڅ خنډ سره نه دي مخامخ شوي، خو په په عمومي توګه دربیو نوماندانو (ښاغلي کرزي، ډاکټر عبدالله او جناب اشرف غني) په دې ترخ کې زیاتره تجارتي اعلانونه پیرېدلي وو. د دې دلیل هم د تجارتي اعلانونو د بیې د لوړوالی وو، چې نورو نوماندانو له دې نه ګټه نه شوای اخیستلی. او همدارنګه د ټاکنو د تجارتي اعلانونو د بیې په اړوند هېڅ ډول ځانګړې مقرره هم وجود نه لري.

د جولایي د میاشتي په ۲۳ مه نېټه د طلوع تلوېزیون هغه مباحثه نشر کړه چې له هغې ډېر توقعات کېدل. دا بحث د ولسمشرۍ د نوماندانو ښاغلي اشرف غني احمدزي او ډاکتر عبدالله ترمنځ و. څرنګه چې ښاغلي کرزي د طلوع تلوېزیون د ځان پر ضد باله نو ۲۴ ساعته وړاندې یې په دې بحث کې د نه ګډون اعلان وکړ. د اګست د میاشتې په ۱۹ مه نېټه ملي راډیو تلوېزیون هغه بحث نشر کړ چې ډېره توقع ترې کېدله.
نوموړی بحث د ولسمشرۍ د نوماندانو ښاغلي کرزي، ښاغلي اشرف غني او ښاغلي بشردوست ترمنځ و. ډاکټر عبدالله په دې بحث کې ګډون ونه کړ او د ګډون نه کولو دلیل یې هم په ډاګه نه کړ. نو رایه ورکوونکو په دې ونه توانېدل چې د دولت کړنلارې یا پالیسی د تبادلې په هکله د نوماندانو ترمنځ بحث وګوري.
ښاغلی کرزی، ډاکټر عبدالله، ښاغلی اشرف غني، ښاغلی یاسین

تر څارني لاندې څو رسنيو د رايه وركوونكو لپاره د ټاكنو اړوند تعليمي پروګرامونو (چې د ټاکنو د خپلوا کمېسيون لخوا تمويلېدل) په هکله يو مقدار زيات مالومات د ټاكنيز كمپاين په وروستۍ اوونۍ کې نشر کړل. که څه هم چې د ټاکنو لپاره د اروپا د اتحاديي د څارني د ماموريت ناظرينو له ساحې څخه او هم د رسنيو د خبرو له پلوه د رايه وركوونكيو لپاره د مالوماتو په برخه کې په ولايتونو کې نيمګړتياوې په ګوته کړې وې. خو د امنيتي ستونزو د له امله يې دغو ساحو ته لاسرسی نه درلود.
د اروپايي اتحاد د څارني د ماموريت تر څارني لاندې د رسنيو لخوا په عمومي ډول د كمپاينونو سكوت/خاموشی څخه د ټاکنو په برخه کې رعايت كېدو او د ټاکنو د رسنيو د کمېسيون د مقرراتو خخه د ۴۸ ساعاتو په جريان او هم د ټاکنو په ورځ كومه لويه سرغړونه نه ده ترسره شوې. كه څه هم د ښاغلي كرزي په هكله د هغه د "رسمي دندې له مخې" د رايي وركولو په اړوند د خپلواکی په ورځ (د ټاكنو نه يوه ورځ وړاندې) او همدارنګه د ټاكنو په ورځ د دولتي رسنيو او شمشاد ټلوېزيون لخوا يو شمېر رپوټه خپاره شول.

## X. د ښځو ونډه/ګډون

څرنګه چې د هېواد په اساسي قانون کې د ښځو سياسي او مدني حقوق تعين شوي دي څو د نورو ښاريانو ترمنځ هغو نړيوالو قوانينو ته په احترام سره چې د افغانستان حکومت لخوا منل شوي او تصويب شوي دي، په ۱۹۷۹ کال کې د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د تړون او نړيوالو سياسي او مدني حقوقو د تړون په ګډون چې په ۱۹۶۶ کال تصويب شوی دی، مساوات څرګندوي.

د يو نوماند، رايي وركوونكي او يا هم د ټاكنو په بهير كې د كاركوونكيو په توګه د ښځو حضور ډېر محدود وو، ځکه چې پراخ فرهنګي مخالفتونو په ټولنه کې د ښځو د ظهرو په وړاندې يو لړ خنډونه د هغوی لپاره رامنځ ته کړي دي. ښووني او روزني ته د ښځو محدود لاسرسی (۷)، منابع او د هغوی کمزوری ګډون په مهمو دولتي ادارو کې د دوی د ګډون مسئله په سياسي پروسو کې هم له ستونزو سره مخامخ کړې ده، په ځانګړې توګه په داسې يو چاپېريال کې چې د ښځو لپاره د منلو وړ نه وي، څو په مستقيم ډول له سړيو سره په تماس کې شي. د وګړيو/ښاريانو د ژوند د خوندي ساتلو په موخه د يو خوندي چاپېريال نه موجوديت، دوی په ځانګړې توګه ښځې د هېواد په بېلا بېلو برخو کې اغېزمني کړې دي او په ځينو ټولنو او کورنيو کې د ښځو لپاره له کوره وتل لازم نه بلل کېږي. په پايله کې ښځې نه شي کولای چې د تګ راتګ د ازادی په برخه کې له خپلو حقوقو، په ټولنو کې ګډون او د بيان له ازادی څخه ګټه واخلي.

د وګړو ترمنځ د مساواتو په برخه کې ټول ملي قوانين د هېواد له اساسي قانون سره مطابقت نه لري. د شعيه ګانو د شخصي احوالو په قانون کې په ۲۰۰۹ مېلادي کال کې يو شمېر قوانين شامل شول چې د ښځو له مساوي حقوقو سره يې مطابقت نه درلود او په ښځو باندې فرهنګي تغزيرات وضع کوي. له ټاکنو څخه څو اوونۍ وړاندې د دې جنجالي قانون اعلان خلکو ته داسې مفکوره وکړه چې په افغانستان کې د ښځو حقوق د سياسي مداخلي ښکار او تر پښو لاندې کېږي. په افغانستان کې د ښځو د حقونو ترمنځ يو ټوليز او عمومي توپير موجود دی او د دې واقعيت دا دی چې په ډېرو مواردو کې دا مسئله د فرهنګي تمايلاتو له مخې منل کېږي او حتی دې ته ترجيح وركول كېږي چې ښځې بايد په عامه چارو کې ونډه وا نه خلي.

70- په افغانستان کې د بشر د ودې او انکشاف د رپوټ له مخې په ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸، كلونو په ترڅ کې ۶.۱۲ مليونه افغان ښځې بېسواده دي په داسې حال کې چې د نارينه وو د بېسوادی كچه ۴.۳۲ فيصدو ته رسېږي

د دی لپاره چی په جهاني کچه د رای ورکونی اصلي او رښتيني حق او برابرو حقوقو ته درناوی باوري شوي وي د نوموړي فاصلی سمدلاسه کولو او بيا له منځه وړلو ته ضرورت دی.

د هغه ژمنو په لړکی کومی چی د افغانستان له پلوه د هر نوع تتعيض ورکولو کنوانسيون د قرارداد د تصويب کولو پر محال شوي وي يوه ژمنه هم په هغه ټولنيزو او کلتوري چلندونو کی مثبت توپير راوستل دي پدی موخه چی د هغه تعصيباتو او دوديزو چلندونو د منځه وړل پکی باوري شي کوم چی د يوه (ښځينه او يا نارينه ) جنس پوړوالي او يا ټيټ والی او يا د ښځو او تارينه ؤ لپاره د ناوړه کردار پر بنسټ ولاړ دي سربيره پر دی ۲۰۰۲ م کال د جنوري په مياشت کی ولسمشر کرزی د افغانستان د ښځو د ضروري حقوقو په هکله يوه اعلاميه دستخط کړه چي په هغی کی د ښځی او نر په برابرو حقوقو د سيوری لاندی په برابره توگه خوندي کول په برخو کی د رسمي زده کړی د وړتيا او سياسي ونډی اخيستنی پر ازادي او د پوړنی او برقي د اغوستلو او نه اغوستلو د حق په لرلو ئي ټينگار کولو.د افغانستان د ښځو لپاره په ميلي کلني کاري پلان کی د دغه اعلاميی بيا يادونه شوی ده کوم چی د ښځو د حقوقو د ريښتيا ثابتولو لپاره مونږ ته روښانه موضی او تړ لاری را په گوته کوي افغان مشرتابه د ښځو په هکله د ژمنو خورا ډيری خبری کړي دي خو اوس ديته اړتيا ده چی هغی په عملي توگه ښودل او باوري کړي.

A.ښځه د رای ورکونکي په توگه
ښځو ته د هغوی حقوق ورنکړل شول ځکه چی دوی د يوی اداری د ويناوو سره سم دا چی دوی رای ورنګره شوی او ددوی گډون کم رنگه وو ښځو او نارينه و په جلا توگه رایځ اچولیځ او آیځ ایځ سیځ کوښښ کړی و ترڅو درای اچولو د مرکزونو لپاره په کافی اندازه ښځينه کارکونکي وگماری. په ګڼ شمير حالاتو او ځايونو کي د ښځو درای ورکونی په مرکزونو کی نارينه کارکوونکی گمارل شوی ؤچی د رای ورکولو لپاره ئی د ښځو لاس رسی کم کړی ؤ.

د دولسو رسنيو څخه سلام وطندار آرمان ملی و چراغ دی څارنی پر محال مودی کښی اعلانونه تير نګړل
۱۲.۶ پرسله افغان ښځی بی سواده دی ۳۲.۴ پر سله نارينه بی سواده دی د افغانستان د بشر د انکشافی رپوټ سره سم

دوديزو او امنيتي ستونزو د ښځو پر ځای د نارينه ؤ د رای ورکولو د چلند مخنيوی ناشونی کړیؤ.
هغه دود او رواج چی ښځی په کلکه د رای ورکولو د حق څخه بی برخی کوی او هم دی ته حالدت جوړوی تر څو د شځو د رای ورکولو د حق څخه د ځان په ګټه کار اخيستنی او غولوونکی رواجونو ته لاره هواره کړی دټول ټاکنو دورځی څخه لږڅه دمخه هم د ښځو کارکوونکو د ټاکنی او د حالدتو په هکله دښتينی پوهی لپاره دهلوځلو په موخه آی ای سی د نماينده رای ورکونی په هکله يو څه د فشار لاندی وه او دائی په ډاګه ښکاره کړه چی سره لدی چی دا په پوره توګه د هيلی څخه بهر وه بيا هم نږدی وه چی پکی شی.

د اروپايي ټولنی د څارنی ماموريت څارونکو تقريباً د هيواد په ټولو برخوکی د ښځينه رای ورکوونکو کچه د نارينه ؤ په پرته ډيره ټيټه وښوده او ددی کار لاملو نه ئی امنيت او دوديز بنديزونه وښودل چی دواړو په ګډه د ښځو لپاره د کور څخه د وتلو او د رای ورکولو امکانات ئی محدود کړل.

ښځی د نوماندانو په توګه :
منابعو ته د لږ لاس رسی په څير د عملی موانعو بر څيره ښځی په ټولنيز ژوند کی د يرغلونو په څيرد نورو ډيرو مخنيونکی ستونزوسره مخامخ شوی.

پدی وروستيو کلونوکی دپارلمان او د ولايتی شوراګانو ښځينه غړی، ملکی کارکوونکی ، ژورنالستان او په بين المللی موسساتو کی ښځينه کارکوونکی د دولت د مخالفينو،دوديزو او مذهبی زواکمنو، د هغوی د خپلو کورينو او ټولنو او په ځينی وختونوکی د دولتی واکدارانو له خوا په نښه شوی دی‌په ټولنيز ژوند کی پرته له کوم شك څخه دښځو پر ضد دډيك ډيری کمی ښودل شوی دی ځکه چی ددی دپکو ښکارشوی ځينی ښځی وډاروی.

د ولسمشرۍ د ۴۱ نوماندانو له ډلیڅخه ۲ نوماندانی ښځی وی، او همدارنګه د ولسمشر د مرستيالانو د ۸۲ نوماندانو له ډلی څخه ۷ (۸.۵ په سلو کی) ښځينه نوماندانی وی.

په ولايتی شوراګانو کی د ښځينه نوماندانو شمير ۳۳۳ ؤ چی د ټولو نوماندانو په سلو کی ۱۰ شميره جوړوی.
د هيواد په کچه د تيرځل په پرته له دا ځل د ښځينه نوماندانو شمير په ولايتی شوراګانو کی يو څه زيات شوی ؤ خو د هياد په نږدی نيمائی ولايتونوکی د ښځينه نوماندانو شميره ټيټه شوی وه.

د ټول ټاکنو د قانون د شرايطو له مخی په ولايتی شوراګانو کی لږتر لږه په سلو کی ۲۵ چوکی د ښځو لپاره ځانګړی کړای شوی دی .
د ښځو لپاره کوم جلا لړليك په پام کی نه دی نيول شوی دايوازی پداسی فرصت کی ده چی د ډيرو رايو اخيستونکو کسانو په لړ کی د ښځو شمير لږدی نو له همدی امله ښځينه نوماندانی په ډيرو لږو رايو په ولايتی شوراګانو کی د خپلو چوکيو د نيولو لپاره ټاکل کيږی.
همدارنګه ددی لپاره چی ولی د ښځو برخه نشی زياتيدلی هيڅ دليل نشته د ښځو په ټيټه کچه د پلاوی توب د باوری لپاره يو ښه سيستم دیو.
اوپه سياليتو کی يوتش به نامه اغيز دښځو اونارينه و لپاره د لوبی د يو برابر ميدان پوره نشتوالی دی.
په ۲۰۰۵ م کال کی پنځه داسی ولايتونه ؤ چی هلته ښځينه نوماندانو خپله لږه کوټه (برخه) پوره نکړی شوه او سرکال يوازی دوه داسی ولايتونه ؤ لکه (ارزګان او قندهار) سره لدی په قندهار کی د ښځو د چارو سره د تړاو لرونکو ادارو د خورا ډير تشويق په پای کی يوازی ۳ ښځی ميدان ته راووتی چی هغوی هم د کمپاين په دوران کی په قندهارکی پاتی نه شوی.

د هيواد په زياتو برخو کی دښځو سياسی برخه اخيستنه په ځانګړی توګه په نښه کړی شوی وه. د لغمان،جوزجان،سرپل او هرات په ولايتونوکی د ټولنی او دينی مشدانو له خوا ښځوته د ټول ټاکنو او کمپاين څخه د لاس اخيستلو لپاره د ګواښ راپورونه ورکړی شوی ؤ او هم د کابل، تخار او هرات په ولايتونوکی ښځو ګواښونه او حملی هم زغملی دی. په ځينی ولايتونو لکه د غزنی او قندهار څخه ښځينه نوماندانو داسی راپورونه ورکړی ؤچی هغوی دځان له ويری حتیٰ د کمپاين په کولو هم ندی توانيدلی حال دا چی د هيواد په زياتو بخو کی ښځو يوازی د خپلو کورونو ترځنګ په ډيره لږه کچه کمپاين تر سره کړی دی.
د ښځو د امنيتی اړتياوته د ځواب په اړه دکورينو چارو وزارت يو پروګرام په لاره واچاوه د کوم له مخی چی دولديتی شوراګانو ښځينه نوماندانو کولی شو چی يو ساتونکی د خپلو خپلوانو له مخه ونوموی ترڅو د يوی ونی روزنی څخه وروسته هغه د پوليسو په لړليك (لست) د کمپاين تر آخيره پوری داخل شی خو ددی پلان په عملسی کولو موافقه رانغله.

ښځی د ټول ټاکنی په اداره کی:
د آی ای سی د ۷ کمشنرانو له ډلی څخه ۲ ښځی دی. آی ای سی د ملکی خدمتونو د کميسون د مثبت تعصب د پاليسی سره پدی موخه موافقه لری تر څو د ۲۰۱۰ کاله پوری د ټولو ملکی ادارو د ښځينه ؤ کارکوونکو د شمير کچه په سلو کی ديرشو ته ورسوی. د آی ای سی په موقتی کارکوونکو کی دښځو کچی په بيلا بيلو ولايتونو کی توپير درلود چی په پکتيکا کی په سلو کی ۱۰۱۶ او په بدخشان کی په سلو کی ۳۷ وه. د ۳۴ ولايتونو څخه په ۱۴ ولايتونو کی د ټول ټاکنو د موقتی کارکوونکو شمير د شلو څخه تر ديرشو په سلو کی وه.

درای اچولو د مرکزونو او دامنيتی کتونکو په توګه د ښځينه کارکوونکو ګڼ شمير ګمارلو جدی ستونزی رامنځ ته کړی. د رای اچونی څخه دری ورځی دمخه آی ای سي راپور ورکړ چي دوی ۱۲۰۴۶۲ کسان په کارګمارلي چي د هغي ډلی ۴۳۳۴۱ (۳۶په سلوکي) ښځي دي.
همدارنګه په کافي شميره د توانيدونکو او علاقه لرونکو ښځو د معلومولو ستونزه هم پرته له کوم شك څخه د کمزوری امنيتي حالاتو په وجه لا زياته شوه د ښځو اړونده ادارو راښکاره کړه چي که چيری دوی نوموړئ پروسی ته يو څه موده د مخه راوستل شوي وای نو دا به مومکنه وه چي دوی د ښځو د پام وړ شمير معرفی کړی وای.

د ۲۰۰۵ کال د تيرو ټول ټاکنو څخه وروسته آی ای سی د جيندر يوه ځانګه جوړه کړه خو دغه ځانګه (يونټ)۲۰۰۹ م کال د جون د مياشتي پوری په ځای پر ځای شوی ؤ، کله چي د جنډر يونټ ځای د آی ای سی په ساختمان کي خپل مزاج ښکاره کړ.
د جنډر يونټ د دوو آی ای سی کارکوونکو له خوا پر مخ بيول کيږي چي تر څنګ يي يو بين المللی تخنيکی مشاور هم د هماغه دفتر څخه د بشپړ وخت لپاره کار کوي.

د: ګټه ور پيل (نوی قدم اخيستل ) :
(نوښتونه ) په چارو کی د برخی اخيستلو لپاره د ښځو هڅولو او دښځو د حقونو په هکله د نارينه ؤ د پوهاوی په موخه يو شمير مثبت پيلونه (نوښتونه ) شوی ؤ چي پدې کي د افغانستان د ديني عالمانو ۲۰۰۸ م کال د نومبر د مياشتی علاميه هم شامله وه چي د دين د اساساتو په نظر کي نيولو سره يي په افغانو ښځو غږ وکړ تر څو په ټول ټاکنو کي برخه واخلي او نارينه ئي بايد و هڅوي. د حج او مذهبي چارو هم په هغه غونډه کي چي د ښځو د چارو د وزارت له خوا د ټول ټاکنو څخه څو ورځی د مخه جوړه شوی وه برخه واخستله د ښځو د برخی اخستنی په اهميت زور واچاوه .

د افغاني ښځو شبکی د ۵ ميلونه ښځو لپاره کمپاين و چلاوه تر څو هغوی د رای ورکولو لپاره و هڅوي، د يو ان ډي پي ای ايل ای سی ټی

عامه ساحوي پروګرام د ښځو او ملايانو لپاره سمينارونه هم پکی شامل کړل يو ان آی اِف اِم د سيورس سنټر د ښځينه نوماندامو لپاره جوړ کړ او په هغی کي د ټيليفون يو مرستندويه تار وغزاوه ترڅو د هغوی له لياری د اړتيا په وخت کي د ځان ساتنی په موخه آی ای سی، اِی سی سی ته مراجعه وکړي

د يو شمير نورو اقداماتو هيله کيږي چي په ټول ټاکنو کي به ئي دښځو د برخی اخستنی ته لومړي توب حق نه وي ورکړی خو بيا هم لږ تر لږه د هيواد په هغه ښځو ګټور اثر غورزولی وي کومي چي د لږو امتيازاتو څخه برخه منی وي. پدی کي د مدني پوهنی پروګرامونه چي د سيالو (نا دولتي ادارو) له خوا اود حقوقو پر بنسټ ولاړ اوږد محاله پروګرامونه چي د افغاني ښځو د ښوونيز مرکز په څېر د ځيني ادارو له خوا پر مخ وړل کيده شامل وه.

د سيالو ادارو له خوا د هيواد په کچه ښوونيز پروګرامونه د ټول ټاکنی د پروسی دملاتړ اس ټی ای پی د اقدام د يوی برخی په توګه يوازی د رای ورکوني په هکله د معلوماتو ورکولو په پر تله چي نر او ښځی يو شان پکی نيولی وه د رښتيني مدني روزنی يو ښه بيلږه ده .

د افغاني ښځو ښوونيز مرکز هم نر او ښځي دواړه په پام کي نيسي او په ارادي توګه د حقونو په هکله خپل ټريننګونه په هغه پروګرامونو کي ځای پر ځای کوي کوم چي د ټولنی له خوا دهغوی د خپلو عاجلو اړتياوو په پام کی نيولو سره د ارزونی پر بنسټ جوړشوي لکه سواد آموزي او حرفه يي زده کړی.

هغه پروګرامونه چي په مؤثره توګه د ښځو د برخی د اخستنی د ستونزو بنسټيز لاملونه څيري .

د ملي اقليتونو برخه اخيستنه
افغانستان د اقليتونو څخه جوړ هيواد شميرل شوي دی او همدارنګه پښتون او تاجك دواړه قومونه د اکثريت د لقب د اخيستني لپاره د يو بل سره سيا لي کوي. ناجوته توګه ددي دواړو قومونو برابری او نوي سومعلوماتو د شتوالي له کبله دغه ادعاګانی د تدبيق وړنه دي.
په لاس کي موجوده معلوماتو له مخي د افغانستان نفوس څه داسي اټکل شوي دي. پښتون (د ۴.۳۶ څخه تر ۴۲ پر سلوکي ) ازبك (۸ څخه تر ۲.۹ پرسلو کي) ايماق (۷ څخه تر ۴ پرسلو کي) ترکمن (۷.۱ څخه تر ۳ پرسلو کي) بلوچ (۵.۰ څخه تر ۴ پرسلوکي) او نور لکه پشيي ،نورستاني ، هندکي،برهوي ،هندوان او داسي نور (۹.۱ څخه تر ۲.۹ پر سلوکي) او دا هم اټکل شوی ده چي ۸۰ پر سلو کي سني مسلمانان او ۱۹ په سلوکي شيعه د هزاره و په ګډون چي د شيعه پيروانو زياته برخه جوړوي دهيواد نفوس تشکيلوي.

په ټول هيواد کی د اوسيدونکو قومي ترتيب سره توپير لري مختلف ګروپونه کيدای شی چي په يوه ساحه کي اقليت وي خو ځيني نور به په اکثريت کی وي. لا تر اوسه داسی هيڅ څه جوت او تاييد شوي شواهد او نښی په نظر ندي راغلي چي دقومي تضاد او اختلافاتو ښکارندوی دې بلکه مختلفی نژادي ډلی د ټول ټاکنو د ملاتړ لپاره په کار اچول شوي دي.

په افغانستان کی هر یوه ارزونه او یا عمل چې د اقلیتونو د حقوقو پربنسټ سرته رسول کیږي پکار دي‌چې د هغی تر څنګ باید د نژادي ګروپونو وړتیاوی هم په پام کی ونیول شي ترڅو د سیاسي لاس ته راوړنو لپاره دهغوي څخه کار واخستل شي.

ددي نظریو د محتاطی اندازه ګیري د اړتیا لپاره دوه بنسټیزي بیلګي موجودي دي تر ټولو مهمه د کوچیانو موضوع ده. کوچیان په هیواد کي ګرځیدونکی پښتون قوم دی چې شمیر ۲ څخه تر ۳ ملینو شاوخوا ا ټکل شوي دي. د ګرځیدونکو په توګه دوي د ټول ټاکنو په اړه یو ځانګړی هیئت لري.د ۲۰۰۵ م کال د ټول ټاکنو په قانون کي د ۲۴ ولسي جرګي د ۲۴۹ څخه ۱۰ سیټونه (۷ نارینه او ۳ د ښځینه و لپاره) د کوچیانو لپاره ځانګړي شوي وو د ټول ټاکنو نوی قانون هم چې د کوچیانو لپاره د سیټونو د ځانګړی کولو په هکله کومه وړاندیدنه کړی هغی په شمیر باندی د واکدارانو او د ولسی جرګی تر منځ تاوده او د ضد نقیص بحثونه راپورته شوي تر څو هغوی ته د هغوی دشمیر په انډول برخه ورکړی شي.

یوه بله بیلګه د هغه شخړی ده چې د شیعه ګانو د شخصي قانون په رسمي توګه پدی موخه ش اعلان شو چې د شیعه مشرانو انتخاباتي باوري کړي .

دمدني ټولنو برخه اخیستنه :
په افغانستان کی افغاني مدني ټولنی د ټول ټاکنی د پروسی په شفافیت کی پوره ونډه واخیسته . د آی ای سی تقریباً ۲۱۲۰۰۰ غړو د مدني ټولنو ادارو او د نوماندانو استازو ته واك ورکړ شوئ و تر څو دټول ټاکنو څخه څارنه وکړي د نوماندانو د استازو او داخلي څارونکو په پراخه کچه برخه اخستنه ډیره مهمه وبلل شوه. کله چې دوئ په ګډون کولو بریالي شول د راي ورکوني او شمیرني په مر کزونو کي ئي د راي ورکوني او شمیرني د پروسي په شفافیت کي د پام وړ ونډه واخیستله.

۲۱ ادارو ۹۲۲۸ داخلي څارونکي په دنده ګمارلي و.په داسي یو چاپیریال کي چې امنیت پکي ډیر کمزوری او د ونډې اخستني د مخنیوي ګڼ شمیر لاملونه موجود و د انتخاباتي پروسي په تعمیري او څارنیزي تکلاره کي د ګڼ شمیر خلکو ګډون په ځانګړي توګه هڅونکي ؤ

د داخلي څارونکو تر ټولو پراخه او لویه اداره د افغانستان لپاره د ازادو او منصفانه انتخاباتو ژېنیاد في فا (FEFA) ؤ چاچې د رأیو ورکونکو د ثبتولو او کمپاین پر محال ولایاتو لپاره څارونکي په دنده ګمارلي ؤ او په منظم توګه ئي د ټول ټاکنی د پروسی په هکله وینامی خپرولی.
فی فا (FEFA) وویل چې هغی د ټول ټاکنی په ورځ تد ۷۰۰۰ کسانو زیات کارکوونکی په ۳۴ ولایاتونو کی ۶۰ په سلو کی د رای ورکونی په مرکزونو کی په کار ګمارلی فی فا (FEFA) څارنه د کمزوری امنیتي حالدتو په امله د جدي مخنیوی مخامخ ؤ او څارونکي ئي د ګڼو شمیر تحدیدونو سره مخامخ شول.

فی فا (FEFA) خپلی پرس کانفرانس د اګست د میاشتی په ۲۲ نیټه د یوی عامی بیانیتی سره دایر کړه کوم چې د هغوی تیرو راپورونو په شان کي تر یو حده عمومي بڼه اختیاره کړه دغه اداري بی نظمی په ګوته کړي کومی چې د دوی د ټیمونو له خوا لیدل شوي وي اما ته دی اړوند ئي کره سمره براره نه کړه تر څو درغلیو په ثبتولو کی ونډه اخیستئ وای چې دغه د تخپیکی مرستو د ناوختته د رسیدو له امله وه فی فا (FEFA) د یوی آوږدی مودی څارنی لپاره د ظرفیتونو د لوړولو غوختنه کړی وه مګر په حقیقت کی یو ان ډي پی آی ال ای سی تی ( UNDPصبا لپاره د ټاکنیزه او حقوقي وړتیا جوړونه ) یوازی د لنډی مودی لپاره بنسټیزه روزنه تهیه کړه.

شکایتونه او غوښتنی (عریضی )

الف: دټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمسیون ددی واك لري تر څوده نوماندانو دوړتیا او نه وړتیا او انتخاباتي تصرفونو په اړوند د ټولو شکایتونو فیصله وکړي خو په دی شرط چې نوموړي شکایتونه هغوی ته د ټول ټاکنو د پایلو د تصدیق څخه د مخه رسیدلی وی.
ای سی سی (د ټول ټاکنو شکایتونو کمیسیون ) ته د نا پیلتوب رازداري او شفافیت پر بنسټ لاربښوونه شوی وه او دغه کمیسیون د ټول ټاکنو د خپلواك کمسیون څه جلا خپلواك حیثیت درلود همدارنګه د دواړو ادارو سره د هماغه یو تخنیکي مرستو په پروګرام له خوا مرسته کیدله کوم چې ستونزمن وه .
په هر هغه کس رویا اداری چې د اتبار وړ واك ئي درلود کولی شو چې ټول ټاکنو د پروسی په دوران کی د زیاتیو او په نوماندی د ارادونو یا یاداشت وساتی .
د ای سی سی (د ټول ټاکنو شکایتونو کمیسیون ) مشرتابه د پینځه ؤ کمیشنرانو څخه جوړه ده چې دوه ئي د ولسمشر له خوا د ستری محکمی او د افغانستان د بشري حقوقونو خپلواك کمسیون او ۳ نوری د ملګرو ملتونو دسکرتر جنرال د افغانستان لپاره د ځانګړي استازی له خوا بین المللی کار پوهانو له ډلی څخه ګمارل کیږي.

هره یوه پریکړه له دوو افغان کمیشنرانو موافقی ته اړه د ای سی سی کارکوونکی اکثره افغان استوګن دي چي تر څنګ يي يو شمير بين المللي کار پوهان د هغوي سره په کار کی مرسته کوي .

B : انتخاباتي تعارضونه:

دانتخاباتودقانون۵۳ ماده کومه چی دانتخاباتي پروسی بعضی اړخونه ترڅیړنی لاندی نیسي دیولړانتخاباتي تعارضونو څخه هم یادونه کوي کوم چی په لاندی ډول ورڅخه یادوونه کوو.--- تهدیدونه، درایه اچوونکو ویرول، درایه اچونی په وړاند خنډ واقع کيدل، دهغه فالیتونوترسره کول چی ددرغلی سبب کیږي،په نامشروع توګه دپیسواستعمال دانتخاباتي مقاصدولپاره، دشکایاتودکمیسیون دفرامینواوفیصلوڅخه سرغړونه کول اوداسی نور.

C: درایه اچونی په ورځی پوری داړونده شمیرنی او درایوتوحیدکولوشکایاتوپه هکله پریکړه کول:
دانتخاباتودشکایاتوکمیسیون دانتخاباتودورځی څخه وروسته دیوی په هفتی په دوران کی دابتدایی نتایجوپه اساس درایی اچونی اوشمیرنی دناوړتیاوپه هکله ۲،۵۸۴ شکایتونه ترلاسه کړل.چون دشکایاتوشمیرډیرلوړوه نوځکه یی نظر دهغوی په اغیزي باندی چی په نتایجوی واردوله په څوکتګوریوباندی ویشل. ددی څخه ۸۹۳ یی په لمړنی کتګوری کی راوستل چی ددی شکایتونودمعقولیت په صورت کی به یی په نتایجوناوړه اغیزه کړی وای. اکثره شکایتونه دکاندیدانو اودهغوی داستازولخوا سپارل کيدل چی ډیرجدي یی دشکایاتودکمیسیون مرکزي دفترته هم سپارل شوي وو. پدغه شکایتونوکی یوتعدادهغه ادعاوی هم وی چی په هغی کی دڅورایه پانودبنډل په ډول په صندوق کی اچول، بی کیفیته رنګ، دکارددسوري کولودماشین ناکاره والی، درایه اچوونکوویرول، اودمشاهدینواودکاندیدانوداستازودرایه اچونی مرکزته نه پریښودل وو. یوشمیرداسی تورونه هم وو چی درایه اچوونکوبعضی مامورین اومحلي مقامات هم په درغلی کی ښکیل شوي دي یاداچی په یوه محل کی دخلکوونډه په رایه اچونه کی کمه وه لیکن دهمغه محل دنتایجوپه فورموکی درایوشمیرزیات ښودل شوی وه. داسی راپورونه هم راغلي وو چی په بعضی محلونوکی چی د د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون لخواپکی رایه اچونه منع شوی وه هلته هم درایه آچونی محلونه خلاص شوی وو یاداچی په ناقانونه موقعیتونوکی درایه اچونی محلونه خلاص کړل.

بعضی شکایتونه چی مفصل وو په هغوی کی تعارض کوونکي شخص، موقعیت، اودرایی اچونی دمرکزذکرهم پکی شوی وه. بعضی شکایتونودواقعی تفصیل اوهغه شاهدان چی ددغی واقعی په هکله یی شاهدي ورکوله هم ذکرکړی وه. بعضی داسی شکایتونه هم ووچی ګونګ اوتت وه چی هیڅ قِسم تفصیل یی نه درلوده چی داددی باعث شوچی بایدددی شکایت اړونده قضیه لغوه کړی شي. لیکن بیا هم دراپورونوله مخی دشکایاتوکمیسیون دبعضی جدي شکایاتونودښه وضاحت لپاره اضافي معلومات هم غوښتی دی. دغه ادعاوټول ولایتونه اوولسوالي په برکی ونیولی EU EOM د ۴۰۰ څخه زيات شکایتونه اوناوړتیاوی ددریوریاست جمهوري کاندیدانو څخه ترلاسه کړل چی ددی شکایاتونودڅلورمی برخی څخه زيات یی هغه جدي ادعاوی اوناوړتیاوی وی چی قندهار، فراه ، کابل، ارزګان، بغلان، نورستان،بامیان،کنر،هرات،بدخشان،کاپیسا،خوست،لغمان،پکتیا،اودپکتیکا په ولایتونوکی منځته راغلی وی چی دبعضوادعاوله مخی پولیس اومحلي مقامات اود د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوادولسوالیوکواردناتوران هم پدغه درغلیوکی ککړوو.

دشکایاتوکمیسیون ددریوولایتونو( جوزجان، سرپل،سمنګان) څخه بغیرپه ټولوولایتونوکی پلټنی شروع کړی چی ددغه پلټنوڅارنه یی دکابل دمرکزي دفتر څخه کوله . اودهرولایت په سطحه دشکایاتودکمیسیون دفتر اونورڅانګړي دپلټنوټیمونه پدی وګمارل شول چی باید معلومات راغونډکړي.د۲۰۰۹ کال دسپتمبردمیاشتي په ۴ او۷ نیټوباند دشکایاتوکمیسیون دترلاسه شووشکایتونوپه اړوند اعلان کړی. اودرایه اچونی محلات چی په قندهار، غزني اوپکتیکا کی دپلټنی لاندی وو ددی کمیسیون لخواټول باطل اعلان شول اوټولي ابتدایی رایی یی ورته نامعلومی وبللی اونشرته یی هیڅ ونه سپارل. وروسته بیاهمدغه کمیسیون داسی فرمان صادرکړو چی ددی محلاتوڅخه کوم چی دخاصومشخصاتولرونکي ووباید دحسابدهي اودوباره شمیرنی لاندی ونیول شي.لاندی وګوری.
د۲۰۰۹ کال داکتوبردمیاشتی په ۱۸ نیټه دشکایاتوکمیسیون دری فیصلی وکړی:
ــ دشکایاتوپه اساس فیصلی
ــ دقرنطین شورایه اچونی محلاتوپه هکله فیصلی
ــ داډیټ یاحسابدهي په هکله فیصلی ـ چی پدی سره دنتایجوپه هکله پریکړی اختتام ته رسي.
په عمومي توګه دشکایاتوپه بنیاددفیصلواندازه محدوده وه. دابتدایی فیصلوله مخی په مقایسوي ډول لږی رایی باطلی شوي چی دټولوباطلوشووراي٪۲-۱ یی تشکیلول. پلټنی صرف دشکایاتو په بنیادوی. دشکایاتوکمیسیون دزیاتومشکوکو رایودپلټنی لپاره په استسنایی ډول(په ډیروکمواقعاتوکی) دخپلوپخوانیوامتیازوحقوقوڅخه ګټه واخسته. دغه کمسیون په څو مواقعوکی ددرغلنی دادعاودپلټنی په وخت کی محدودصندقونه اډیټ کړل اونورمشکوک صندقونه چی ددرغلورایی اچونی مراکزوپوری یی اړه درلوده داعتباروړوبلل. په عام ډول دشکایاتودبررسی میکانیزم طریقه محافظه کاره وه ځکه چی په هره هغه فیصله کی چی باید اډیټ (حسابدهی) اودوباره شمیرنه اجرا شي یوخاص قسم لمسوونکی شیان په نظرکی نیول شوي وو. علاوتاً دغه شرط چی باید یوکاندید په یومحل کی د٪۹۵ څخه زياتي یوسي ترڅوبیادهغه په رایوباندی آډيټ وشي یوه لوړه قدمه وه اودا پدی معنی چی هغه نتایج چی دهغوی له مخی باید اډیټ اجراشوی وای هغه بی دچیلنج څخه پاتی شول.داډیټنګ (حسابدهی) طریقه دادعاودانداز ی په نظرکی نیولوسره مناسبه وه ځکه چی دغه طریقه دکاندیدانو لخواقبوله شوه او د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون پکی هم دخیله وه. لیکن بیاهم په دغه طریقه کی د شکایاتودکمیسیون په ړاندی یوڅه محدودیتونه هغه وخت کی معلومیدل کله به چی د ټول ټاکنو شکایتونو کمیسیون د درغلیودلړبارسره مخامخ شوکوم چی به دهمدی کمیسیون

دخونديتوبونوددعدم تطبيق په وجه منځته راغلي وو. اګرچې هغه کړنلاره دکومی له مخې چې دقضيوپلټنه داولويت له مخی شوی وه دټولوشکاياتونوپه هکله دکميسيون پريکړی يی په ډيرمناسب زماني چوکاټ کی مخکی يوړل.

دانتخاباتوخپلواک کميسيون دخپلی پخوانی تګلاری په خلاف ولايتي اوساحوي رايه شميرنه چې دزون په مرکز کی کيدله داځل يی درايوشميرنه دررايواچونی په محلاتوکی غوره کړه. په اکثرو محلاتوکی چې د EU EOM په واسطه مشاهده شوي دکانديدانو دنمايندګانو اونوروم‌شاهدينو په موجوديت کی رايه شميرنه بی طرفه اوشفافه اودټولواړخونولپاره دقناعت وړوه. ددی با وجودچې دانتخاباتو دورځی څخه مخکی اوددی ورځی په دوران کی امنيتی وضع خرابه وه خوبياهم په کافي اندازه خلک درابواچونی لپاره راووتل ترڅورايه ورکړي. د EU EOM مشاهدينودمستقيمی کتنی اودنورومعتمدومنابعودغيرمستقيمی کتنی څخه داڅرګنديږي چې دهيواد په شمالي برخو کی دخلکوونډه اخستل په کافي اندازه وه ولی په خصوصي ډول جنوبي برخوکی کمه اوجنوب شرقي برخوکی په لوړه کچه کمه وه.

د ټول ټاکنو ورځ
د ټول ټاکنو ورځ کښی ډير زيات تاوتريخوالی وو . په مرکزونو باندی بريدونه وشو او څارنکو لپاره څارنه ډير سخته شوه . په ډيری ځايونو کښی چې رای ورکونه ونشوه د امنيتی ستونزو له کبله ټګ ناممکنه شو

زمونږ څارنکی چې ۱۲ کسان وو ۲۶۸ مرکزونو ته په ۱۷ ولايتونو کښی لارل په پای کښی څارنکو وويل چې پروسه په مطمين توګه سر ته ورسيده ولی ستونزی هم موجودی وی
په نيغه توګه کوم د تقلب قضيه يی ونليدله ولی رپوټونه د نورو ادارتو نه لاس ته راورل

## XV : پايلی :

A: دنتايجوجدول بندی اواعلانول:
دهريورايی اچونی محل څخه د TEB کڅوړو راټولول دنتايجوسره يوځای‌دکانديدانودنمايندګانواودمشاهدينو په حضورکی سرته ورسيدل اګرچې په بعضی حالاتو کی دراټولونی کړنلاری پياده نشوی خوبياهم دغه پروسه شفافه ښکاريده اوټولومشاهدينو اودکانديدانودنمايندګانوپه وړاندی خلاصه وه. دنتايجوتوحيد کول دکابل د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيونددفتردتوحيدکولوپه مرکز کی سرته ورسيدل. داګست په ۲۵ نيټه کله چې دټولورايواچونی دمحلاتو دنتايجوتوحيدکول ٪۱۰ ته ورسيدل نو په قِسمي ډول ابتدايی نتايج هم اعلان شول چې دغه نتايج دهغه نتايجوپراساس وه کوم چې د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ډاټابيس ته داخل شوي وه او د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دکمِشنرانو لخوادنشرلپاره تاييد شوي وو.
دټولوولايتونو نهايی نتايج جمع شول اودرياست جمهوري انتخاباتوابتدايی نتايج تکميل شول اوپه ۱۶ دسپتمبرباندی نشرته وسپارل شول.
دانتخاباتي پروسی دغه مرحله په ټول هيواد کی ددرغلۍ دواضحوشواهدوتراغيزی لاندی راغله خاصتاً دهيوادپه جنوب اوجنوب شرقي برخوکی په حاده ډول په لوړه کچه دکرزي په طرفداري سرته ورسيد ه.
همدارنګه دنتايجواعلان چې په کوم ځانګړي ډول اجراشو دانتخاباتويوه خاصه طرحه راپه نښه کوي - چې په لمړي قدم کی دهيواددشمالي برخورايی اعلان شوي چې هلته کرزي کم حمايت درلوده اودجنوب ورسره ډيرکم نتايج اعلان شول په کوم ځای کی چې دکرزي لپاره حمايت زياد وه ليکن دلته په کتلوي ډول دکرزي په ګټه درغلنه شوي وه. دجنوبي رايودشميرسلنه قدم په قدم زياتيده ترڅو کانديدان يی په وړوتوتوقبولي کړي. له بله پلوه که چيری همدغه دجنوب نتايج په يوځل په لوړدوزسره اعلان شوي وای نودکانديدانوله خوابه دښکاره درغلنی په توربانډی ردشوی وی.
دنتايجونشرکول:
درياست جمهوري انتخاباتوابتدايی نتايج (۸۵) دسپتمبردمياشتی په ۱۶ نيټه اعلان شوی-چې پدی کی ٪۵۴.۶ رايی دکرزي په ګټه وی او ٪۲۷.۵ دداکترعبدالله په ګټه وی.
دټولورايه اچونی محلاتولمړنی شميرچې دانتخاباتوپه ورځ خلاص شوی وه درياست جمهوري دابتدايی قسمي نتايجو دعلان په وخت کی ۲۷،۰۶۷ ښودل شوی وه چې دغه شميرمخ په کميدوشو اوپه اخرکی ۲۳،۳۱۴ اعلان شو. دغه لږشوی شميرهغه وخت په نشرشو کله چې درايه اچونی محلاتو دنتايجوتوحيدي تکميل شوي وه. دلمړني اواخري شميرتفاوت پکی نه وه واضيح شوی.
د ټول ټاکنو خپلواک کميسيوندرياست جمهوري ابتدايی قسمي نتايجودټولومرحلولپاره ناسم عددي معلومات (۸۶) ترتيب اوتسليم کړل اوبرعلاوه ددی څخه چې ناسم معلومات يی نشرته وسپارل درايه اچونی دمحلاتوشمير چې دابتدايی نتايجوسره په خاصووختوکی تدريجاً اعلانيده د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دارشيف څخه تري تم شو. يوڅه تعداديي په وروستی مرحله کی دوباره راښکاره شول خوبعضی يی اوس هم بی درکه دي چې دتري تم کيدو په دليل يی کوم وضاحت هم تراوسه ورنکړو. دغه کړنی ددی باعث کيږي چې دپروسی شفافيت اغيزمن کړي.

a) : دولايتي شوراګانونتايج:
باوجوددی چې دولايتي شوراګانونتايج درياست جمهوري نتايجوسره يوځای توحيدشوي وو ليکن ددی نتايجو په هکله معلومات درياست جمهوري دنتايجوداعلان څخه ۵ هفتی وروسته پوری وځنډيدی. دسپتمبردمياشت په ۲۸ نيټه دولايتي شوراګانوقسمي نتايج(د۳۴ ولايتونوڅخه

د۳۰ ولايتونو) نتايج د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون په ويب پاڼه کی نشرته وسپارل شول. ددی متن ترليکلوپوری دننګرهارنتايج اوس هم لاينحله پاتي دي.

c) :-حسابدهي اودوباره شميرنه:

دهغه مخالفت له کبله چی ددرغلی دځرګندو شواهدوپه وجه منځته راغئ اود EU EOM لخواهم وغندل شو،د انتخاباتودشکاياتوکميسيون (د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون ) دافغانستان دانتخاباتودقانون د ۴۹ (۲) او۵۴ (e) مادوپربنا د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ته فرمان صادرکړچی درياست جمهوري درايه اچونی دمحلاتودرايوصندقونه کوم چی دلاندی دوه قدموڅخه يوهم پری تطبيق شي (پدی معنی چی رايی درغلی دي) بايد ټول حسابدهی اودوباره وشميرل شي. دغه قدمی په لاندی توګه دي:

۱- که په يوه رايه اچونی محل کی درياست جمهوري لپاره درايوشمير ۶۰۰ يادذی څخه زياده وي.

۲- که په يوه رايه اچونی مرکزکی درياست جمهوري ټولی رايی د سلو۱۰۰ څخه زياتی وي اوددی رايو ۹۵٪ يادذی څخه زياته برخه يی يوه کانديد ته ورکړشوي وي. چی دغه قدمی دهغه رايوله مخی تاسيس شوی کوم چی په غزني، کندهار اوپکتيکا کی دنمونی په ډول درايه اچونوصندقونوڅخه لاس ته راغلی چی ياخوپه صندوق کی درايوشميرد ۶۰۰ څخه زيادوه اوياهم داچی په يوه محل کی يو کانديد ته د ۹۵٪ څخه زياتی رايی اچول شوی وی. چی د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون هم په همدغه محلاتوکی دنامشروع رايو تشويقوونکی شواهدترلاسه کړي وو.

د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون داپه ډاګه کړه چی دوئ دغه حکم دوړوشکاياتوپراساس نه وشوی اونه يی هم دوړوشکايتونوپراساس د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دفيصلومخه ونيوله.

۸۵: سل فيصده توحيد شوی رايی ۵،۹۱۸،۷۴۱ وی چی پدی کی اعتباري رايی ۵،۶۶۶،۷۵۸ وی اوباطلی رايی ۱۷۳،۰۰۰ وی. او ۸۲،۷۸۳ رايی دکانديدانودتيريدوپه وجه باطلی شوی وی. دکرزي درايوشمير ۳،۰۹۳،۲۵۶ (٪۵۴.۶) وه، دداکترعبدالله درايوشميره ۱،۵۷۱،۵۹۱ (٪۲۷.۵) وه اودرمضان بشردوست درايوشميره ۵۲۰،۶۲۷ (٪۹.۲) وه. بدی شمير کی درايه اچونی محلات قرنطين شوي نه وو.

۸۶: د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون لخوا لاندينی احصايی ناسمی وی: درايه اچونی محلاتواومراکزومجموعي شميرکوم چی درايه اچونی په ورځ خلاص وو، داعتباري رايوشميره، دباطل شوورايوشميره کوم چی تيروشووکانديدانوته اچول شوی وی، دقسمي اعلان شوورايوشميره، اودرايه اچونودماموروشمير.

۸۷: د EU EOM دسپتمبردمياشتی په ۸ او ۱۶ نيټويی درايه اچونی دمحلاتوپه نتايجوتشويش ښکاره کړ اوپدی توګه يی داخري مشکوکو/درغلۍ رايوشمير ۱.۶ مليونه وښوده چی پدی کی ۱.۲ مليونه رايی دکرزي په نفع وی او دری لکه ۳۰۰،۰۰۰ رايی دداکترعبدالله په ګټه وی.

د۲۰۰۹ کال دسپتمبردمياشتی په ۱۶ نيټی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون درياست جمهوري ابتدايی نتايج پرته لدی چی د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون دحسابدهي اودوباره شميرنه په نظرکی ونيسي اعلان کړل.پدغه وخت کی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون په عام ډول داسی وويل چی حسابدهي اودوباره شميرنه هغه وخت صورت نيسي کله چی ابتدايی نتايج اعلان شي.په همدغه وخت کی ديوناما لخوا نړيوال ناهرين وګمارل شول ترڅو د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون سره دهغه صندقونوپه حسابدهي اودوباره شميرنه کی مرسته وکړي کوم چی د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون دفرمان له مخی دانديښنی وړوه. د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون په منځ کی داوږدومذاکراتوڅخه وروسته د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دمشکوکوصندقونوشميرتثبيت کړچی ۳۰۶۳ دی چی دغه صندقونه په ناسمه توګه دهيواد په کچه توزيع شوي وو.

دڅوکرته ځنډونوڅخه وروسته باالاخره داکتوبرپه ۴ نيټه د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون په حسابدهي اودوباره شميرنی باندی يوه پاليسي پانه خپره کړه چی درايی اچونومشکوکوصندقونوڅخه په يوه نمونه باندی يی حسابدهي اودوباره شميرنه اجراشي اوپه همدی اتکا وشي ترڅو وخت بچت شي او هغه معلومات رابرخيره شي چی په رايی اچونی محلاتوکی درايی اچونی معتبر ناسموالی په معادله توګه دټول هيوادپه کچه پکی څرګندشي. ددی پروسی هدف داوه چی د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون ته اجازه ورکړي چی دهغه رايه اچونی محلاتو په هکله چی د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون دفرمان مطابق پکی درغلي شوی وه دشوی درغليوپه هکله خپله فيصله اعلان کړي اواثريی درياست جمهوري انتخاباتوباندی چی د اګست په ۲۰ نيټه ترسره شول په نښه کړي. دپاليسۍ ورقه داهم وايی چی که درايوصندوق کی درغلي وکتل شوه داپدی معنی ده چی درايی اچونی پروسه په همدغه صندوق کی دمصلحت پربنا باندی مخکی وړل شوی ده او هغه رايی چی پدغه صندوق کی موجودی دي دانتخاباتودموجوده تعامل له مخی باطليږي.

داکتوبرپه دمياشتي په ۵ نيټه د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون دڅارنی لاندی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دمشکوکورايودصندوقونو په يوی نمونی باند حسابدهي شروع کړ چی په نتيجه کی دکرزي درايوشمير ۲،۲۸۳،۹۰۷ ته راټيټ شو اوفيصدي يی هم ٪۴۹.۶۷ شوله اوډاکترعبدالله درايوشمير ۱،۴۰۶،۲۴۲ ته راټيټه شوه اوفيصدي يی هم ٪۳۰،۹ ته ورسيده. دفيصدۍ دغه تغير داراپه ګوته کړ چی بايد ددوومخکښوکانديدانوپه منځ کی ددوهم ځل لپاره انتخابات ترسره شي.

D): ددوومخکښوکانديدانوپه منځ کی دوباره انتخابات:
داکتوبرپه ۱۹ نيټه باندی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون درياست جمهوري اخري نتايج اعلان کړل اوورسره يی داهم يی اضافه کړل چی چون يوکانديد هم ۱+۵۰ رايی ندی اخستي بنا پردی هيڅ کانديد ګټونکی ندی اوبايد چی ددوومخکښوکانديدانو(کرزۍ اوډاکټر عبدالله ) په منځ کی دنومبردمياشتي په ۷ نيټه باندی دوباره انتخابات وشي. پدغه وخت کی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ددوهمی دوری انتخاباتولپاره يی د۵۰۰ اضافي رايی اچونی مراکزودخلاصونی اعلان وکړ اوورسره يی داهم وويل چي درايی اچونی په هرمرکز کی به دمامورينوشميرد۵ څخه ۲ ته ټيټيږي. ددغی فيصلی په هکله هيڅ دليل موجودنه وه چی ولی پورتني دوه کارترسره شي.دپورتني دوه کارونو په کولوسره نوری هم انديښنی زياتی شوی ځکه چی درايی اچونی محلات اومراکز دواړه دانتخاباتوپه لمړي پړاوکی دددرغلی څرګند ځايونه وو اواوس که هلته دماموريونوتعداد کم شي نودغه دماموريونوکم شميربه په زياته اندازه دمحلي ځواکمنودنفوذاوتهديد لاندی واقع شي. دنومبردمياشتی په اول تاريخ ډاکترعبدالله اعلان وکړچی هغه ددهم پړاوپه انتخاباتوکی ګډون نکوي اودخپلی دغی فيصلی په حمايت يی دوه دلايله وړاندی کړل: اول داچی په پروسه کی دشفافيت نه موجوديت اودوهم يی دادليل ووايات چی ددغی پروسی تطبيقوونکي خپلواکي نلري په خاصه توګه دانتخاباتودخپلواک کميسيون درييس څخه يی ذکروکړ. عبدالله زياته کړه که چيری د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون رييس اوورسره دری برحال وزيران برطرف شي نوپه انتخاباتوکی به تريوحده پوری شفافيت رامنځته شي. اګرچی EU EOM پدی موقف کی ندی چی دډاکترعبدالله په شرايطو وغږيږي خوداڅرګنده ده چی ددداسی اقداماتونشتوالی به چی دلمړي پړاودانتخاباتودرغليوته ځواب ووايی اوددی په څنګ کی د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون اختلاف د شکاياتودکميسيون دفيصلودعملي کولوسره به ددغه دوهم پړاودانتخاباتوشفافيت هم په خطرکی واچوي.

دډاکترعبدالله شاته تګ اودهغی دڅرګندونوڅخه وروسته د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دفتردنومبردمياشتی په دوهمه نيټه باندی دمطبوعاتوله طريقه اعلان وکړچی ددوهم پړاوانتخابات لغوه اوکرزۍ ګټونکی شو. داچی په قانون کی ددوهم پړاوڅخه دشاته تګ لپاره څه واضيح لارښونه نشته نوځکه د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون بايد په دغه حالاتوکی ياهم انتخابات ځنډني کړي وی اويا يی هم له تعليق سره مخ کړي وي چی دانتخاباتومشروعيت دتهديد لاندی را نشي. د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دغه فيصله چی ددوهم پړاوانتخابات يی لغوه کړل دانتخاباتودقانون د ۳۷ (۲) مادی سره تطابق نکوي اوعلاوتاَ هغه تفسير اوتحليل چی د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون په دغه هکله کړی په هغه کی دداسی فيصلی دصادرولو هيڅ يادونه نده شوی.

XVI: وړانديزونه:
د EU EOM دخپلولاسته راوړنوله مخی لاندی سپارښتنی وړاند کوي ترڅو دافغانستان داسلامي جمهوريت دانتخاباتي اِداری ، دسياسی تنظيمونو، مدني ټولنو اودنړيوالواِدارولخوادانتخاباتوپروسه بهتره شي. داچی په انتخاباتي، قانوني اواِداري چوکاټ کی يوتعدادداسی عناصرشته چی بايدتغيرات ومومي نوځکه هڅه کيږي چی ددی دبهتروالي لپاره سپارښتنی و ړاندی شي ترڅودغه پرمختګ د۲۰۱۰ کال دپارلماني اودولسواليوشوراګانودتدويرڅخه مخکی دمخکی ترلاسه شي. دغه سپارښتنی په لنډوخت کی دډيروعاجلوتغيراتودمنځته راتګ لپاره په لاندی ډول په ګوته شوي دي.

سیاسي تنظیمونه:
۱: ددی لپاره چي پارلماني سستم ته وزن ورکړل شي اوقانونسازي غښتلی ، موثره اوشفافه شي مناسب اقدامات باید ونیول شي ترڅودسیاسي تنظیمونو ودی وهڅول شي. دغه اقدامات عبارت دي له:
دسیاسي تنظیمونولپاره تربیوي پروګرامونه او دسیاسی تنظیمونوسره دهغوئ دانتخاباتي حوزوپه تناسب مالي مرسته کول. علاوتاً دسیاسي تنظیمونودثبت لپاره ساده اواسانه کړنلاری چي انتباه اومقررات هم ولري وټاکل شي ترڅودثبت کولودپروسی شفافیت ډاډمن کړي.

انتخاباتي سستم:
۲:ولایتي اوپارلماني انتخاباتی سستم بایدپه یوی نوي انتخاباتي قانون مسودي کی وڅیړل شي کوم چي د ۲۰۱۰ کال دپارلماني انتخاباتوڅخه وروسته په نشررسیږي ترڅو داساسي قانون د ۱۰۹ مادی سره مطابقت وکړي.
خاصه پاملرنه باید هغه ضرورت ته وشي چي باید د سیاسي تنظیمونو وده تشویق شي.دمفردی نه انتقالیدونکی رایی سستم په انتخاب باندی هم په مناسبه توګه دسره غوروشي. دیوه زیات متناسب سستم په انتخاب باندی چي په هغی کی دکاندیدانولستونه په کاراچول کیږي غوروشي- پدی نظرچي یوداسی سستم منځ ته راشي چي په هغی کی تناسب ، داقلیتونو اودجغرافیوي ګروپونووکالت ډاډمن وي.

قانوني چوکاټ:
۳: د قانون په رڼا کی باید داسي ضروري فعالیتونه اواقدامات ترسره شي چي دقضا خاصتاً د ستری محکمی خپلواکي ورسره غښتلی شي.دستری محکمی اوداساسي قانون دتطبیق کولودنظارت کمیسیون رول باید تربحث لاندی ونیول شي اودټولو افغاني ادارولخواتایید شي ترڅودهریوه لپاره متفقه رول په ګوته شي اوددواړو په منځ کی دراتلونکي مخالفت اومغشوشتیا مخه ونیول شي.
۴: د ۲۰۰۵ کال انتخاباتي قانون دوباره کره کتنه وشي ترڅوهغه مادی دکومو تفصیل چي نه وه ذکرشوی اوپه ۲۰۰۹ کال انتخاباتی دوره کی دځنډنیوناسمواوناوړه تحلیلونوباعث شو.دنوي پیشنهادشوي انتخاباتي قانون په هکله باید دواړو- پارلمان اووزارت عدلي سره تخنیکی مرسته وشي مخصوصاًتوجه پدی وشي چي افغاني قانونپوهانوته دانتخاباتي مسایلوپه هکله تربیوي پروګرامونه برابرشي.
۵: په کامله توګه د کره کتل شوي انتخاباتوقانون په نه موجودیت کی باید ټول موجوده مقررات اواصلاحات کوم چي د ۲۰۰۵ کال انتخاباتوقانون تکمیلوي سره راغونډکړل شي اودټولوذیدخلومراجعواستفادی ته اماده شي.
۶: دټولوڅخه زیات جنجالي مقررات باید اصلاح اوتکمیل شي .پدوی کی باید په فوري ډول دغه لاندی شامل شي.
-- دانتخاباتودخپلواک کمیسیون دکړنلاروپه قواعدوکی اصلاحات راوستل شي ترڅودانتخاباتي مسایلوپه هکله دقیق تری فیصلی وشي اوشفافیت غښتلی شي.
--دنتایجودتایید کړنلاره باید داسی شرایط هم وضع کړي چي ددی شرایطوپه رڼا کی دغه کمیسیون پدی وتوانیږي چي بعضی رایی باطلی کړاي شي. یوه داسی کړنلاره هم باید منځته راشي چي درایوتودراغوندولولپاره قواعد وضع کړي اواډیټ (حساب دهي) وهڅوي.
--یوه کړنلاره چي دانتخاباتوخپلواک کمیسیون ته دټولورایی اچونی دمراکزودموقعیت د ښودلولپاره یووروستنی مهال ویش تعین کړي ترڅورایه اچوونکو، مشاهدینو اوتنظیمونواوکاندیدانونمایندګانوته دمعلوماتوپروخت انتقال ډاډمن شي. ددی کړنلاری په اساس باید کمیسیون دوروستنی مهال ویش دتعین څخه مخکی باید دټولورایی اچونی محلاتواومرکزونولست برابرکړی وي.
-- کمیسیون باید دضرورت له مخی ډیره توجه وکړي چي ابتدایی نتایج مخکی لدی څخه چي اعلان شي اویا په نتایجوباندی دشکایتونوله مخی عمل وشی صحیح کړي.
۷: د انتخاباتودقانون د ۷ (۲) مادی په اساس کوم چي خپلواک کمیسیون ته دااجازه ورکوي چي صلاحیت فرعي کمیسیونوته وروسپاري باید د کړنلاری له مخی د حسابدهي ټیمونودڅارنی لپاره یوفرعی کمیسیون جوړشي.داسی قواعد باید منځته راشي چي دحسابدهي ټیمونو،کوم چي دانتخاباتوپه ورځ ولسوالیوته ځي، دبنیادي روزنی لپاره استعمال شي. دغه ټیمونه باید داسی راپورونه دانتخاباتوخپلواک کمیسیون لپاره جوړکړي چي دغه کمیسیون یی د ابتدایی نتایجوبربرولولپاره ورڅخه کاراخلي، اودغه راپورونه دکوم شکایت په صورت کی دشکایاتوکمیسیون ته هم وروسپارل شي.دانتخاباتوخپلواک کمیسیون باید د۲۰۰۹ کال دانتخاباتودحسابدهي دتجربو له مخی خاصتاً هغه حسابدهي چي دولایتي شوراګانوپه نتایجوباندی اجراشوه خپل ځان جوړکړي.
۸: دټولولسوالیوسرحدات باید تعین شي ترڅوچي دولسوالیودشوراګانوانتخاباتوترسره کولولپاره زمینه مساعده شي. دداخله چاروزارت باید پدی هکله دټولوذیدخلوادارولخوا )IDLG اودمحلي اداروخپلواک ریاست AIMS، CSO AGCHO،ILDF
دورکړل شوومعلوماتونه په استفادی سره یورسمي لست دټولو ولسوالیوترتیبل کړي.پدی پروسه کی باید دداخله چاروزارت سره تخنیکی مرسته وشي چي دغه مرسته عبارت ده دشهروالیو اوولایتي مقاماتوسره مشوری وشي خو البته دابايد دمرکزپه سطحه باندی اجراشي.
۹: دحکومت ددری ګونوقواوُپه منځ کی دکنترول اوارزونی دعدم موجودیت په هکله لاربښونی ته باید خاصه پاملرنه وشي. په څرګنده توګه یوخپلواک عمل، داساسي قانوني اصلاح ته به ضرورت اړوي چي دافغاني اداروڅخه منشه واخلي ترڅویوه شامله مشورتي پروسه تعقیب کړي.

دانتخاباتواداره:
۱۰: دانتخاباتواداره کومه چي بی طرفه اوخپلواکه وي دانتخاباتي پروسی لپاره ضروري ده. څومره چي زرکیدای شي باید دمقرریانوپه سستم کی تغیرات راشي دکوموپه نتیجه کی چي باید دانتخاباتودخپلواک کمیسیون کمشنران هم دهمدی اداری له خوا مقررشي نه دریيس جمهورلخوا.

۱۱: ترهغه پورې چې د انتخاباتودخپلواک کميسيون دمقرريانوپه سستم کې تغيرمنتځ ته راځي، د تنظيمونو نمايندګان اوقومي اوبين المللي نظاره چيانوته بايد ددی حق ورکړل شي چې دخپلواک کميسيون په ټولو مجلسونوکی حاضرشي.
۱۲: د انتخاباتودخپلواک کميسيون ټول کارکوونکوته اوپه خاصه توګه حقوقي(قانوني) ديپارتمنت ته اضافي تريننګونه ورکړل شي. علاوه دتخنيکي تريننګونوڅخه بايد دظرفيت سازۍ اقدامات دبشرپه اساسي حقوقوباندی کوم چې په انتخاباتوپورې اړه لري خاصه توجه وکړي.
۱۳: دانتخاباتوخپلواک کميسيون پدی مکلف دی چې دټولو هغوتيريو کوم چې خپله ددی کميسيون کارکوونکی پرې مرتکب شوي دی وڅيړي. اوپدی هکله بايد دشکاياتوکميسيون ته ضرورت پيدانشي چې دغه پروسه شروع کړي. دهرتيري لپاره سزاوښودل شي اوکوشش بايد وشي چې غيرمستقيم مسوليت هم وضع شي کوم چې دانتخاباتوپه قانون کی دانتخاباتي تيريوپه تعريف کی لست شوي دي.

<u>درايه اچوونکي ثبت کول:</u>

۱۴: ترڅوچې نوي اوتازه اقدامات دموجوده رايه اچوونکی راجسترکوم چې ددرغليوپه وړاندی يوښه مدافع اوديوی موثری انتخاباتي اداری لپاره يوه ښه کيلي هم ده صحيح والی ډاډمن نکړي نورانتخابات بايدترسره نشي. په لنډه موده کی او د۲۰۱۰کال د مقننه انتخاباتوپه نظرکی نيولوسره ،درايی ورکوونکوراجسترکيدای شي چې په قسمي ډول تهيه شي چې البته دغه قسمي تهيه به د۲۰۰۹ کال د مهمواوتازه دمه معلوماتو دجريان دتکميل په صورت کی چې په هغی کی غلطی اوڅوځله نوم ليکنی تری لری کيږي صورت نيسي. ددی لپاره چې يوشامل راجستر منځ ته راشي بايد يواضافي تازه دمه ثبت نام اجراشي ترڅو هغه خلک چې دهغوئ عمر داخري ثبت نام او دراتلونکو انتخاباتو په منځ کی بلوغ ته رسيږي پکی شامل شي.
۱۵: څومره زرچې ممکن وي بايد خاصی ترجيح له مخی درايه اچوونکوراجسترجوړشي. دمتخصصينويوه کميټه بايد درايه اچوونکودموجوده لستونوپه هکله راغونډشوی معلومات وارزوي ترڅوورڅخه ديومعتبر رايه اچوونکوراجسترجوړونه ډاډمنه کړي. دغه قسم خپلواکه ارزونه بايد داوښايي چې ايا دغه موجوده معلومات ددی لپاره بسنه کوي اوکه بايد پوره کوشش وشي چې درايه اچوونکودسره نوی ثبت وشي. نورمسايل چې هغه بايد ددی لپاره په نظرکی ونيول شي هغه د خلکواومحلي عنعناتواورواجونو دښځودصحيح ثبت کولوپه وړاندی حساسيت دی. دثبت نام په کارت کی دښځودعکس لګول اوددی لپاره ديوه ښه بديل دپيداکولولپاره هم بايد صحيح څيړنه وشي.

<u>دکانديد ثبت کول:</u>

۱۶: د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون او د ملکي کولواوپخلاينی دکميسيون DRC سره بايد تخنيکي مرسته وشي ترڅودواړه کميسيونونه يودبل سره د خلاصی اوموثری همکاری په هکله مطمين شي اودکانديدانودثبت پروسه دبی طرفه تطبيق اوواقعي معيارله مخی دکانديدانوارزونه پرمخ بوتلل شي. DRC بايد دنړيوالی ټولنی لخواپه مالي اوسياسي لحاظ حمايت شي. هرهغه معلومات چې دکانديدانودثبت پروسی په دوران کی دلوي څارنوالی لخوا دکانديدانودجنايي په فعاليتونو په هکله د DRC دفترته تسليميږي بايد ترجدي غورلاندی ونيول شي.
۱۷: نړيواله ټولنه بايددخلع سلاح کولوډپروسی سره پريمانه مرسته وکړي ترڅودغه په اطمناني ډول سره مخکی ولاړه شي. اوهغه افرادچې دناقانونه وسلوالوګروپونوسره اړيکی لري دسلاح ورکولوپروسی ته تيارشي اوسلاح وسپاري. پداسی ګروپونوباندی يولړسياسي فشارونه هم راوړل شي اوپدی برخه کی د۲۰۱۰ کال دانتخاباتوپه دوران کی هغه چاته چې هغوئ د خلع سلاح دپروګرام سره غاړه يوه کړی يوڅه امتيازات ورکړي.
۱۸: د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون بايد دخپلوصلاحيتونوپه چوکاټ کی دکانديدانودارزونی په پروسه کی برخه واخلي. پدی برخه کی بايد د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دملکي کولواوپخلاينی دکميسيون سره په ډيرې چټکتياسره رسمي اړيکی جوړی کړي ترڅوهغه لمړني درخواستونه چې دکانديدانولخوانه د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون ته تسليميږي په سمدستي ډول د DRC دتازه موجوده معلوماتوسره اود ناقانونه وسلوالوډلودمنحل کولوپروګرام دمعلوماتوسره وارزول شي. ددی کارپه واسطه به هغه خلک چې دناقانونه وسلوالوډلوسره اړيکی لري دکانديدانودلست څخه دهغوئ نومونه لرې شي اودغه لرې شوي کسان بايد سمدستي د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون لخواخبرشي چې هغوئ دکانديدانودلست څخه ويستل شوي دي اوولی ويستل شوي دي ترڅوکه دوئ دشکاياتوکميسيون د اخطارونو په وړاندی درېږي چې ځان ورته چمتوکړي.
۱۹: دشکاياتوکميسيون هم بايد پدی هکله فعال رول اداکړي. دابايد معلومه کړي چې ايا نوموړی شخص رشتيا هم د دناقانونه وسلوالوډلوسره داړيکودنه ساتلودموافقی سره موافق دی او کنه؟ که چيرې يوکانديد ووايي چې هغه خپله ناقانونه وسله هم تسليم کړيده او ددغووسلوالوډلوسره هم اړيکي نلري نوپدی صورت کی داد د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون مسوليت دی چې دملکي کولواوپخلاينی دکميسيون څخه پدی اړوند معلومات راجمع کړي ترڅو اصلي حقيقت څرګند شي.

<u>دانتخاباتودشکاياتوکميسيون:</u>

۲۰:دشکاياتو کميسيون بايد يوه دايمي اداره وي. هغه عمده رول چې ددغه کميسيون په واسطه دانتخاباتودمشروعيت څخه ددفاع په خاطرلوبول شو بايد وساتل شي. دغه کميسيون بايد د۲۰۱۰ دانتخاباتولپاره په کوم کی چې ددرغلی امکانات په نسبي ډول سره زياددي ښه تقويه شي.
۲۱: دشکاياتودکميسيون کارکوونکی بايد د ۲۰۱۰ کال دانتخاباتوڅخه مخکی ښه وروزل شي اوداسی لارښوونی ورته وشي چې دوئ په دغه راتلونکوانتخاباتوکی ددرغليودمخنيوي په وړاندی څومره مسوليت لري.

۲۲: دموجوده اوپاتی شوودرغليوپه هکله بايد دضرورت وړمرسته وشي ترڅو دغه درغلۍ ښه صحيح اوبشپړی پلټنی وشي. په خاص ډول هغه درغلۍ چی په هغه کی د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون کارکوونکی هم ښکيل وو. ددی پلټنوپايلی بايد د شکاياتوکميسيون ته په رسمي ډول وسپارل شي ترڅود د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دښکيلوکارکوونکوپه وړاندی لازم اقدامات پورته شي.
۲۳: د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون  بايد اداري، مالي اوتشکيل له پلوه خپلواکه وي. هغه مرستی چی دانتخاباتي پروګرامونوسره کيږي بايد دهغه مرستوسره چی د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون  سره کيږي توپيرشي. د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون  پيسی بايد د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون جداشي. که چيری يوپروګرام لکه د UNDPصبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه په خپل ځای پاتی شي  نوبايد دوه جداګانه کميټی تاسيس کړي ترڅو دواړو (د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون ) سره تخنيکی مرستی وکړي. اوسمهال په تيوری کی موجودی دي اماً په عملي ډګرکی د UNDPصبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه لخوا تراوسه پدی شکل ندي ترسره شوي. د د ټول ټاکنو شکايتونو کميسيون  په اړونده فيصلوکی بايدد د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون او UNDPصبا لپاره د ټاکنيزه او حقوقي وړتيا جوړونه  مامورين دخيل نه وي ځکه چی د دغه دواړو ارګانونونومامورين په بشپړډول د د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون حمايت کوي.

<u>رسنۍ :</u>
۲۴: دافغانستان دملي راديوتلويزيون عام الخدمه نشرات په خپلوټولوپروګرامونوکی بايد بی طرفه، افاقي، اومعلوماتو څخه غني کارکوونکي ولري. دانتخاباتي کمپاينوپه وخت کی بايد دملي راديوتلويزيون راپورونه متوازه اورشتيني وي چی دټولومقاماتوکمپايني فعاليتونه په يوبربل باندی دکوم امتيازڅخه بغير نشرته وسپاري.  شخصي رسنۍ هم بايد دشرايطو(بی طرفه اومناسب نشرات)سره سم ځان برابرکړي. په ټولوخبرونواوپه سياسي مباحثوکی دټولوسياسي تنظيمونودنمايندګانوسره يوشان چلند وکړي.
۲۵: دانتخاباتودرسنيوکميسيون بايد ددی صلاحيت ولري چی کوم راپورونه درسنيوپه واسطه دکميسيون څخه دباندی ويستل کيږي اودکميسيون د فيصلوسره موافقت نکوي دبنديزلاندی راولي. مقامات بايد دنوې رسنيودقانون د۴۳ مادی په اساس دانتخاباتودرسنيودکميسيون تبديلول په يودايمي ارګان باندی په نظرکی ونيسي چی پدی ډول ددی کاري ساحه به هم بيا عامه شي اودانتخاباتوپه وخت کی به يی وظايف اوصلاحيتونه مخصوص وي.
۲۶: دانتخاباتودرسنيودکميسيون اګاهي  اوبصيرت زيادکړل شي. داهغه وخت کيدای شي چی دغه کميسيون خپل ويب سايت ولري اودفعاليتونودترسره کولولپاره بايد يوباقاعده منظم دفترولري.
۲۷: تخنيکي مرسته بايد وړاندی شي ترڅودژورنالستانو، درسنيوچلوونکو، اوددولتي اوغيردولتي رسنيومديرانو مسلکي پوهه غښتلی شي خاصتاً پدی هکله چی دانتخاباتوپه وخت کی متوازنه اوصحيح معلومات وړاندی کړي. په ځانګړي ډول بايد هڅی وشي چی دساحوي رسنيودغړومسلکي پوهه زياده اوپياوړی شي.

<u>دښځوونډه اخستنه:</u>
۲۸: دد ټول ټاکنو خپلواک کميسيون  دجندر(جنسيت) يونټ بايد په خپل ستراتيژيک پلان کی لاندی نقاط ځای په ځای کړي: دښځوونډه درايه اچوونکوپه حيث، په رايه اچوونکومحلاتوکی دمامورينوپه حيث اوخپله دانتخاباتوپه دفاتروکی داداري کارکوونکوپه حيث. ددی نقاطوپه پلي کولوسره دغه يونټ دښځوونډه په انتخاباتوکی ډاډمنه کولای شي. درايه اچونی په محلاتو کی بايد دښځودتوظيف لپاره وخته کارشروع شي اوپدی هکله بايد دهغه موسساتوسره هم همغږي پيداشي چی دښځوکاري شبکی لري.
۲۹: ددی لپاره چی سړي دښځواوښځی دسړيوپه عوض په نوم ليکنه اورايه اچونی کی برخه وانخلي اوددی مخنيوي وشي يولړاقدامات بايد ترسره شي. پدی اقداماتوکی دانتخاباتودمامورينوصحيح اودقيقه روزنه وشي ترڅودغه کارته اجازه ورنکړي اوبل داچی دعاموخلکودپوهاوي لپاره چی داسی اعمال سرته ونه رسوي خاص مشورتي پروګرامونه ترتيب شي چی هغوی وهڅول شي هريويی په خپله درايی اچونی مرکزته لياړشي اورايه ورکړي. دښځودرايه اچونی محلاتولپاره بايد مناسب ځای تعين شي اوهمدارنګه پدغه محلاتوکی دښځينه مامورينوګمارل يقيني شي. دغه ټولی هڅی بايد د  د ټول ټاکنو خپلواک کميسيون دجندريونټ لخواترسره شي.
۳۰: په ولايتي شوراګانوکی دښځوسهميه کم ترکمه په خپل حال وساتل شي اويا هم تردی حده زياته شي. په پارلمان، ولايتي شوراګانو اودولسواليوپه شوراګانوکی دښځومعينه سلنه چی دقانون له مخی ٪۲۵ ده بايد دهيوادټولووګړوته په نشرورسيږي.
۳۱: په سياست کی فعالوښځوسره بايد مشوری وشي اودهغوی امنيت دنوم ليکنی اوکمپاين په وخت کی وارزول شي. دغه عمل بايد دداخله چارووزارت، دښځووزارت اودښځودنوراواړونده موسساتوپه منځ کی دهمغږۍ له مخی ترسره شي. دداخله چارووزارت لخوادښځولپاره دباډي ګاردانودورکولومسله هم بايد دقيقه وڅيړل شي. پدی اړونده موافق اقدامات دټول هيوادپه کچه عملي شي.

<u>دمدني ټولنو برخه اخستنه:</u>
۳۳: دداخلی نظارتي اداروظرفيت بايد لوړشي ترڅو هغوی ته لاره خلاصه شي چی دانتخاباتي دوری مکمله ارزونه وکړي اودخلکونظريات اوسپارښتنی دانتخاباتي پروسی دغښتلتيا اوسپيڅلتوب لپاره صادری کړي.هغه تخنيکي مرستندويه اِداری کوم چی دانتخاباتواِداری يانوروهغه اداروته مشوری ورکوي کوم چی د نظارتي ګروپونوپه واسطه ارزول کيږي بايد دهغه اِداروسره يی تميزوشي چی هغه نظارتي ګروپونوسره مرسته کوي.

<u>عامه پوهاوی:</u>

عامه پوهاوي پروګرامونه بايد په دوامدارډول سره مخکې ولاړشي او دښځوپه حقوقوباندی چی پدغه پروسه کی بايد برخه واخلي زيات تمرکزوکړي. دښځولپاره دعامه پوهاوي پروګرامونه بايد دټولوڅخه دمخه تاسيس شي او په فعاليت پيل وکړي. ددی لپاره بايددهغه موسساتودمهارتونوڅخه چی پدغه برخه کی ډيره تجربه لري بايد استفاده وکړي اوصرف درايه اچوونکوپه محدودمعلوماتوباندی اتکا ونکړي. دغه موسسات کولای شي چی دبی سوادئ دکچی اونوروچيلنجونوپه نظرکی نيولوسره ښځواونارينه وته دمشورواوتوصيوي پروګرامونوکی برخه واخلي. دموجوده عامه پوهاوي پروګرامونوداغيزمنتوب ارزونه هم بايد اجراشي.

<u>شميرنه اوجدول بندي:</u>

۳۵: شميرنه کيدای شي چی داريی اچونی څخه وروسته سمدستي شروع شي اګرکه ديوڅخه زيات انتخابات هم ترسره شوي وي. دغه کاربه دددرغلنی مخه ونيسي.

<u>ددرغلئ کشف اوکمول:</u>

ددرغليودکشف اوکمولولپاره بايد مفصل اواجباري قواعددانتخاباتي پروسی په شروع کی مهيا شي ترڅو انتخاباتي پرسونل، رايه اچوونکي، نظاره چيان اودکانديدانونمايندګان ورسره عادي شي اويوله بل سره ددی په تطبيق کی کمک وکړي. ددرغليولپاره دکشف اوکمولو موجوده اقدامات بايد په مکمله توګه عملي شي اودانتخاباتوخپلواک دفتر بايد ټول هغه مقررات اولمسوونکی نښی چی دنتايجومشکوک والي ته توجه اړوي اوجنجالي رايوصندقونودکره کتنی لپاره دنوروڅخه جداکوي بايد په عام ډول اعلان شي. هغه رازداري چی دانتخاباتوکميسيون داصولواولمسوونکونښوپه خاطريی په خپل ځان تحميل کړی اوپه اخرکی پريښودل شي په مشکوکوصندوقونواوپه هغه اقداماتوچی پدی هکله اخستل شوي دی داحساس وړ تشويش راولاړوي.
۳۷: ددرغليودکشف لپاره اقدامات بايد دغه لاندی انديښنی په نظرکی ولري:

ــ دتطبيق کولوفورمی اودرايه اچوونکولستونه هغه ښی وسيلی دي دکوموله مخی چی مونږکولای شودرغلي کمه کړو ځکه چی ددوئ له مخی مونږکولای شودرايوزيات شمير کشف کړو. اګرچی دادواړه د۲۰۰۹ کال په انتخاباتوکی موجودوو ليکن هغه درايه اچوونکواودرايودشميردمتقابلی څيړنی لپاره استعمال نشول. دتطبيق کولو فورمی اودرايه اچوونکولستونه بايد په راتلونکوانتخاباتوکی متقابله څيړنه و شي.
ـــ دحسابدهي لپاره بايد واضيح اواجباري قواعد دانتخاباتي پروسی په شروع کی په کارواچول شي ترڅوپه اخري پړاوکی دسمون ضرورت ونلري کوم چی عام خلک هم ورباند نه پوهيږي. حسابدهي د شميرنی يوه ديره دقيقه اوپه نښه شوی طريقه ده اوبايد دعامه خلکوترنفوذ لاندی وي اوپداسی طريقه بايد اجراشي چی درايه ورکوونکولپاره شفاف اوقابل فهم وي.
ــ دانتخاباتي پروسی په شروع کی بايد درايه اچونی دمحلاتواومراکزو شميراوموقعيت په نشرورسيږي. په شميريا موقعيت کی تغيربايد لمړئ بايد دعادلانه قضاوت له مخی قبول شي اوبيا سمدستي دوباره نشرشی. داددی مخه نيسي چی هيڅوک نشي کولای‌دهغه انتخاباتي موادوڅخه کوم چی ديوه رايه اچونی محل لپاره مختص شوي کوم چی دسره خلاص شوی ندی استفاده وکړي او په خپل سرصندقونه درايوڅخه ډک کړي.
ـــ واضيح او اجباري قواعد بايد دهغه انتخاباتي موادو دډاډمن تعقيب په خاطر هم وضع شي کوم چی ندي استعمال شوي. ددی لپاره چی ددرغلئ مخه ونيول شي نوبايد صرف هغه رايی اچونی محلاتوته انتخاباتي توکي وليږل شي کوم چی په رسمي توګه په لست کی موجودوي.